بسم الله الرحمن الرحیم

# تحلیل

**څېړنيزه او علمي شپږ میاشتنۍ مجله**

اوومه ګڼه، سرطان - ۱۳۹۹ هـ ش

Issue no 7th | – July 2020

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# تحلیل

**مجله تحقیقی مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی**


## رئیس تحریر

نصیر احمد نویدی

رئیس مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

## مدیر تحریر

احمد بلال خلیل

محقق مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

## هیئت تحریر

- دکتور صفت الله قانت
  *کارشناس امور اجتماعی و تاریخ*
- دکتور مصباح الله عبدالباقی
  *رئیس پوهنتون سلام - کابل*
- استاذ محمد زمان مزمل
  *نویسنده و کارشناس امور سیاسی*
- مطیع الله تایب
  *کارمند شبکهء جهانی الجزیره*
- پوهندوی دکتور عبدالصبور فخری
  *عضو کادر علمی فاکولتهٔ زبان و ادبیات پوهنتون کابل*
- داکتر وحیدالله مصلح
  *عضو مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی*
- محمد مدثر اسلامی
  *کارشناس امور اجتماعی و تعلیمی*
- معاون سر محقق؛ عبدالرحمان حکیمزاد
  *عضو اکادمی علوم افغانستان*
- اجمل جلال
  *عضو مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی*

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د مرکز پېژندنه

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز يو غير انتفاعي، غير حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې تأسيس شوی دی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو ارزولو او د هغو د پراختيا لپاره فعاليت کوي. د مرکز يوه موخه د پاليسۍ او څېړنو ترمنځ واټن کمول دي.

د نورو معلوماتو لپاره د مرکز وېبپاڼه وګورئ (www.csrskabul.com)

د دغه مجلې ټول حقوق © ۱۳۹۹ له ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز سره خوندي دي.

له سريزې پرته د نورو مطالبو سپيناوی په ليکوالانو پورې اړه لري.

تحليل مجلې ته د مقالو/ليکنو رالېږلو برېښناليکونه:
info@csrskabul.com
abilalnajeeb@gmail.com

**موبايل:**
+93 (0) 0731112191

## په "تحليل" څېړنيزه مجله کې د څېړنو د خپراوي مقررات

۱- مجله په سياسي، ټولنيزو، فرهنګي، اقتصادي، او بېلابېلو علمي ډګرونو پورې تړلې، هغه څېړنيزې او علمي ليکنې خپروي، چې په منهجي لحاظ سمې او له علمي او فکري لوري اصالت ولري. (له بل چا څخه نه وي اخېستل شوې). ځای پرځای ماخذونه پکې په لمن‌ليکونو کې په نښه شوي وي.

۲- مجله هغه ليکنې خپروي، چې مخکې د کتاب په بڼه او يا بل کوم نشراتي ارګان له‌خوا نه وي خپرې شوې. د دغسې ليکنو د خپراوي او يا نه خپراوي، په اړه وروستۍ پرېکړه کتنپلاوي ډله کوي.

۳- د تحقيقي ليکنو د کليمو شمېر بايد، له ۵ زرو کم او تر ۱۵ زرو کليمو زيات نه وي، له دې اندازې ډېروالی يا کموالی، د تحرير د مدير موافقې ته اړتيا لري.

۴- د ليکنې لغوي سمون د ليکوال دنده ده او وروستی سمون يې د مجلې د ادارې له‌خوا کېږي.

۵- ليکنه په هغه صورت کې اخېستل کېږي، چې ظاهري بڼه يې سمه او لومړني شرطونه يې، پوره کړي وي.

۶- پر هرې څېړنيزې ليکنې، د مجلې کتنپلاوې ډله د تحکيم پرېکړه کوي.

۷- که ليکنه د خپراوي وړ وګڼل شوه او څه سمونې پکې مطلوبې وي، نو د سمونو د ترسره کولو په موخه، ليکوال ته لېږل کېږي او يا يې موافقه غوښتل کېږي.

۸- ليکنه تر سمون وروسته، د برېښناليک له لارې د مجلې دفتر ته سپارل کېږي.

۹- هغه بحثونه، چې په مجله کې له خپراوي پاتې شي، بېرته يې ليکوال ته سپارل د مجلې د دفتر دنده نه ده.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# فهرست

**سخن مرکز**

نصیر احمد نویدی

**سریزه**

احمد بلال خلیل

## افغانستان پېژندنه

**معارف افغانستان؛ چالش ها و راه حل ها**

**عائشه محمدی و عکاشه نثار**

**د افغانستان د برېښنا او مخابراتو د سکتورونو رېګولېشن؛ یوه پرتله**

**محسن امین**

**د افغانستان–ایران اړیکې او د «اوبو سیاست»**

**حکمت الله ځلاند**

**ارزیابی اقدامات حکومت وحدت ملی افغانستان در مبارزه با فساد اداری**

**اجمل جلال**

**د ځوانۍ لپاره د عمر تعین د شریعت او معاصرو قوانینو په رڼا کې**

**دوکتور رفیع الله عطاء**

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# سخن مرکز

مطالب مربوط به شماره 7 ژورنال تحلیل در ماه حوت 1398 ه ش تکمیل و آماده ی چاپ بود. هنوز تیم تخنیکی مرکز مطالعات از پروسه ی بازبینی و دیزاین فراغت نیافته بود که متأسفانه وبای کرونا و به تعقیب آن نافذ شدن شرائط قرنطین در شهر کابل، چاپ خانه ها از کار باز ماند و کار چاپ ژورنال هم با ستکتگی مواجه گردید. تا اینکه هیئت اداری مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی CSRS در نشست آنلاین ماه جوزای خود فیصله نمود تا با در نظر داشت شرائط قرنطینه، این بار ژورنال تحلیل را به طور استثناء به شکل دیجیتال به نشر برساند.

با استفاده از فرصت از تمام محقیقین و نویسندگان محترمی که لطف نموده نوشته های شان را بخاطر نشر در ژورنال تحلیل در اختیار ما گذاشته اند؛ یکبار دیگر اظهار سپاس و امتنان نموده از همه پوزش می طلبم که بخاطر ظروف بیرون از اراده، در چاپ نشریه تأخیر صورت گرفت. امیدواریم شماره ی بعدی ژورنال به همکاری محققان محترم در وقت معین آن، بدون معطلی و تأخیر به نشر برسد.

امیدواریم مطالب این شماره ی ژورنال تحلیل، عطش پژوهش گران و اهل علم را سیراب نموده مراجع پالیسی ساز را در روند پالیسی سازی بهتر برای آینده ی کشور، یاری رساند.

به آرزوی نجات کامل جهان از شر وبای کرونا و به امید تحقق صلح و ثبات در وطن عزیز ما افغانستان.

ومن الله التوفیق

نصیراحمد نویدی

رئیس مرکز

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د مدیر سریزه

د ۲۰۲۰ کال د ډېرو لپاره نا اټکلېدونکی و. هېڅ چا هم نه وه پټېیلې، چې نړۍ به د کورونا وباء له کبله دومره متضرره کېږي څومره چې وځپل شوه او نه هم چا داسې انګېرله چې د افغان طالبانو او امریکا ترمنځ به د پټو دروازو تر شا د خبرو اترو له اوږدو سلسلو وروسته د دوی ترمنځ په افغانستان کې د سولې راوستلو په تړاو تړون لاسلیک کېږي. خو دا هغه څه و چې پېښ شول.

**د کورونا وباء**

د چین په وهان ښار کې د کورونا په نامه یو نوی مرض له ځناورو څخه انسان ته خپور شو او اوسمهال یې نه دا چې نړۍ په خپلو منګولو کې نیولې بلکې له حرکته یې هم غورځولې ده. دې نوې وباء له ځان سره د وژلو، قرنطینه، او اقتصادي تاوانونو پرته یو شمېر سازشي نظریو ته هم لاره پرانیسته. له پرمختللو ټولنو نیولې تر پرمختلونکو ټولنو پورې به دغه ویروس په دومره سرعت نه وي خپور شوی لکه څومره چې یې سازشي نظریو د خلګو اذهان اغېزمن کړي دي. دا په خپله ښيي، چې موږ د ویروس په مقابل کې د دفاعي مقاومت له لوړولو څخه ډېر د سازشي نظریو پر وړاندې مقاومت ته هم اړتیا لرو. هو هغه مقاومت چې د ریشنلیزم په نامه پېژندل کېږي.

په بل اړخ کې؛ د کورونا وباء نړیوال نظم تر ګواښ لاندې نیولی دی. د نړیوالو اړیکو چارپوهان او تیوریسینان د کورونا وباء له ختمېدو وروسته نړۍ د کورونا وباء څخه له مخکینۍ نړۍ څخه بېله ګڼي. دا چې دغه وباء به په راتلونکي کې د نړیوالو ترمنځ همکاري زیاته او د امنیت فلسفه به له خپلې کلاسیکي نظامي تعریف څخه رابهره کړي و کنه راتلونکی به یې ځواب کړي؛ خو یو څه چې د دې وباء پرمهال څرګنده شوه، هغه دا چې امریکا د اېبولا مرض پرمهال چې څرنګه نړۍ په خپلې نوښتګرې مشرۍ د همکارۍ لپاره راټوله کړې وه او په بریالیتوب یې ورسره مبارزه وکړه هغه ډول یې د کورونا وباء پرضد نوښتګره مشري او موثره مبارزه ونشوای کړای او داسې یې د امریکا مشري تر سوال لاندې ونیوله. د امریکا له خوا د کورونا پرضد له مشرۍ او مسؤلیت څخه تېښته، د امریکا او اېتلافیانو ترمنځ یې واټن نور هم زیات کړ. هغه هم په داسې مهال چې د امریکا اېتلافي هېوادونه (اروپا) له چین او ایران وروسته په دویم قدم کې سخته وځپل شوه او هلته د ماسکونو او مصنوعي ځاه ورکولو ماشینرۍ (وینټیلیټرز) اړتیا حبس کېده. چین دغه تشه محسوسه کړه او دا چې په تېر کې ډېرۍ هېوادونو او لویدیځ د دې توکو په تړاو پر چین متکي وو د چین لپاره یې لاره نوره هم هواره کړه. همدا لامل و چې چین څه ناڅه له یو شمېر آسیایي، افریقایي او اروپایي هېوادونو سره مرستې وکړې او هڅه یې وکړه چې د کورونا پرضد د نړیوالې مشرۍ تشه ډکه کړي. همدا لامل و، چې د ایټالیې ولسمشر وویل: موږ له اروپایي ټولنې تمه شکېدلې او چین ته سترګې په لار یو. دا چې په نړیواله سوداګرۍ کې به

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د نسبي برترۍ او يا مطلقې برترۍ تيورۍ پرځای پاتې شي او يا به هېوادونه په هرې برخه کې د خوداکتفايۍ پر لور بېرته وروګرځي يو بېل بحث دی او په راتلونکي کې به د زبرځواکونو پالیسي جوړونکي اغېزمن کړي.

د امنيت د پراخې او هر اړخيزې فلسفې اړتيا بل هغه څه دی، چې زبرځواکونه او واړه هېوادونه به ورته لا متوجه کړي. د ۱۹۸۰ لسيزې په پای کې، هندي امرت سينها، چې په اقتصاد کې يې د خپلو څېړنو له لارې د نوبل جايزه وګټله، او د امنيت او پرمختګ تعريف په پراخولو کې يې رول ولوباوه. وروسته، پاکستاني اقتصاد پوه محبوب الحق د همدې هندي اقتصاد پوه په تعقيب د ملګرو ملتونو د پرمختيا پروګرام لپاره د انساني پرمختګ انډکس جوړ کړ او پرمختګ يې يوازې د اقتصادي ودې يا هم د في کس عايد له زياتېدو سره ونه تاړه بلکې په دې کې يې ټولنيز او روغتيايي شاخصونه هم دننه کړ. همهاله، د نړيوالو اړيکو يو بل تيوريسن بېري بوزان هم د امنيت فلسفه له روايتي فلسفې څخه چې يوازې يې پر نظامي امنيت ټينګار کاوه څخه رابهره کړه او په دې کې يې د نورو په ګډون چاپيريالي، ټولنيز او روغتيايي امنيت هم ورګډ کړ. دا چې په نړۍ کې به د کورونا وباء څومره هېوادونه اړ کړي، چې د روايتي نظامي امنيت وراخوا به نورو نارواتي امنيت ته څومره پاملرنه وکړي د ډېر بحث وړ ده؛ خو يو څه چې له اوسنيو او تېرو څمکنيو حقايقو برسېره ده، چې نړيوال سياست به په لويو او امنيتي قضاياوو کې همداسې تر ډېره د رياليزم له سياست څخه اغېزمن وي (په ډېرو وړو او نورو غېر امنيتي برخو کې به له لېبرالېزم اغېزمن کېږي) او ډېره ستونزمنه ده چې زبرځواکونه او نور هغه هېوادونو چې له محسوسو امنيتي ګواښونو سره مواجه وي د هغوی پاملرنه د وسايلو په کمښت کې له نظامي امنيتي تعريف څخه نارواتي امنيتي تعريف ته واوړي؛ ځکه انساني فطرت د نالمس کېدونکو ګواښونو (لکه د کورونا وايروس) په پرتله تر ډېره له لمس کېدونکو ګواښونو (لکه جګړه، چاودنې او تروريستي پېښې) وېره لري او ډېرې مهال همدا لمس کېدونکي ګواښونه جدي نيسي.

**«لويديز کمېدنه»**

په ۲۰۲۰ کال کې يوې بلې موضوع چې د لويديځو پالیسي جوړونکي يې اغېزمن کړي او موږ ورته پورته هم اشاره وکړه هغه د امريکا او ائتلافي هېوادونو ترمنځ مخ پر زياتېدونکي واټن ده. له امريکا پرته په نورو لويديځو هېوادونو کې دا ډول جدي اندېښنې ځکه سر راپورته کوي، چې د ډونلډ ټرمپ تر ولسمشرۍ لاندې امريکا د لويديځ په امنيت کې لېوالتيا نه اخلي. ځکه په همدې تړاو د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پومپيو د ۲۰۱۹ کال په ۱٦ فبرورۍ ويلي و:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

«موږ د لویدیځ د دفاع تضمین نه شو کولای که چېرې زموږ ملګري (ایتلافیان) پر ختیځ تکیه کوي». دا چې له ختیځ څخه معنی دلته له چین او روسیې سره د اروپا نږدې کېدونکي اړیکې مراد دي او که د ختیځ ارزښتونه؛ تر ډېره معلومه نه ده. خو برسېرن نظرونه ښیي، چې امریکا به له اروپا سره د چین نږدې کېدونکي روابط او د هوواوی G5 ټکنالوژۍ کارول او د روسیې پر غازو د اروپایانو تکیه مرادوي. په ډېره لېوالتیا سره، د ۲۰۲۰ کال په دویمه میاشت کې، د جرمني میونښ امنیتي کنفرانس ټول همدې موضوع ته ځانګړی شوی و او د کنفرانس عنوان و: «لویدیز کمېدنه» ( .(Westlessnessد دې امنیتي کنفرانس د چمتوکوونکو په آند، لویدیځ له دوو ډولو ننګونو سره مخ دی، چې دا ننګونې بیا داخلي او بهرني دي. په داخلي ننګونه کې، دوی د «لویدیځ» فلسفې له چاودلو اندېښنه لري؛ ځکه د دوی په اند د لویدیځ فلسفه تر ډېره له لېبرالې ډیموکراسۍ، انساني حقونو، آزاد مارکېټ او په نړیوالو انستیتونو کې له نړیوالې همکارۍ څخه جوړه بولي او دغو ارزښتونو ته ګواښ بیا تر ډېره د لویدیځ دننه پاپولیزم او پاپولیستي خوځښتونو او د یو شمېر سپین پوستو نژادي تبعیض بولي. په بهرنۍ ننګونه کې؛ د نړیوال لېبرال نظم ځپل کېدل ګڼي، په نورو هېوادونو کې د بشري لاسوهنو تر نامه لاندې کمې مداخلې بولي ځکه د دوی په آند د لویدیځ دننه د لویدیځ ارزښتونو بحران د دې باعث شوي چې په بهرنۍ نړۍ کې خونړۍ او خشونت آمیزه بڼه لري. دا چې نړۍ به د لویدیځ د بشري لاسوهنې ( (Human Interventionیا د خوندیتوب مسؤلیت ( (Responsibility to Protectله کبله ډېره سوله ییزه او باامنه وي، که له دې پرته؛ ډېره جنجالي او د بحث وړ قضیه ده؛ ځکه په بوسنیا او هریګزونیا کې؛ د لویدیځ دې تګلارې مثبته پایله ورکړې وه. خو په عراق، لیبیا او سوریه کې یې پایلې تر ډېره مثبتې راونه وتلې، او یو بحران پر بل ناوړه بحران پښه واړوله. د دې ترڅنګ؛ د چین له خوا د لویدیځ د نړیوال لېبرال نظام د یو شمېر نړیوالو انستیتونو په مقابل کې د یو شمېر متبادلو انستیتونو جوړونه بل هغه څه دی، چې دوی یې خپل نظم ته ګواښ بولي. دا چې د نړۍ یو شمېر هېوادونو، سیمو او ستونزو په تړاو د دوی څه نظرونه وو، له عنوانونو یې اندېښنې څرګندې برېښي. د بېلګې په توګه:

د امریکا متحده ایالات؛ وېشلي به دربېږو؟

چین؛ لاسوهونکی سلطنت

روسیه؛ تېر ایستونکی دولت

اروپا؛ د اروپایي ستوري مسابقه

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**د امریکا-چین سیالۍ له کبله ویشلې نړۍ**

ننۍ نړۍ او راتلونکو څو لسیزونو کې به د امریکا او چین ترمنځ سیالي نوره هم ارتېږي او د ډېری هېوادونو بهرنۍ چارې به اغېزمنې کړي. د امریکا او چین ترمنځ ننۍ سیالي همغه د پخواني یوناني مورخ په توسیدیدیز دام کې په ښه توگه خلاصه کېږي، کله چې هغه د پنوپولیسین جگړې په تړاو ولیکل، چې د ایتهنز راپورته کېدنې په سپارټا کې اندېښنې وپارولې. همدا لامل دی، چې ډېری مهال د راپورته کېدونکي ځواک او پرځای ځواک ترمنځ سیالي تر ډېره پر جگړو بدلون موندلی دی. گراهم ایلیسن چې د هارورډ پوهنتون استاد دی او د توسیدیدیز دام اصطلاح اختراع کوونکی دی، په خپل کتاب کې له ۱۵۰۰ څخه تر اوسه دا ډول قضیې څېړلي او دې پایلې ته رسیدلی چې له ۱۶ بېلگو څخه یوازې ۱۲ د راپورته کېدونکي ځواک او پرځای ځواک ترمنځ پر جگړو اوښتې دي (له څلورو استثناوو څخه یوه مشهوره استثنی د امریکا او انگلستان ده، چې کله امریکا د انگلستان مقام وننگاوه نو دا پر جگړې وانهووښت). خو پوښتنه زېږي، چې ولې امریکا د ۱۹۷۰مې لسیزې راپدیخوا، په نړۍ کې د چین د ادغام او په راپورته کېدنه کې رول ولوباوه. یو شمېر شنونکي، دا د سړې جگړې پرمهال د کمونیستي بلاک دننه د چین او شوروي اتحاد رقابت ته گوتڅنډنه کوي چې امریکا له دې حالت گټه واخیستله څو شوروي اتحاد نور هم منزوي او مهار کړي. د امریکایي ولسمشر ډونلډ ټرمپ یو مشاور چې په امریکا کې د چین پېژندونکي په توگه نومیالی دی په ۲۰۱۶ کال کې په دې تړاو د ۱۰۰ کلونو ځغاستنې تر نامه لاندې کتاب ولیکه او پکې یې استدلال وکړ چې د چین له راپورته کولو د امریکا یوه موخه دا وه چې چین به په تدریجي توگه د مارکېټ اقتصاد او لېبرالي ډیموکراسۍ پر لور سوق کړي او په دا ډول به په نړېوال لېبرال نظم کې مدغم شي. خو د ده په اند د امریکا دا ډول انگېرنې غلطې راوختلې. ځکه چین په نړیواله کچه د امریکا لرې کول او پرځای یې د ځان میخولو پټ پلان لري. هر څه چې وي وي به؛ خو چین اوسمهال په سمه معنی د امریکا رقیب دی او امریکا هم اوس د چین له راپورته کېدا وېره لري.

**افغان حکومت؛ د امنیت په تلاش کې**

په تاریخي توگه د افغانستان بهرنی سیاست تر ډېره د بهرنیو مرستو پر راټولونې، د نړیوال سیاست په قطبي کېدو کې پر ناپېیلتوب او له ټولو اړخونو څخه پر گټه اخیستنې راڅرخېږي. دا تر ډېره له دې ځایه هم منشې اخلي، چې په افغانستان کې له یو شمېر حکومتونو سره دا ډول فکر وه چې هېواد باید د زبرځواکونو له سیالۍ څخه وژغورل شي او ترڅنگ یې د حکومت د خوندي کولو او بقا خبره وه. دا ډول چلند د ۱۹مې پېړۍ په لویه لوبه او ۲۰مې پېړۍ په سړه جگړه کې وشول او اوس هم په ۲۱مه پېړۍ کې ترسره کېږي (د ۲۱مې پېړۍ پېل له تېرو پېړیو سره یو توپیر درلود چې دغه مهال نړۍ یو قطبي وه او د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې حکومت هم له همدې قطب سره پرمخ ولاړل). اوسنی (۲۰۲۰) حالت هم کوم استثنایي حالت نه دی. په دې وخت کې هم، افغانستان د بهرنیو مرستو په

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

تلاش کې دی څو خپل امنیتي لګښتونه پوره کړي او پای له ۲۰۰۱ کال راهیسې د جوړ شوي نظام بقا پر داسې مهال تضمین کړي، چې امریکا او طالبانو په افغانستان کې د سولې راوستلو په تړاو تړون لاسلیک کړی او له مخې به یې امریکا تر ۱۴ میاشتو پورې په بشپړه توګه له افغانستانه ووځي.

د ملي یووالي حکومت پرمهال د افغان حکومت امنیتي تګلاره تر ډېره له افغان طالبانو سره پر جګړې منحصره وه او له اوله د افغان ولسمشر اشرف غني پالیسي په لاندې ټکو کې راټوله وه:

لومړی؛ له لویدیځو هېوادونو سره د اړیکو بیا جوړونه: د حامد کرزي په دویمه دوره کې چې د افغان حکومت او امریکا ترمنځ اړیکې خرابې شوې وې د ملي یووالي حکومت د دورې په لومړیو کې د دا ډول اړیکو بیا رغښتنه وشوه. د حکومت ۲۴ ساعتونو دننه له امریکا او ناټو سره امنیتي تړونونه لاسلیک شول او بهرنیو ځواکونو ته د شپنیو عملیاتو اجازه بیا ورکړل شوه. د دې ترڅنګ افغان حکومت په دې ټوله دوره کې د بهرنیانو له خوا د ملکیانو په نښه کولو هم خاموش پاتې شو.

دویم؛ د تروریزم پر وړاندې د سیمه‌ییزې اجماع رامنځته کول: له امریکا سره د اړیکو د بیا جوړونې پسې سمدستي، افغان ولسمشر اشرف غني په خپل نارسمي سفر سعودي ته ولاړ او بیا په خپل لومړني رسمي سفر چین ته ولاړ. ورپسې افغان ولسمشر پاکستان، ایران، ترکمنستان او ان روسیې ته هم سفرونه وکړل څو د تروریزم پرضد یوه سیمه‌ییزه اجماع رامنځته کړي. له دې دریځ څخه د افغان حکومت تمه وه، چې پاکستان به وهڅوي څو په افغان سوله کې رینښتینی او صادقه رول ولوبوي. د سیمې هېوادونو ته وروښیي چې هېواد کې روانه جګړه د سیمې په خېر نه ده او همدغه راز د سیمې هېوادونه له افغان دولت سره په امنیتي برخو کې همکارۍ ته هم جلب کړي.

دریم؛ د جګړې د دوام په تړاو مذهبي فتوا د افغان طالبانو پرضد استعمالول: افغان حکومت څو ځله هڅه وکړه چې په هېواد کې روانه جګړه له مذهبي اړخه منزوي کړي. په دې تړاو یې په کابل کې د علماوو یو کنفرانس راوباله او دغه راز په اندونیزیا کې یې هم د علماوو یو کنفرانس ته زمینه جوړه کړه.

خو افغان طالبان د ملي یووالي حکومت د دې ستراتېژۍ پر وړاندې چوپ پاتې نه شو. د امنیتي تړون د لاسلیکولو په لومړنیو دوولسو ورځو کې په هېواد کې ۹ زوروړې چاودنې وشوې (افغان طالبانو د یو شمېر چاودنو مسؤلیت واخیست او د نورو یې رد کړ). ترڅنګ یې د اسلامي همکارۍ سازمان د علماوو غونډه هم رد کړه چې له کبله یې بیا هغه مهال دا ډول جوړېدونکې ناسته ترسره نه شوه او دغه راز د اشرف غني د سیمې ییزې اجماع پرضد افغان طالبانو د سیمې له هېوادونو په تېره بیا ایران، چین او روسیې سره خپلې اړیکې وساتلې.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په بل اړخ کې، له کله چې د افغان طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې د راوستلو په تړاو د تړون نهایي کولو پر لور روان و، نو له همغه مهاله راهیسې د اشرف غني تر ولسمشرۍ لاندې د افغان حکومت د امنیت په تړاو پالیسي په لاندې مواردو کې خلاصه کېدای شي:

لومړی؛ په امنیتي ځواکونو بیا سمبالول؛ کې پر ځوانانو او په تېره بیا پر ځانګړیو ځواکونو او هوایي ځواکونو ډېرې اتکاء. له تېرو کلونو راهیسې تر اوسه د کماندو ځواکونو شمېره دوه چنده شوې او د هوایي ځواک شمېره هم درې چنده شوې. له دوو زرو زیات جنرالان او ډګروالان تقاعد شوي دي او د امنیتي ځواکونو رهبري تر ډېره د هغو ځوانانو په لاس کې لویدلې، چې خپل ماشومتوب یې په افغان جهاد او کورنۍ جګړو او بلوغ یې له ۲۰۰۱ کال وروسته نظام کې تېر شوی دی.

دویم؛ د جګړې لګښتونه کمول او پر داخلي عوایدو تکیه؛ له کله چې د امریکا ولسمشر ټرمپ په افغانستان کې د امریکا پر جنګي ستراتېژۍ نیوکې پیل کړې، له همغه مهاله راهیسې افغان حکومت هڅه کړې، څو د جګړې لګښتونو کمولو پر طرحو کار وکړي او څه ناڅه د ټرامپ اداره اغېزمنه کړي. د دې ترڅنګ، دا چې په امنیتي برخه کې، پر داخلي عوایدو هم تکیه وکړي. د افغانستان د امنیتي ځواکونو د ۵ میلیاردو ډالرو له لګښتونو څخه ۵۰۰ میلیون ډالر لګښتونه افغان حکومت په تېرو کلونو کې ورکړي؛ نور یو میلیارډ ډالر د ناټو په تېره بیا د اروپایي ټولنې او پاتې نور د امریکا له خوا ورکول کېږي. په تېرو څو میاشتو کې، چې کله د امریکا له خوا پر ولسمشر اشرف غني د امنیتي یو میلیارډ ډالرو مرستې له یو ټولشموله حکومت جوړولو سره ونښلول شو، افغان حکومت هڅه وکړه، چې له خپلې بودیجې څخه یو میلیارډ ډالر افغان امنیتي ځواکونو ته ځانګړې کړي.

دریېیم؛ د امنیتي لګښتونو په تړاو د مالي مرستو لټون؛ د قطر او سعودي-عربي متحده امارات ترمنځ د سیالۍ له کبله او له سعودي-اماراتو څخه د قطر پر لور د افغان طالبانو تمایل هغه څه و چې افغان حکومت یې له سعودي او عربي متحده اماراتو سره د پخوانیو حکومتونو په پرتله د ملي یووالي حکومت پرمهال ډېر نږدې کړ. د دې ترڅنګ، په سعودي کې د محمد بن سلمان او د محمد بن سلمان د مډرنېزم پدیدې راتګ هم سعودي-امارات او افغان حکومت پر یوې خوا کړل. د یو امریکایي امنیتي مسؤل په حواله چې د امریکا کانګرس ته یې د افغانستان د امنیتي حالت په تړاو وینا واوروله، افغان حکومت له دغوو دوو هېوادونو سره پر دې خبرې کوي، څو په مالي توګه له افغان امنیتي ځواکونو څخه ملاتړ وکړي. اوس چې افغان طالبانو او امریکا له افغانستانه د خپلو پوځیانو د ویستلو په تړاو تړون لاسلیک کړی، شونې ده، چې افغان حکومت به د مالي مرستو په تړاو خپل لاسونه نورو هېوادونو ته هم وغځوي، په تېره بیا همدې خلیج چې یادونه یې وشوه او اروپایي ټولنې ته، چې په ټوله کې یې له امریکا سره اختلافات رامنځته شوي او په افغانستان کې هم د امریکا له نوې تګلارې سره اختلاف لري.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**د افغانستان پورتنۍ امنيتي پاليسي له يو شمېر ننګونو سره هم مخ ده:**

لومړی؛ دا چې په افغانستان کې روانه شل کلنه جګړه د ټکنالوژۍ او هوايي ځواک پرمټ قابو نه شوه آيا ممکنه ده چې د امنيتي ځواکونو د ځوانولو او د کمانډو او هوايي ځواک په زياتولو سره به د جګړې په ډګر کې څه لاسته راوړنې ترلاسه کړای شي؟ شايد د افغان حکومت

دويم؛ دا چې د کورونا وباء او تېلو نرخونه وليدلي نو دې حالت د خليجي هېوادونو او لويديځ اقتصاد هم ځپلی دی. اوس ممکنه ده چې په داسې يو وضعيت کې به دغه هېوادونه دې ته چمتو وي، چې په راتلونکي کې هم له افغان امنيتي ځواکونو ملاتړ وکړي؟ د افغان حکومت لپاره يوه بله جدي ننګونه ده.

درېيم؛ د کورونا وباء د افغانستان اقتصاد هم اغېزمن کړی او دا تر ډېره ناممکنه برېښي، چې د افغان امنيتي ځواکونو لګښتونه له دې ځايه پوره کړای شي.

اوسنيو حالاتو ته په کتلو، موږ پتېيلی شو، چې افغان حکومت شايد تر يو کال پورې نور هم په دې موخه صبر شي، چې يا په امريکا کې د ادارې بدلون رامنځته شي او يا هم د ټرمپ له ولسمشرېدو وروسته د افغانستان په تړاو د هغه تګلاره بدلون ومومي. له دې وړاندې، د افغانستان په بهرني او امنيتي تګلارو کې د يوه ژور بدلون تمه له امکانه لرې برېښي.

**د سولې بين الافغاني خبرې اترې**

په افغانستان کې د دوامداره سولې او امنيت لپاره يوازينۍ لاره د بين الافغاني سولې خبرې اترې دي، چې بايد د درېيو ډولو لوريو ترمنځ ترسره شي: افغان طالبان، افغان حکومت او غير طالب او غير حکومتي ډلې او ملي شخصيتونه. دا خبرې اترې هغه مهال بريالۍ کېدای شي، که د افغان طالبانو او افغان حکومت په تړاو انګېرنې بدلون ومومي. که څه هم پر افغان طالبانو او افغان حکومت د پاکستان او امريکا اغېزې جوتې دي خو بيا هم، نه هم افغان حکومت د امريکا لاسپوڅی دی او نه هم افغان طالبان د پاکستان.

د افغان تاريخ د وروستيو لسيزو لوست هم همدا دی، چې هر مهال د سولې بين الافغاني خبرې اترې ناکامې شوي هېواد يې د يو نوي بحران پر لوري بېولی دی او جګړه پکې تم شوې نه ده. له بده مرغه د تېرو څلورو لسيزو په تاريخ کې يوازې په يوه موقع کې واک په سوله ييزه توګه بل ته انتقال شوی دی. په نورو حالاتو کې واک يا د کودتاوو له لارې (د سرطان او ثور کودتاوې) او يا هم د بهرنيو په فشار بل ته سپارل شوی دی (له ببرک کارمل څخه ډاکتر نجيب ته د واک انتقال) او يا هم د جګړو له لارې ترلاسه شوی دی (افغان مجاهدين او افغان طالبان). د دې ترڅنګ، له افغانستانه د شورويانو له وتلو وروسته، د مجاهدينو خپل منځي جګړې او د ډاکټر نجيب سره د سولې خبرو اترو نه

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

شتون هېواد د خونړۍ کورنۍ جګړې خولې ته ټېل واهه. دا ځل یوازینی هغه څه چې په هېواد کې دوامداره سوله او امنیت ټینګولای شي هغه د سولې بین الافغاني خبرې اترې دي.

**د تحلیل اوسنۍ ګڼه؛ مننه او درناوی**

دکرونا په وجه قرنطین او اوسنی وضعیت ته په کتو سره، د تحلیل مجلې اوسنی ګڼه په استثنایي توګه په ډیجیټل بڼه خپروو. په دې ګڼه کې ټولې ( ) مقالې د بهرني سیاست څخه نیولې تر کورني سیاست، ښه حکومتولۍ، تاریخ او سیاسي-نظامي ډلو پورې راغلي دي. په دې ګڼه کې له دې جملې څخه ( ) داسې مقالې هم شته دي چې د نړیوالو اړیکو او سیاسي حقوقو د ماسترۍ محصلینو زده کړیالانو لیکلي. موږ دا مقالې په دې موخه خپروو، څو په خپلو ملي ژبو کې د خپلو زده کړیالانو ترمنځ د نړیوال سیاست په تړاو څېړنې او تحلیلونه دود کړو.

په پای کې موږ له ټولو هغو لیکوالانو او څېړونکو د زړه له کومې مننه کوو، چې د تحلیل ژورنال اوسنۍ ګڼه یې په خپلو ارزښتناکو لیکنو ونازوله، او وخت ناوخت یې زموږ پوښتنو کروېږنو ته په سړه سینه ځوابونه وویل. دغه راز هیله لرو، چې دوی به له تحلیل ژورنال سره خپله قلمي همکاري تلپاتې وساتي او داسې به د هېواد په دولت-جوړونه کې مرستندویه واقع شي.

درناوي

**احمد بلال خلیل**

د تحلیل ژورنال مسؤل مدیر

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# افغانستان پېژندنه

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# معارف افغانستان؛ چالش ها و راه حل ها

عائشه محمدی و عکاشه نثار[1]

## مقدمه:

افغانستان از جمع کشورهایی است با پائین ترین درجه سواد را دارد مشکلات بزرگی را در بخش های مختلف از جمله معارف تجربه می کند که این امر تاثیرات منفی زیادی را بر پیشرفت کشور بر جا گذاشته و می گذارد. با وجود آنکه پیشرفت های قابل توجهی در ساحه تعلیم وتربیه به چشم می خورد، کیفیت معارف هنوز هم به عنوان یک چالش بزرگ باقی مانده است. مکاتب از امکانات، وسایل لازم و کیفیت معیاری برخوردار نیستند. این درحالی است که هر تحولی مثبت که مبتنی بر علم و دانش باشد قطعا می تواند امیدوار کننده باشد. اگر در فضای مسموم کنونی کشور تک امید را تصور کنیم این است که امروز فرزندان این سرزمین با جدیت و تلاش مضاعف برای آموختن گام بردارند و آینده روشنی را برای این کشور رقم بزنند.

با وجود پیشرفت نسبی در سال های اخیر، معارف افغانستان هنوز هم با چالش های بزرگی رو به رو است که بر اساس تخمین وزارت معارف، جمعیت با سواد کشور از ۴۲٪ تجاوز نمی کند به این حساب، ده میلیون شهروند افغانستان بی سواد اند که اکثریت این افراد زنان اند، به ویژه زنان که در روستا ها زندگی میکنند.[2] تحلیل این هفته روی چالش های داخلی معارف افغانستان تمرکز نموده است.

## چالش های داخلی

چالش های زیادی فرروی آموزش و پرورش کشور وجود دارد که از آن جمله د راین جا به موارد برجسته و مهم آن می شود اشاره کرد. هرچند در مورد رفع چالش های یاد شده وعده های از سوی مقامات داده شده است و

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

---

[1] همکاران تحقیق در مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی می باشند

[2] آمار: سال ۱۳۹۸/سنبله/۱۷ file:///C:/Users/emran%20akbare/Desktop/%D8%AC%D9%85%D8%B9%DB%8C%D8%AA%20%D8%A8%D8%A7%D8%B3%D9%88%D8%A7%D8%AF%20%D8%AF%D8%B1%20%D8%A7%D9%81%D8%BA%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86%20%D8%A8%D9%87%20%DB%B4%DB%B2%20%D8%AF%D8%B1%D8%B5%D8%AF%20%D8%B1%D8%B3%DB%8C%D8%AF.htm

حتی در مواردی تمهیداتی نیز در نظر گرفته شده است، با این وجود تا زمان رفع کامل چالش های موجود بنابر وضعیت سیاسی و اقتصادی کشور وزارت معارف راه طولانی را در پیش دارد.[3]

**1. ضعف پایه درسی:**

گاهی عقب ماندگی در آموزش و پرورش بخاطر است که شاگردان در صنوف ابتدایی اساس پایه علمی شان درست گذاشته نمی شود. در حالیکه حروف، جمله بندی و اعداد را درست بلد نبوده ولی توانسته به صنوف بالاتر ارتقاء نماید. متاسفانه در معارف افغانستان بیش تر معلمین را که تجربه کافی نداشته باشد به صنوف ابتدایی موظف می کنند. این در حالی است که برای دانش آموزان مراحل اساسی همان صنوف ابتدایی میباشد شاعر چی زیبا گفته شده است:

چون گذارد خشت اول بر زمین معمار کج گر رساند بر فلک، باشد همان دیوار کج

در کنار آن دلایل دیگری که سبب ضعف پایه درسی شاگردان میگردد میتواند شامل: اختلال در یادگیری است که معلم به علت تراکم شاگردان در صنف متوجه این موضوع نگردد، عدم اعتماد داشتن یا هم نفرت از معلم به هر علت که پدید آمده باشد، غیر حاضری مکرر شاگردان از مکتب، سنگینی برنامه درسی که باعث گردد شاگرد ان درس را نفهمند و محیط نامناسب که سبب اختلال در درس و بی میلی در زمان صنوف ابتدایی میگردد سبب میگردد؛ شاگردان به دوره های بعد در دورس شان به مشکلات در مواجه شده و علاقه ی به پیش برد دروس به شکل درست آن نداشته باشند.

**2. ضعف در روش تدریس:**

درهرکشوری نظام آ موزش وپرورش یکی ازنظام های مهم اجتماعی است. آموزش امریست که سبب ایجاد تغییرات مطلوب در شناخت ها، نگرش ها و در نهایت رفتار کودکان، نوجوان و جوانان میگردد. البته مشروط بر این که از شیوه های مناسب در عرصه آموزش و پرورش استفاده شده و با روش های خوب مواد آموزشی برای شاگردان منتقل گردد. با وجود پیشرفت جامعه جهانی از نظر روش تدریس و تکنولوژی آموزشی، کشور ما هنوز از روش های سنتی و قدیم استفاده می کند. به طور نمونه شاگردان ریاضی همه از سمت راست می نویسند

---

[3] https://www.avapress.com/fa/article/2058/%DA%86%D8%A7%D9%84%D8%B4-%D9%88%D8%B1%D8%A7%D9%87-%DA%A9%D8%A7%D8%B1%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D9%85%D8%B9%D8%A7%D8%B1%D9%81

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ولی از سمت چپ می خوانند. وقتی به مقاطع بالا که رسیدند می فهمند که ریاضی باید از سمت چپ نگاشته شود. در کنار آن به اساس نورم فعلی معارف، یک معلم به ازای هر ۴۵ دانش آموز است، شاگردان طبقه اناث به علت کمبود معلم اناث، کمتر اجازه درس خواندن را دارند، نورم تعداد شاگردان سال به سال اضافه میشود و فعلاً در حدود ٦٠ نفر شاگرد در هر صنف تدریس می شوند که رسیده گی با این همه شاگردان از توان معلم خارج است. و دلیل دیگر را که میتوان بیان کرد کمبود وقت است، مدت زمان درسی در مکاتب ما ۳۵ دقیقه است[4] در این مدت استاد باید از درس گذشته ارزیابی و تکرار داشته باشد، کارخانگی را پیگیری نماید، درس جدید را شرح دهد و دوباره به مشکلات شاگردان از درس جدید برسد.

### 3. مشکلات نصاب درسی:

عدم معیاری بودن کتب درسی سبب می گردد که در کارآیی آموزش پرورش کاهش بوجود آمده و کیفیت دروسس اساتید پایان بیاید. کتب درسی کشور ما بصورت بسیار پیچیده ظاهر میگردند. شاگردان که با حروف الفبا آشنایی ندارند در حالیکه کتب درسی صنوف اول ابتدایی فقط یکبار از آن یادآوری گردیده بعد بدون توجه به این موضوع که شاگردان الفباء یاد گرفته اند یا خیر، جملات ظاهر میگردد. شاگردان که در فامیل نظر به مشکلات نتوانسته اند تعلمیات پیش از رفتن به مکتب را کسب کنند، استادان هم نظر کمبود زمان و بنابر پیش برد پلان خود نمی تواند روی آن زیاد بچرخند، شاگرد با پراگراف های بزرگ مقابل میگردد، که این امر سبب مغشوش شدن ذهن دانش آموزان میگردد و در نهایت سبب میگردد از درس عقب بمانند. ویا این که مضامین وجود دارند آموختن برای شاگردان مکاتب ضرور نمی باشد مانند: انتخابی، وطندوستی و حرفه ... در حالیکه مضامین که مهم مانند عربی بدون کدام مقدمه در صنف 7 ظاهر میگردد و در ختم صنف 9 دوباره بدون رسیدن اصل هدف تمام میشود. عدم معیاری بودن نصاب درسی سبب میگردد کمیت مضامین افزایش داشته ولی کیفیت جذب در نزد شاگردان کاهش می یابد.

### 4. مشکلات سیستم آموزش:

سیستم آموزش در جهان قسمی است زمان که شاگردان خواندن، نوشتن و یک دید کلی راجع تمام مضامین دریافت کردند بعد میتوانند نظر به علاقه و استعداد خود مضامینی را دنبال کند که در رسیدن رشته دلخواهش کمک میکند و در آزمون کانکور هم مضامین تخصصی همان رشته را آماده گی میگیرند. اما در کشور ما شاگردان مجبور است که مضامین تمام بخش ها را بدون با در نظرداشت استعداد شان دنبال کنند و در تمام

[4] از طرف وزارت معارف کتاب:رهنمایی معلم برای تهیه پلان روزانه

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

آن ها ممتاز باشند تا بتواند درجه عالی را به دست بیاورند. در کنار آن بعضی مضامین ناتمام ختم میشوند مانند عربی که در صنف 7 داخل مضامین مکتب میشود بعد در صنف 9 دوباره کنار میرود.

### 5. ضعف اساتید :

با توجه به بودن معاشات و کم توجهی به نیاز های اساسی معلمان از سوی دولت؛ اکثریت معلمان مسلکی از کشور خارج شده و یا مشغول حرفه های دیگری شده اند. ویا این که به دلیل فاصله زیاد از مسلک معلمی این مسلم را فراموش کرده اند و تعدادی تازه به دوران رسیده با استفاده از فساد اداری موجود و روابط مصروف به حرفه مقدس معلمی شده اند. چه بسا مواردی پیش آمده که شاگرد از معلم بهتر یاد داشته و معلم هم از روش جدید چیزی نمی فهمد. روش تدریس یکی از مسایل مهم است زیرا که آنچه شاگرد را زود به هدف میرساند همان روش تدریس توسط استاد ماهر است. اکثراً معلمین خصوصاً در مناطق دور دست مسلکی نیستند و شرایط برای شان مساعد نگردیده تا تحصیلات خویش را ادامه دهند. سیمینارها اکثراً بی کیفیت و آموزگاران از توانایی های ضعیف برخوردار اند و این باعث میگردد تا معلمین کمتر علاقه گرفته و سیمینارها را تعقیب نمایند. در شرایط فعلی کشور که غالب اجناس چند برابر افزایش قیمت داشته است. یکی از بهترین اقشار جامعه معلمین در وضعیت نا به سامانی میباشند. معلمی که زندگی او از نظر مالی تامین نشود چطور می تواند با فکر آرام، اولاد ما را آموزش داده و تربیت نماید؟

### 6. عدم همکاری والدین:

برخی از والدین فرزندانی دارند که از نظر سطح ذهنی درسی متوسط یا هم سطح پائین تر قرار دارند، اگر همکاری، تلاش و کوشش مستمر حتی اندک صورت گیرد میتوانند هم سطح دیگران شوند، یکی از دلایل که باعث شده کیفیت آموزش و پرورش در کشور ما پایین باشد، همان بی سوادی والدین است. قسم که اطفال با تعلیمات ابتدایی آشنا ساخته نمی توانند در کنار آن والدین از جریان درس، رفت آمد و کارخانگی شاگرد آگاهی و نظارت نداشته باشند سبب پایین شدن کیفیت آموزش میگردد.

### 7. مشکلات اقتصادی:

اکثریت شاگردان مکاتب بنابر پائین بودن سطح اقتصادی شان هم کار میکنند و هم درس میخوانند، آنعده که کار نمی کنند ناآرامی ذهنی دارند. دو طرف معلم و شاگرد که با ذهن ناآرام داخل صنف میگردند این طبیعی است که نمی توانند به وظایف شان به شکل خوب رسیدگی نمایند.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

بصورت کل در بخش چالش ها از موارد مختلف چون؛ ضعف علمی معلمین، عدم ارتباط میان والدین و مکتب، نبودن وسایل تحریر، عدم ایجاد روحیه و انگیزه، عدم آشنایی شاگردان با روش های یادگیری، کمبود آب آشامیدنی، ناتمام ماندن بعضی مضامین، عدم علاقه مندی شاگرد به آموختن و استاد به آموزش، در نظر گرفتن یک شاگرد و از نظر انداختن استعداد شاگردان دیگر، داشتن دید تبعیض نژادی تعداد استادان در مقابل شاگردان، بی نظمی شاگردان و استادان در حصه حاضر بودن در صنف، عدم وجود سیستم مجازات و مکافات برای استادان و شاگردان و..... میتوان نام برد. کمبود های مختلف که در معارف کشور از لحاظ داخلی وجود دارد سبب شده است سیستم تعلیم و پرورش با موانع مواجه شده و روند پیشرفت آن بطور جدی به پیش نرود.[5]

**چالش های بیرونی معارف افغانستان**

**اصلاحات در سکتور معارف:**

اداره مؤقت افغانستان در سال ۱۳۸۱هـ.ش چه از نگاه نیروی بشری دارای ظرفیت و مهارت های لازم و چه از نگاه ساختمان و زیربنا یک نظام ناقص و معیوب معارف را به ارث برده بود که توانائی محدود ارایۀ خدمات تعلیمی و تربیتی را داشت و کیفیت آن جداً زیر سؤال بود. احصائیه های ذیل که از سوی وزارت معارف صورت گرفته پاره ای از مشکلات موجود در آن مقطع زمانی را از دید وزارت معارف کشور نشان میدهد:

- کمتر از یک میلیون پسر در ۳۴۰۰ باب مکتب تعلیمات عمومی توسط ۲۰۷۰۰ معلم مصروف تعلیم بودند و سیستم معارف آن زمان پاسخ گوی نیازمندی های مردم نبود.
- نصاب تعلیمی واحد، ملی و معیاری و کتب درسی ستندرد موجود نبود.
- صرف چهارباب دارالمعلمین در چهار ولایت با داشتن۴۰۰ تن محصل و ۵۰ تن استاد که همه از طبقه ذکور بودند، فعال بود.
- به تعداد ۳۸ باب مکتب تعلیمات مسلکی وحرفوی قسماً فعال بود که ۱۵۰۰ تن متعلم و ۵۰ تن استاد از طبقه ذکور در آن مصروف تعلیم و تدریس بودند.
- سالانه فقط ۲۲۰۰۰ تن شاگرد از طبقه ذکور در کورس های سواد آموزی آموزش می دیدند.

---

[5] http://dailyafghanistan.com/opinion_detail.php?post_id=131332

https://blogs.worldbank.org/prs/endpovertyinsouthasia/afghanistan-s-learning-crisis-how-bad-it-really

5 – کتاب: روش های پیشرفته تدریس

نویسنده: شراره حبیبی

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

- تنها۷۹۰۰ تن محصل در ۱۵ موسسهٔ تحصیلات عالی شامل بودند.

از سال ۱۳۸۱هـ.ش بدین سو سکتور معارف اصلاحات اساسی را دنبال و به دستاورد های چشم گیری نایل آمده است. برخی از پیشرفت ها و انکشافات عمده الی اخیر سال ۱۳۸۸هـ.ش این وزارت ذیلاً تذکر می یابد:

- افزایش هفت برابر در شمولیت شاگردان: بصورت مجموعی ۷ میلیون تن شاگرد در ۱۲۰۰۰ باب مکتب عمومی، ازجمله 37% آن اناث، مصروف تعلیم هستند.
- افزایش بیشتر از هشت برابر در تعداد معلمین:«یعنی امروز در نظام معارف به تعداد ۱۷۰۰۰۰ تن معلم که 30% آن اناث می باشند، مصروف خدمت هستند.»
- تعداد مدارس رسمی تعلیمات اسلامی به ۵۵۰ باب افزایش یافته و ۱۳۶۰۰۰ تن طالب در آن مصروف کسب علوم اسلامی اند که 9% شان را طبقه اناث تشکیل می دهد.
- اداره تعلیمات اسلامی از ریاست به سطح معینیت تعلیمات اسلامی ارتقا یافت و برای اولین بار در تاریخ کشور شاخه از جامعه ازهر(انستیتیوت علوم اسلامی الازهر) در کابل افتتاح و تدریجاً به شهرهای بزرگ کشور توسعه خواهد یافت.
- نصاب درسی ملی برای تمامی مکاتب عمومی و اسلامی تهیه شده. کتب جدید برای تعلیمات اساسی(۹-۱) تألیف، چاپ و توزیع گردیده، توقع میرود که تهیه و تألیف کتب درسی برای دوره ثانوی تعلیمات عمومي در سال ۱۳۸۹هـ.ش و از تعلیمات اسلامی در سال۱۳۹۳هـ.ش تکمیل گردد.
- تعداد مراکز تربیه معلم از ۴ باب به ۴۲ باب افزایش یافته، حد اقل یک مرکز در هر ولایات با تسهیلات لیلیهٔ ذکور و اناث که در آن ۴۲۰۰۰ تن (38%زنان) مصروف تحصیل اند، فعال میباشد.
- برعلاوه در سطح ولسوالی ها ۷۳ باب مرکز تربیه معلم در جوار مکاتب ایجاد گردیده تا در آن درجهٔ تحصیلی معلمین مکاتب در برنامه های داخل خدمت ارتقاء یابد.
- شمولیت در تعلیمات تخنیکي و مسلکی سیزده برابر افزایش یافته که به تعداد ۲۰۰۰۰ تن شاگرد (16% اناث) در ٦٠ باب مکتب تعلیمات تخنیکي و مسلکی مصروف تعلیم هستند.
- بیشتر از ۹۵۰۰۰ تن شاگرد (27% اناث) در سال ۱۳۸۸هـ.ش از صنف ۱۲ فارغ گردیده اند.
- از سال ۱۳۸۱هـ.ش بدین سو همه ساله بیشتر از ۲۵۰۰۰۰ تن (62% اناث) یک دورهٔ ۹ ماهه سواد آموزی را سپری نموده اند.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

- جهت تقویت اشتراک مردمی به منظور بهبود کیفیت معارف، ۸۵۰۰ شورای مکاتب تأسیس گردیده و ۴۵۰۰ مکتب به کمک و سهم گیری فعال مردم محل اعمار گردیده است.
- از جمله مکاتب که در سال های قبل از اثر مشکلات امنیتی مسدود گردیده بود، ۲۲۰ باب آن در سال ۱۳۸۸هـ.ش مجدداً بازگشایی گردیده که در آن بیشتر از دو صد هزار تن شاگرد مصروف فراگیری علم هستند.
- اصلاحات و انکشاف اداره جریان دارد؛ مسایل مربوط به اداره، نظارت و ارزیابی تقویت میگردد. سیستم جدید رتب و معاشات که مشوق عمده برای ارتقای کیفیت و زمینه ساز بهبود معیشت بوده به شکل سریع در حال تطبیق میباشد که تا اکنون ۷۰۰۰۰ هزار تن معلم تحت این سیستم آمده و از امتیازات آن مستفید می گردند، راه اندازی و تطبیق این سیستم تغییرات لازم و افزایش مناسب در معاشات تمامی منسوبین به شمول معلمین را به بار می آورد.
- به تعداد ٦٣٠٠٠ تن محصل در بیشتر از ۲۴ باب پوهنتون و مؤسسه تحصیلات عالی مصروف تحصیل هستند.[6]

## عرصه های چالش های بیرونی

در گزارش قبلی روی مشکلات داخلی ایکه معارف کشور را پیچیده است؛ طور تفصیلی صحبت نمودیم. اینک چالش های بیرونی معارف افغانستان را نیز مختصراً بیان میداریم تا بخش سوم را روی راهکار ها و راه حلها متمرکز سازیم.

### 1. ناامنی:

بزرگترین مانع در برابر معارف افغانستان؛ جنگ و نام امنی جاری در کشور است. وزارت معارف افغانستان یک نهاد بی طرف است و نباید هیچ گروه مسلح و سیاسی آنرا قربانی زد و بند های سیاسی و نظامی خویش سازد و مانع در برابر نظام آموزش و پرورش در افغانستان گردند.

وجود جنگ، نبود امنیت و ناامنی باعث گردیده است تا در سال ۱۳۹۸هـ.ش در حدود سه و نیم میلیون کودک واجد شرایط آموزش از دسترسی به تعلیم باز ماند. در حال حاضر بیش از ۱۰۰۰ مکتب به دلیل ناامنی مسدود و احتمال بلند رفتن این تعداد نیز وجود دارد. ناامنی نه تنها باعث مسدود شدن مکاتب گردیده بلکه باعث گردیده تا مکاتب جدید نیز اعمار نشود.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

---

[6] سایت وزارت معارف افغانستان، http://old.moe.gov.af/fa/page/2022 ۱۱، تاریخ دسترسی ۱۳۹۸/۱۲/۲۴

**2. استفاده از مکاتب برای مقاصد نظامی:**

بسیاری مکاتب دور دست و ناامن منحیث پایگاه نظامی میان طالبان و دولت استفاده می گردند، چنانچه در ولایت هلمند و همچنان در منطقه چاه انجیر نادعلی یک مکتب را نیروهای امنیتی به پایگاه نظامی مبدل ساخته اند، هلمند و ارزگان از جمله ولایاتی است که از تعداد محدود مکاتب شان منحیث پایگاه استفاده میشود، در سراسر افغانستان ٦٧ مکتب اکنون تبدیل به سنگر جنگ شده است از این تعداد ۴ مکتب در اختیار طالبان و بقیه از جمله سنگرهای نظامی نیروهای امنیتی کشور محسوب می گردد.

**3. مکاتب بدون تعمیر:**

به اساس آمار های آرائه شده از جانب وزارت معارف کشور در حدود ۹ میلیون دانش آموز در بیشتر از ۱۷ هزار مکتب مشغول آموزش هستند بعضی این مکاتب یا تعمیر نیمه کاره و یا هم بدون تعمیر هستند. از ۱۷ هزار مکتب ۹ هزار آن تعمیر دارد، ۸ هزار بدون تعمیر اند.

**4. مشکلات بودجوی:**

از بودیجه لازم تخصیص یافته برای معارف کشور به گونه درست و ضروری استفاده نگردیده است و این باعث شده تا در خود ولایت کابل مکاتب بدون تعمیر یا نیمه تعمیر باقی مانده و شماری زیادی از شاگردان در زیر خیمه ها و یا در خانه های کرایی مشغول آموزش شوند.

این در حالیست که رئیس جمهور غنی برای وزارت شهر سازی امر ساخت ۱۰۰ مکتب با استفاده از قطعات پیش ساخت را داده بود و در کنار آن ٦۰۰۰ مکتب دیگر را نیز اعمار نمایند و برای انجام این کار در حدود ۲۰۰ میلیون دالر بودیجه تخصیص داده شده بود. در کنار این وزارت معارف از ساخت ۲۰۰۰ مکتب دیگر با در نظر داشت نفوس نا متوازن در مناطق مختلف خبر میدهد.

**5. استادان غیر مسلکی:**

مسلکی نبودن بیش از ۴۰ در صد از استادان مکاتب یکی از چالش های جدی فراروی معارف کشور می باشد، وزارت معارف در چند سال اخیر معلم مسلکی استخدام نکرده است و با کمبود معلم، معلمان غیر مسلکی و حتا در برخی نقاط کشور مجبور به استخدام معلمان در خلاف رشته گردیده است. ولی وزارت معارف در پاسخ می گوید که معلمان مسلکی و با تجربه به دلیل ناامن بودن برخی مناطق و سیستم معاش دهی کم حاضر به تدریس نیستند بنا بر این وزارت تصمیم دارد تا برخی معلمان مسلکی را در نقاط مختلف کشور و با در نظر داشت سفر با محرم شرعی آن و پرداخت مصارف شان با معاش بلند استخدام نماید.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ولی به نظر میرسد که جذب ۲۶ هزار معلم مسلکی و اخراج معلمان غیر مسلکی و دوازده پاس در ۳۴ ولایت افغانستان کار دشوار و آسانی نیست.

### 6. فساد اداری و مالی:

در سال ۲۰۰۲م مطابق ۱۳۸۱هـ.ش تعداد آموزگاران به ۹۰۰ هزار متعلم پسر می رسید و هیچ متعلم دختر وجود نداشت ولی بعد از سال ۱۳۸۱ هـ.ش تا سال ۱۳۹۲هـ.ش این رقم به طور عجیبی بلند رفت و شامل ۱۱ میلیون متعلم گردید که وزارت و حکومت آن را دست آوردی بزرگی می دانست اما بعد از گزارش USAID از تعداد متعلمان در افغانستان این رقم ۱۱ میلیونی به ۹,۲ میلیون تنزیل پیدا کرد که پرسش برانگیز است.

در کنار این ۴۰ هزار و ۸۸۰ آموزگار خیالی، ۱۰۳۳ مکتب خیالی، ۱۴۰۰ پروژه ساختمانی مکاتب بدون طی مراحل قانونی تدارکات، بیش از ۲۰ میلیون دالر اختلاس در قرارداد چاپ کتاب های درسی، ، ناپدید شدن ٦۴ کانتینر حامل مواد درسی مکاتب(کتابچه، بکس، قلم, مواد خوراکه و ...) و ده ها مورد دیگری که از سوی وزارت معارف حیف و میل گردیده است را می شود از برجسته های موجودیت فساد در این وزارت دانست.[7]

### 7. مشکلات مدیریتی:

با وجود کوشش هائی که به خاطر تقویت ظرفیت های کادری و کاری صورت گرفته، توانمندی اجرائیوی سکتور معارف در سطح مرکز و ولایات هنوز هم ناکافیست و آنهم بیشتر معلول فقدان پرسونل متخصص که با معاش پایین حاضر به اشتغال در این وزارت نمی گردند بوده است. کمبود ساختمان «محل مناسب کاری» و تجهیزات مورد نیاز ب خصوص تکنالوژی معلوماتی پیچیده گی بیشتر را به مشکل عدم مدیریت درست در وزارت معارف کشور به بار آورده است[8]».

### راهکار های پیشنهادی برای بهبود معارف کشور

بعد از ریشه یابی مشکلات داخلی و چالش های بیرونی معارف کشور در دو حلقهء جداگانه؛ اینک در این حلقه روی راهکارها وحلول پیشنهادی برای بهبود معارف افغانستان به این امید تمرکز می نماییم، که طرف توجه پالیسی سازان و دست اندرکاران معارف کشور قرارگیرد:

---

۱۳ امیری. سکینه، ۱۳۹۷، گزارش تحقیقی در مورد چالش های نظام معارف در افغانستان؛ سایه جنگ و نا امنی بر سال حمایت از معارف، سایت تحقیقی خبرنامه تاریخ دسترسی ۱۳۹۸/۱۲/۲۴، جابجا شده در عنوان چالش های کلیدی از شماره ۷-۱، لینک برگرفته شده: http://khabarnama.net/blog/the-shadow-of-war-and-insecurity-over-the-years-of-education-support/

۱۴http://old.moe.gov.af/fa/page/2022 سایت وزارت معارف، تاریخ دسترسی ۱۳۹۸/۱۲/۲۵،

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**1- هم آهنگی با معیارهای جهانی:**

سیستم آموزشی کشور باید با معیارهای جهانی برابر شده و افغانستان را تا یکی دو دههء دیگر، با کاروان پیشرفت بشری همگام بسازد.

فلسفهء معارف ما در کنار ارزش های وطنی و اسلامی، محبت با انسانیت، ضرورت صلح و هم زیستی و اعتبار دادن به ارزش های مشترک انسانی را به فرزندان کشور انتقال دهد.

علاوه بر این، در پهلوی تعلیم شاگردان باید بر تربیه آنها نیز توجه صورت گیرد تا نمونه های از اخلاق، ابزار علم، عقل و ادب بار آمده و اندیشه های فراتر از رنگ و بو را در جامعه تمثیل نمایند.

**2- بالابردن سطح مدیریتی:**

مدیریت دانش به وجه احسن در سکتور تعلیمی و نظام آموزشی کشور خیلی امر مهم به شمار می رود، کم کردن حجم کتاب های درسی با توجه به توانایی های مختلف ذهنی و یاد گیری شاگردان، می تواند سهولت یادگیری شاگردان را بهبود بخشیده و یکی از راهکارهای خوبی در مدیریت دانش در افغانستان باشد.

هدف مند ساختن و بلند بردن کیفیت آموزشی با استفاده از الگوهای مدرن، مثبت و دوگانه، یکی از راه های بهبود معارف کشور به شمار می رود، زیرا استفاده از روش دوگانه (تعلیمات تخنیکی و مسلکی، تحقیق و تحلیل) که نمونه پیشتاز و مثبت آن در جهان کشور آلمان است می تواند ما را در روند بهبود معارف مان کمک نماید.

بخش مسلکی به صورت علمی و نظری تدریس گردد که بخش نظری آن در مکاتب و بخش عملی آن در نهادهای مرتبط به مضمون تدریس گردد، این روش کوتاه ترین راه برای بلند بردن هدف تعیین شده از سوی وزارت معارف برای بلند بردن سطح کیفیت در سال های ۲۰۱۷-۲۰۲۱م مطابق ۱۴۰۰-۱۳۹۶هـ.ش بوده می تواند در ضمن این روش برای شاگردان صنوف یازدهم و دوازدهم برای آماده شدن به دوره پوهنتون مفید واقع شده می تواند.[9]

**3- تنظیم بودجه و تخصیص هزینه های بیشتر:**

تلاش به منظور استفاده بهتر از ساختار بودجه فعلی و سیستم های معلوماتی برای تأمین هرچه بیشتر شفافیت و حسابدهی در تخصیص و استفاده از منابع دولتی. تحلیل و ارزیابی اجراآت و چگونگی عملکرد سیستم های آموزشی و تحصیلی و تأمین منابع مالی مورد نیاز با توجه به ضرورت برای دریافت ارقام و آمار مشرح که از طریق

---

۱۵ بیضا. دکتر یحیی، ۱۳۹٦، برنامه آموزشی در افغانستان چگونه باید اصلاح شود؟، بی بی سی فارسی، تاریخ دسترسی ۱۳۹۸/۱۲/۲٦، جابجا شده در عنوان اصلاحات لازم برای بلند بردن سطح نظام آموزشی در کشو از شماره ۱-۴، آدرس لینک https://www.bbc.com/persian/blog-viewpoints-40555723

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

سیستم های مدیریت معلومات چندگانه به دست می آیند. مدیریت واحد سیستم های معلوماتی به منظور نظارت بهتر و گزارش گیری در مورد نتایج و ارزیابی[10].

نیاز مبرم است تا افغانستان سرمایه گذاری بیشتر را در راستای تأمین نیازمندی های معارف و بهبود شرایط آموزش معیاری و متوازن اختصاص دهد. با توجه به این که شرایط و امکانات آموزشی ضعیف و ناتوان سبب آسیب پذیری معارف می شود، لذا نیاز مبرم است، تا افغانستان تمرکز بیشتر را روی اختصاص سرمایه گذاری و هزینه های بیشتر به منظور بهبود کیفیت سیستم های آموزشی و تدریسی و همچنان فراهم آوری مواد درسی مطلوب نماید.

از آن جایی که توقع می رود، تا فشار کنونی در راستای ایجاد و اعمار زیربنا های مورد نیاز مکاتب در سطح ملی با کاهش قابل توجه نفوس کودکان در سنین مکتب در آینده تضعیف شود، لذا پلانگذاری اختصاص بودجه در دراز مدت باید به رفع نیاز های روز افزون در عرصه حفظ و مراقبت مکاتب و هم چنان نیازهای آموزشی و مواد درسی مورد نیاز مکاتب متمرکز باشد.

**4- ظرفیت سازی معلمین:**

گسترش دسترسی و زمینه سازی برای حضور یابی متعلمین در برنامه های آموزشی برخواسته از امکانات و سهولت های موجود در جامعه، به ویژه در مناطق روستایی و نا امن که حضور یافتن شاگردان به مکتب یک تهدید بزرگ به زندگی آنها پنداشته می شود. با این حال، با توجه به انواع رویکردها و هزینه های مربوطه آن، طرح یک بسته خدماتی هماهنگ و مطلوب باید یک اولویت برای دولت و نهاد های کمک کننده بین المللی باشد.

ترتیب یک پلان به خاطر جذب معلمین اناث بیشتر و ارائه امتیازات تشویقی، تطبیق و ارائه آموزش های داخل خدمت برنامه های ارتقای ظرفیت کاری که آموزش معلمین باید به سطح ولایتی صورت گیرد. برگزاری دوره های کوتاه مدت تربیت معلم یا روش تدریس که سبب آشنا شدن معلمان کم تجربه با میتود های جدید تدریس گردد. اداره های مکاتب می تواند با تهیه برنامه های چون آشنایی معلمان با فعالیت های پرورشی، انواع روش های طراحی و اجرا و ارزش یابی فعالیت تربیتی در جریان آموزش اساتید گرامی در رسیدن هدف شان که عبارت از تعلیم و تربیه می باشد کمک کند.

**5- تحکیم ارتباط میان والدین واداره مکتب:**

---

١٦ ارتقای معارف در شرایط دشوار و شکننده افغانستان، بانک جهانی، تاریخ دسترسی به موضوع ۱۳۹۸/۱۲/۲۶، جابجا شده در عنوان اصلاحات لازم برای بلند بردن سطح نظام آموزشی در کشور شماره های ۵-۸، لینک برگرفته شده:
https://www.worldbank.org/fa/country/afghanistan/publication/afghanistan-promoting-education-during-times-of-increased-fragility

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

دراین راستا می توان انجمن اولیا و معلمین را در سطح مکاتب برپا نموده و گسترش داد. در بعضی ازجلسات انجمن، باید از افراد مسلکی وکارشناسان تربیتی و آموزشی دعوت صورت گیرد تا سخنرانی های علمی وآموزشی داشته باشند. همکاری والدین با اداره مکتب بهترین روش است که مکتب را در اجرا مسئولیتش کمک کرده و پابندی شاگردان به درس ها را بالا می برد. این جلسات اگر ماهوار برگزار نگردید می تواند حداقل سال دو سه بار دایر گردد. در جریان جلسات از والدین که با مکتب همکاری دارند قدردانی صورت گیرد.

**6- استفاده از روش های تدریس معاصر:**

اساتید محترم باید در جریان تدریس از روش های متفاوت تدریس استفاده نمایند خاصتاُ برای صنوف ابتدایی، قسمی که در چالش ها بیان کردیم که پایه و اساس آموزش در دوران ابتدایی گذاشته می شود، اگر کودک در همان دوره علاقه مند به آموزش شد می تواند سالها در پی آموختن باشد. این کار توسط معلمین عزیز صورت گرفته می تواند. مدرسه و معلم بیشترین نقش را در این راستا دارند آن ها هستند که شاگردان را برای داخل شدن به اجتماع آماده می کنند پس مناسب این است که معلمین عزیز از طریقه های معاصر در عرصه آموزش و پرورش استفاده نمایند تا انسان های بیدار و آگاهی را تقدیم جامعه نمایند.

درس معلم با روح و روان و احساسات شاگردان سر و کار دارد اگر به درستی تطیق نگردد زیان های جبران ناپذیر در پی خواهد داشت. این روش را می توان با یک داستان، اصول اجرایی، بعضی طرح کار های صنفی و بیان جملات جالب که هدف درس را برساند صورت گیرد. روش تدریس موفق را معلمان با پشت کار، علاقه به آموزش، تجربه، تحقیق و مطالعه می توانند به آسانی حاصل کنند.

**7- ایجاد اعتماد به نفس درشاگردان:**

پاجارس آگاه مسایل تعلیم و تربیت معتقد است که مشکلات بسیار شاگردان در مکتب از ناتوانی شان نیست، بلکه به باور آنان است به این که نمی توانند وظایف مکتب را درست انجام دهد و یا اینکه به موفقیت برسند[11]. افغانستان از جمله کشورهای است که با مشکلات بیشتری مواجه است، این امر سبب می گردد بالای مردم تاثیرات متفاوت افسرده گی و نا امیدی به آینده را بر جا گذارد. این افکار از فامیل ها به شاگردان انتقال می نماید سبب می گردد شاگردان در پیشبرد دروس شان احساس بی علاقه گی و ناتوانی نمایند. از وظایف مهم معلمین محترم در مکتب می باشد که در جریان تدریس به شاگردان انگیزهء حرکت داده و اعتماد به نفس را در ایشان تقویت نمایند.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

---

[11] کتاب: خود کار آمدی در یادگیری و آموزش، نویسنده: دیبا شریعت

**8- حمایت از مکاتب خصوصی:**

مکاتب خصوصی تا حدی زیاد می تواند معارف کشور را در اجرای اهدافش کمک کند، چون هیچ هزینه برای بخش معارف رسمی ندارد. در کنار آن تراکم شاگردان در آنجا کمتر بوده، به شاگردان رسیده گی بهترصورت می گیرد. در صورت که توانمندی اقتصادی برای فامیل های محترم وجود داشته باشد باید فرزندان خود را به مکاتب خصوصی بفرستند. از طرف دیگر، وزارت محترم معارف باید با مکاتب خصوصی همکاری صمیمانه تری داشته و مشکلات شان را حل نماید.

**9- آمادگی به خاطرتدریس آنلاین:**

وبالآخره وبای جهانی کرونا نشان داد که نمی توان همیشه بالای معارف تقلیدی و درس و تدریس حضوری اعتماد داشت، بلکه امکان دارد حالاتی به وجود بیاید که امکانات حضورشاگردان و استادان به مکاتب ناممکن گردد. به این خاطر وزارت معارف باید آمادگی آن را داشته باشد تا اپلیکیشن ها و امکانات لازم به خاطر پیشبرد عملیهء تعلیم از دور را انکشاف دهد و مانند اوضاع کنونی که وبای کرونا میلیون ها کودک و جوان و نوجوان را در خانه ها زندانی ساخته است، دست زیرالاشه نه نشیند؛ بلکه بتواند درصورت ضرورت خدمات معارف رابرای بیشترین تعدادی از فرزندان کشور به طور رایگان فراهم بسازد، چنانچه کشورهای دیگری عملاً این کار را کرده اند.

به آرزوی معارف معیاری و خوب برای تمام فرزندان کشور.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د افغانستان د برېښنا او مخابراتو د سکتورونو رېګولېشن؛ یوه پرتله

**محسن امین[12]**

## لنډیز

*[برېښنا او مخابراتي سکتور د یو هېواد په صنعتي کېدو کې مهم رول لوبوي. افغانستان اوسمهال هم خپله ډېری برېښنا له ګاونډیو هېوادونو راواردوي. دا چې په تېرو شلو کلونو کې په دې سکتور کې د رفورم او قانون جوړونې په برخه کې څه وشول، په دې سکتور کې د دغو رفورمونو او قانون جوړونو تاثیرات څه وو؟ د برېښنا او مخابراتو سکتورونو اوسنی ننګونې څه دي او آیا د مخابراتو سکتور د برېښنا سکتور لپاره د یو ماډل په توګه اخیستلای شو؟ په دې مقاله کې له دې سکتور سره تړل شوي متخصص نه دا چې دا پوښتنې ځواب کړي دي، بلکې یو شمېر وړاندیزونه یې هم وړاندې کړي دي.]*

**کیلي: رېګولېشن، د افغانستان برېښنا، مخابرات، اټرا، ښه حکومتولي**

## د زیربناوو په سکتورونو کې د رېګولېشن اړتیا

په هغو سکتورونو کې چې خلکو ته پکې د زیربناوو له لارې خدمات وړاندې کېږي، لکه برېښنا، ګاز، مخابرات، د څښلو اوبه او داسې نور؛ د دا ډول سکتورونو د ښه فعالیت لپاره چې عرضه کوونکي خپل خدمات پر ټاکلي وخت وړاندې کړي، خپلو پېرېدونکو سره عادلانه چلند وکړي، تعرفه او د خدمت بیه په خپل سر لوړه نه کړي، پر وخت مالیه ورکړي، د فعالیت لپاره جواز ولري او د داسې نورو ورته اړینو فعالیتونو لپاره اړینه ده چې د دولت لخوا دې سکتور ته په پېل کې حقوقي چوکاټ یا Legal Framework جوړ کړای شي[13]. ورپسې د سکتور د تنظیم لپاره Regulatory Framework د رامنځته کولو ترڅنګ د مارکیټ د تنظیم یا رېګولېشن او د مقرراتو د

---

[12] د افغانستان د انرژۍ کمیسیون پخوانی سلاکار، د انرژۍ پالیسیو شنوونکی او فولبرایټر چې د امریکا د اوریګون سټېټ پوهنتون څخه د عامه پالیسۍ په برخه کې ماسټري لري.

[13] Victor, Heller. The Political Economy of Power Sector Reform: The Experiences of Five Developing Countries. 2007

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

پلي کولو لپاره د یوې خپلواکې اداري جوړول اړینېږي. دا اداره په بېلابېلو نومونو یادیدلای شي، د بېلګې په توګه په ځینو هېوادونو کې ورته Regulatory Authority وایي، او په نورو هېوادونو کې د خپلواک کمیسیون یا بورډ په نامه هم یادېږي[14].

په طبیعي شکل، په پورته یادو شویو سکتورونو کې د بېلابېلو لاملونو له امله انحصار یا Monopoly را منځته کېږي؛ او ډېری وخت یو ستر حکومتي شرکت د خدماتو په وړاندې کولو سره مارکېټ تر ځان پورې منحصروي او که چیرې د قانون لخوا د مارکیټ جوړولو سپارښتنه شوې وي، نو بیا دوه یا درې خصوصي شرکتونه سکتور ته د Oligopoly په بڼه دننه کېږي. د دې لوی لامل دا دی چې د زېربناوو په برخه کې پانګونه سخته ده[15]، په پېل کې سترې پانګې ته اړتیا وي چې د سکتور لپاره پکې زېربناء جوړه شي خو ګټه یې کلونه وروسته را څرګندېږي. نو ځکه ډېر پانګوال په پورته یادو شویو سکتورونو کې یا د پانګې اچونې وړتیا نه لري او یا ورته زړه نه ښه کوي.

که چیرې د زېربنا ځینې برخې د حکومت لخوا جوړې شوې وي او ځینې یې خصوصي سکتور ته پرېښې وي چې جوړې یې کړي، نو هغه شرکتونه چې په لومړیو کې پانګونه وکړي، هغوی پر خپلې زیربناء پوره کنټرول لري او په راتلونکي کې نوي شرکتونه په اسانۍ سره مارکیټ ته نشي را ننوتلی. نو له همدې امله کوم شرکتونه چې په پېل کې کومه سیمه تر خپل پوښښ لاندې راولي، هماغه شرکتونه په هغه ښار یا ولایت کې خلکو ته په انحصاري شکل خدمات عرضه کوي او نور سیال شرکتونه د هغوی په مارکیټ کې برخه نشي اخیستلی.

د انحصار د ماتولو او یا د کنټرول لپاره حکومت د دې اړتیاویني چې مداخله وکړي، ځکه دلته خبره د ګوتو په شمېر عرضه کوونکو او د میلیونونو پیریدونکو ده[16]. کله چې عرضه کوونکو ته دا اختیار ورکړل شي چې ډېرو پیرودونکو ته خدمات عرضه کړي، نو د دې امکان شته چې عرضه کوونکي له خپل اختیار او صلاحیت څخه ناسمه ګټه پورته کړي او اغیز یې میلیونونو خلکو ته ورسیږي[17]. له همدې ځایه حکومت او سیاستوال غواړي په دې برخه کې مداخله وکړي، څو خلک زیانمن نه شي او د هغوی له حقونو څخه ساتنه وکړي او یا د سیاسي اهدافو لپاره غواړي د خلکو رضایت ترلاسه کړي. حکومتونه د انحصاري شرکتونو د کنټرول او څارنې لپاره قوانین

---

[14] Pérez-Arriaga. Regulation of the Power Sector. 2013.

[15] Victor, Heller. The Political Economy of Power Sector Reform: The Experiences of Five Developing Countries. 2007

[16] Pérez-Arriaga. Regulation of the Power Sector. 2013.

[17] Ibid.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

جوړوي او د تنظیم لپاره یې مقررات او خپلواکې اداري رامنځته کړي چې د عرضه کوونکو او مشتریانو ترمنځ مناسب او عادلانه قیمت وټاکي او شخړې پر وخت سره اواري کړي.

**د افغانستان د برېښنا او مخابراتو په سکتورونو کې د مارکیټ رامنځته کولو مخینه**

په ۱۹٦۰ او ۱۹۷۰ لسیزو کې په پورته یادوو شویو سکتورونو کې د مارکیټ د ایجاد تصور د افغانستان له حکومت سره نه وو. د خصوصي سکتور د پانګونې په اړه تګلاره نه وه او حکومت فکر کاوه چې یوازې حکومتي اداري او تصدۍ پر دې مکلفې دي چې برېښنا او د ټیلیفون تارونه خلکو ته تر کوره ورسوي. په دې اړه ځیړنو ته اړتیا ده چې د دې لامل څه وو؟ ایا هغه مهال افغان حکومت د شوروي اتحاد د کمونیستي سیستم تر اغیزو لاندې و او که حکومت په ځان کې دا وړتیا لیدله چې ټول افغانستان ته په خپلو امکاناتو د برېښنا او مخابراتو خدمات وړاندې کولای شي. که څه هم هغه مهال په ډېری هېوادونو کې لا د مارکیټ پر اساس د سیالۍ موډل نه وو رامنځته شوی او حکومتي تصدیو دا کار مخې ته یوړ. تر ۲۰۰۳ کال پورې د افغانستان په مختلفو حکومتونو باندې همدا تصور غالب وو چې د خصوصي سکتور پانګې ته اړتیا نشته او حکومتي تصدۍ دا خدمات وړاندې کولای شي.

د ۲۰۰۳ کال څخه وروسته د ازاد مارکیټ او د خصوصي سکتور د اړتیا تصور رامنځته شو او مختلفو سکتورونو مختلفې تګلارې خپلې کړي. د برېښنا او مخابراتو سکتورونو، هر یو ځان ته دوه ځانګړې تګلارې غوره کړې، چې په لاندې ډول یې مقایسه کوو:

**لومړی؛ د برېښنا په سکتور کې له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې اصلاحات**

د افغانستان د انرژۍ او اوبو وزرات په ۲۰۰۴ کال کې وتوانیده چې د یو خارجي شرکت په مرسته د برېښنا سکتور لپاره تفصیلي ماسټر پلان جوړ کړي. دا ماسټر پلان چې په پنځو جلدونو کې ترتیب شوی وو، د برېښنا سکتور په شبکو، بندونو او د تولید په فابریکو باندې را څرخیږي. دغه مهال له حکومت او مرسته کوونکو ادارو او هېوادونو سره تصور دا وو چې تر هر څه د مخه د افغانستان لویو ښارونو ته باید برېښنا ورکړل شي، هغه هم په اسانه او کم مصرفه طریقه چې په لنډ وخت کې عملي شي. د خارجي او نړیوالو کارپوهانو نظر دا وو چې تر ټولو اسانه لار د ګاونډیو هېوادونو څخه د برېښنا واردول دي، ځکه د اوبو ستر بندونه لږ تر لږه په ٦ او ۷ کلونو کې جوړیږي او په سلګونو میلیونه ډالرو ته پکې اړتیا ده. جالبه دا وه چې د برېښنا په نورو تولیدو فابریکو، لکه د ګازو، ډبرو سکرو، لمریزې برېښنا او بادو څخه د برېښنا پر تولید تمرکز ونه شو او نه یې هم لومړیتوب درلود.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ډونرانو (مرسته کوونکو) د ځينو دلايلو له امله په سترو بندونو کار پيل نه کړ، بلکې دا يې غوره وګڼله چې له مرکزي اسيا او ايران څخه افغانستان ته د لوړ ولتاژ د انتقال لينونو په مرسته برېښنا وارده کړي. هغه لاملونه چې ولې مرسته کوونکو نه غوښتل پر بندونو کار پيل کړي، د هغه له جملې څخه درې يادولی شو:

1 . له ګاونډيانو سره د اوبو د تړون او تفاهم نه شتون او يا ګاونډيانو سره پرې د نانډرۍ را پورته کيدلو انديښنه.

2 . په پيل کې د لويې بودجې اړتيا.

3 . د پروژو د بشپړولو اوږد مهال ويش او د هېواد بې ثباته سياسي او امنيتي وضعيت.

که چيرته هغو مرستو ته وګورو چې په تيرو اتلسو کلونو کې د برېښنا په سکتور کې د ډونرانو لخوا شوي، شمېر يې تر ۴ ميلیارده[18] ډالرو څخه لوړيږي. ډيرې داسې پروژې شته چې په سلګونو ميليونه ډالر پکې بې ځايه مصرف شوي او خلکو ته يې چې څنګه پکار وه، هغسې ګټه نده رسولې، د تره خيلو ۱۰۰ ميګاواټو د برېښنا ډيزلي دستګاه[19] يې د مثال په توګه يادولی شو.

د امريکا د حکومت لخوا په ۲۰۰۴ کال کې د افغانستان د انرژۍ سکتور د جوړولو او په سکتور کې د افغانانو د ظرفيت لوړولو په موخه له يو امريکايي شرکت سره قرارداد وشو، د قرارداد قيمت ۷۴ ميليونه ډالر[20] وو. دا شرکت چې Advanced Engineering Associates International نوميږي، په څلورو کالو کې يې دا قرارداد تکميل کړ، خو لکه څنګه يې چې تمه کېدله، د انرژۍ سکتور د ادارو او پرسونل ظرفيت چې څنګه پکار وه، په هغسې ډول وده ونه کړه. د مثال په توګه په دې څلورو کلونو کې چې د برېښنا سکتور لپاره ډېره مهمه دوره وه، بايد د سکتور لپاره پکې حقوقي چوکاټ، د برېښنا قانون، پاليسۍ او مقررات جوړ شوي واي، څو سکتور په ځان بسيا شوی واي. خو له بدمرغه، په دې کلونو کې دا کار ونه شو، او د حکومت ټول پام له ګاونډيو هېوادونو څخه د برېښنا پر واردولو باندې وو.

د افغانستان حکومت د ډونرانو په مشوره او مرستو مخې ته ولاړ او له ګاونډيو هېوادونو يې د برېښنا د واردولو پر برنامې کار پيل کړ. که تېرو پروژو ته وګورو[21]، تقريباً ټوله پروسه د ډونرانو له لوري رهبري کېدله او حکومت يوازې د امضاء په مراسمو او له ګاونډيانو سره په مذاکراتو کې برخه اخيستله. د شبکې ډيزاين او طرحه ريزي، د پروژو

---

[18] Amin, Bernell, (Power Sector Reforms in Afghanistan: Barriers to Achieving Universal Access to Electricity), 2018.

[19] Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR), Review of Sustainability of Operations at Afghanistan's Tarakhil Power Plant. 2014.

[20] Advanced Engineering Associates International (AEAI), 2007. Afghanistan Energy Assistance Project (AEAP). http://www.aeaiinc.com/projects_afg-aeap.html

[21] Amin, Bernell, (Power Sector Reforms in Afghanistan: Barriers to Achieving Universal Access to Electricity), 2018.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

تطبیق او وغیره د خارجي سلاکارانو او ډونرانو په لاربنوونه کېدل[22]. ډونرانو د دې لوی لامل د افغانستان په حکومت کې د ظرفیت نه شتون یاداوه.

**د برېښنا شرکت د برېښنا له قانون څخه وړاندې وزیږید**

د ۲۰۰۳ کال څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې د برېښنا په سکتور کې د قانون جوړونې، د خصوصي سکتور د پانګې په جلبولو او هغه مهال د افغانستان برېښنا موسسې د شرکت په بدلولو باندې کوم د پام وړ کار ترسره نه شو. د ۲۰۰۸ کال په منځ کې د وزیرانو په مجلس (کابینې) کې دا پرېکړه وشوه چې د افغانستان برېښنا موسسه دې په شرکت بدله شي. د دې بدلون لوی هدف دا و چې د برېښنا په سکتور کې دې د شبکې تخنیکي او تجارتي عملیات او مدیریت د پالیسۍ او پلانګذارۍ څخه جدا شي او نوموړی شرکت دې وتوانېږي چې په خپلو عملیاتو کې اسانتیا، ښه والی او مثمریت راوړي او وتوانېږي چې خپل عواید لوړ کړي، ضایعات راکم کړي او په اوږد مهال کې پر ځان بسیا شي[23].

د افغانستان برېښنا موسسه له حکومتي تصدۍ څخه راووتله او پر شرکت بدله شوه، خو بیا هم تر ډېرو کلونو پورې یې د یوې تصدۍ په څېر فعالیت کاوه او سیاسي مداخلې پکې ډېرې وې او کاري استقلالیت یې ترلاسه نشو کړای. د افغانستان برېښنا شرکت په داسې وخت کې رامنځته شو چې لا د برېښنا پر قانون باندې کار نه وو پیل شوی، څو د برېښنا سکتور د تنظیم یا ریګولیشن لپاره لاره هواره کړي. د برېښنا شرکت پر فعالیت پیل وکړ، خو لا د تنظیم اداره نه وه رامنځته شوې. یعنې، د برېښنا تعرفه او د نورو خدمتونو بیه د یوې خپلواکې اداري پرته ټاکل کېدې او د سکتور چارې د یو بې طرفه جهت له څارنې پرته مخ ته وړل کېدې.

په ۲۰۰۸ کال کې یو ځل بیا د امریکا حکومت د AEAI شرکت سره، د دویم ځل لپاره قرارداد وکړ چې د برېښنا سکتور ظرفیت لوړ کړي او دا ځل یې پکې د برېښنا د قانون جوړول هم شامل کړل[24]. د همدې قرارداد له مخې امریکایي سلاکارانو د برېښنا پر قانون کار پیل کړ، څو لومړنۍ مسوده یې ترتیب کړي. د نوموړي قانون لومړنۍ مسوده په ۲۰۰۹ کال کې د اوبو او انرژۍ وزارت ته وسپارل شوه، خو د انرژۍ وزارت تر ۲۰۱۵ کال پورې ونه شو کولای چې منظوري یې له کابینې ترلاسه کړي. دا په دې دلالت کوي چې کار نړیوالو کارپوهانو کاوه او د

[22] Ibid.

[23] Da Afghanistan Breshna Sherkat (DABS), Articles of Association (AoA). 2008

[24] Advanced Engineering Associates International (AEAI), 2011. Human and Institutional Capacity Building for Afghanistan Energy and Natural Resources. http://www.aeaiinc.com/projects_afghanistan_hicb.html

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

افغاني ادارو او پرسونل ظرفيت څرنگه چې لازمه وه، په هغه ډول يې لوړ نشو کړای. د خارجي مشاورينو قرارداد چې تکميل شو، کار هم هملته ځنډنی شو، او اوه مهم او قيمتي کلونه پکې ضايع شول.

## د برېښنا د سکتور اوسنۍ ننگونې

افغانستان يو له هغه هېوادونو څخه دی چې خلک يې د برېښنا ډېره کمه انرژي مصرفوي. په اوسط ډول، يو کس په افغانستان کې په يو کال کې ۱۰۰ کيلوولټ ساعته انرژي مصرفوي، يا په بله معنی، يو شخص يوازې يو ۵۰ واټه ژېړ گروپ د ورځې د پنځه نيمو ساعتونو لپاره روښانه ساتلی شي، نور هيڅ نشي مصرفولای[25]. اوس مهال د افغانستان له ۳۰ څخه تر ۳۵ سلنه[26] خلک برېښنا ته لاسرسی لري، په کليو کې يوازې ۱۰ سلنه خلک برېښنا کارولای شي. برېښنا ته دا لاسرسي دوامداره نه دی، د برېښنا د کمښت له امله پر خلکو د برېښنا پرچاوي پلي کيږي، ځينې خلک د ورځې يوازې څو ساعته برېښنا کارولای شي او ځينو ته دوه ورځې وروسته د برېښنا نوبت ورسيږي، په ځانگړي ډول په ژمي کې د کابل اوسېدونکي له سختو پرچاويو سره مخ وي.

له بل پلوه، افغانستان د گاونډيو هېوادونو د برېښنا په وارداتو باندې متکي دی، اوس مهال د افغانستان ۸۱ سلنه برېښنا له گاونډيو هېوادونو څخه واردېږي[27]، گاونډيان په دې پوهېږي چې افغانستان د دوی انرژۍ ته اړتيا لري او کولای شي چې د قيمت د لوړولو ترڅنگ نور ډول فشارونه هم پر افغانستان وارد کړي.

همدارنگه د برېښنا په سکتور کې د مسلکي او تخنيکي ظرفيت نه شتون يوه لويه ننگونه ده. د ډيزاين، طرحه‌ريزی، پاليسۍ او مديريت څه نيولي تر د شبکې حفظ او مراقبت پورې د وړ افغاني پرسونل د روزنې په برخه کې پانگونه ډېره وشوه، خو اغيزمنتيا يې کمه وه، د دې لامل دا و چې ډونرانو د خپلو پروژو لپاره لنډمهالي قراردادیان استخدامول او د وزارتونو کارمندانو پر ځای روزنه او د کار اجرات د دغو لنډمهالي قراردادیانو او سلاکارانو لخوا ترسره کېدل[28]. اوس مهال د برېښنا سکتور بنسټونه وړ ظرفيتونه نه لري چې سکتور يوازې د

[25] Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR). Quarterly Report to the US Congress. 2016

[26] SIGAR, Quarterly Report to the US Congress. 2019

[27] SIGAR, Quarterly Report to the US Congress. 2019

[28] Amin, Bernell, (Power Sector Reforms in Afghanistan: Barriers to Achieving Universal Access to Electricity), 2018.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

افغانانو په مرسته اداره کړي، هم په تخنیکي او مدیریتي برخه کې او هم د پالیسۍ او ریګولیشن په برخه کې نړیوالو مشاورینو ته اړتیا لري.

بله لویه ننګونه دا ده چې د افغان حکومت او خارجي ډونرانو ترمنځ د پروژو په اړه روښانه او ټولو ته منل شوې اجنډا نشته. هره مرسته کوونکې اداره له مالیې وزارت سره په دوه اړخیزه تفاهم مخ ته ځي، خو د انرژۍ سکتور ټول اړوند وزارتونه او ادارې او د ټولو ډونرانو ترمنځ سمه همغږي نه ده رامنځته شوې. د جامع او هر اړخیزه پلان د نه شتون له امله د انرژۍ په سکتور کې ډېرې داسې پروژې جوړې شوي چې ګټه او مثمریت یې د افغانستان خلکو ته کم وو. د بېلګې په توګه، د تره خیلو ۱۰۰ میګاواټه ډیزلي دستګاه چې د۳۳۵ میلیونه ډالرو[29] بودجې سره د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو کې پرې کار روان وو، هغه مهال پرې د اوبو بند جوړېدای شو، خو له بدمرغه دا کار ترسره نه شو.

تر ټولو مهمه ننګونه د برېښنا په سکتور کې د حقوقي چوکاټ او د تنظیم د خپلواکې ادارې نه شتون دی، چې له امله یې د خصوصي سکتور پانګونه پنځلس کلونه وځنډېده او ۳۵ میلیونه خلکو ته د برېښنا لاسرسی یوازې حکومت او ډونرانو ته ور تر غاړې شو. دا هغه برخه ده چې پر حکومتي چارواکو اړه لري، نه کوم د اوبو بند دی چې اته کلونو وخت ته اړتیا ولري او نه هم داسې زیربنایې پروژه ده چې سلګونه میلیونو ډالرو ته پکې ضرورت وي، یوازې د قانون، مقرراتو او د یوې ادارې جوړول دي. د برېښنا قانون په اوه کلونو کې جوړ شو، د ادارې پر جوړېدلو څلور کلونه تېر شول، خو تر اوسه یې کار نه دی پیل کړی.

**د مخابراتو یا د ټیلیکام له سکتور سره د برېښنا د سکتور پرتله**

په داسې حال کې چې د برېښنا په سکتور کې قانون جوړوني[30] اوه کلونه ونیول او لا تراوسه د خدماتو د تنظیم ادارې پر کار پیل نه دی کړی، بله خوا د مخابراتو یا د ټیلیکام په سکتور کې د پام وړ پرمختګ وشو او اوس مهال د افغانستان په خصوصي سکتور کې د یوې بریالۍ نمونې په توګه یادېږي. که څه هم د پیریدونکو د حقونو د ساتنې په برخه کې خورا ډېرې ستونزې لري. خو بیا هم د افغانستان د مخابراتو سکتور وتوانیده چې له دوو

[29] Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR), Review of Sustainability of Operations at Afghanistan's Tarakhil Power Plant. 2014.

[30] Amin, Bernell, (Power Sector Reforms in Afghanistan: Barriers to Achieving Universal Access to Electricity), 2018.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

میلیاردو ډالرو[31] څخه زیاته پانګه را جلب کړي، او په دا ډول د حکومت لپاره د عوایدو یوه ښه سرچینه وګرځېده، او سلګونو خلکو ته یې د کار زمینه برابره کړه.

په ۲۰۰۲ کال کې د مخابراتو او ټیلیفون خدمات په افغانستان کې په نشت حساب وو، د ګرځنده ټیلیفون یا موبایل خدمات نه وو[32]. خلک مجبور وو چې له کلي څخه ښار ته ولاړ شي او د مخابراتو له ریاست څخه خپلو خپلوانو ته د هېواده بهر زنګ ووهي او یا مجبوریدل چې ګاونډیو هېوادونو ته د یو ټیلیفون لپاره ولاړ شي. د مخابراتو د سکتور لپاره د ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې سفر د سکتور د پراختیا په برخه کې بریالۍ وه، ننګونې یې هم درلودې چې لاندې به پرې بحث وکړو. د مخابراتو د وزارت او د اټرا اداري د ارقامو له مخې، اوس مهال د افغانستان ۹۰ سلنه[33] خلک موبایل او مخابراتي خدماتو ته لاسرسی لري. ۲۲ نیم میلیونه وګړي ګرځنده ټیلیفونونه کاروي، تقریباً اته میلیونه وګړي انټرنیټي خدماتو ته لاسرسی لري. همدارنګه شپږ مخابراتي شرکتونه په هېواد کې فعالیت کوي چې د ګرځنده ټیلیفون خدمات (غږیز، لیکلي پیغامونه او انټرنیټ) وړاندې کوي او ټول ټال څه کم اوه زره مخابراتي پایې[34] په ټول افغانستان کې نصب شوي دي. له دې سربیره، ٦٢ شرکتونه[35] یوازې د چټک انټرنیټ خدمات عرضه کوي.

په دې کچه پرمختګ د قوانینو او مقرراتو، حقوقي چوکاټ او د تنظیم له اداري پرته ناشوني وو. دا ډول اصلاحات یا ریفورم د هر هغه سکتور لپاره اړین دي چې عرضه کوونکي یې کم او پېردونکي یې عام ولس وي. د دې اصلاحاتو د تسلسل لړۍ په لاندې ډول وه:

**د مخابراتو په سکتور کې د اصلاحاتو لړۍ**

د ۲۰۰۲ کال په اواخرو کې د ولسمشر یو ځانګړی فرمان صادر شو چې د هغه وخت د مخابراتو وزارت ته یې اجازه ورکړه چې د مخابراتو جوازونه خصوصي سکتور ته ورکړي. په فرمان کې راغلي و چې وزارت دې د مخابراتو

[31] Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR). Afghanistan's Information and Communications Technology Sector Report. 2016

[32] Hamdrad, Javid, 2012. The State of Telecommunications and Internet in Afghanistan – Six Years Later (2006–2012), USAID Assessment Report. Kabul, Afghanistan

[33] Official Stats from MoCIT Website: http://atra.gov.af/en/page/telecom-statistics-2014

[34] Ibid.

[35] Ibid.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د سکتور لپاره قانون او پالیسۍ جوړې کړي[36]. د ۲۰۰۳ کال د جولای میاشت کې د مخابراتو د سکتور لپاره عمومي پالیسي د کابینې لخوا منظور شوه. په دې پالیسۍ کې راغلي و چې د مخابراتو د سکتور د تنظیم لپاره دې تر هغه پورې یو موقت بورډ جوړ شي ترو چې د تنظیم اداره پر خپل کار پیلوي. همدارنګه، د ۲۰۰۵ کال په ډسامبر کې د مخابراتو قانون تسوید او منظور شو. که دلته یوه پرتله وکړو، د مخابراتو د سکتور لپاره قانون په ۲۰۰۵ کال کې منظور او پلي شو، خو د برېښنا د سکتور د حقوقي چوکاټ لپاره هېڅ کوم اقدام نه وو شوی او د قانون تسوید یې په ۲۰۰۸ کې پیل شو او اوو کلونه وروسته په ۲۰۱۵ کال کې منظور شو.

د مخابراتو د سکتور د تنظیم اداره یا په مختصر شکل چې د اتړا په نوم یادېږي، په ۲۰۰٦ کې کې رامنځته شوه چې د مخابراتو د سکتور جوازونه، خدمات او نور فعالیتونه یې تنظیمول او څارل. د اتړا له رامنځته کېدو سره، نوموړې ادارې او د مخابراتو وزارت په ګډه د خصوصي سکتور لپاره د پانګونې درست چاپیریال جوړ کړی وو چې خصوصي سکتور په ډاډ سره پکې پانګونه کوله. د سیګار ادارې یو راپور وایي[37]، اګر چې نړیوالې ټولنې د افغانستان د مخابراتو د سکتور په وده کې مرسته کړې، خو د سکتور پر پښو ودرول او مخې ته وړل د افغان حکومت په نوښت او تر رهبرۍ لاندې ترسره کېده، ځکه اړین قوانین یې پر وخت جوړ کړل، حقوقي چوکاټ یې را منځته کړ او خصوصي سکتور یې وهڅاوه چې په اطمینان سره پانګونه وکړي. راپور وایي چې تر اوسه ۱۳۰ زره خلکو ته د مخابراتو په سکتور کې د کار زمینه برابره شوې او حکومت ته د مخابراتو له سکتور څخه ۱,۸ میلیارده ډالر په تېرو کلونو کې لاسته ورغلي.

د مخابراتو په سکتور کې د دا ډول ریفورم او اصلاحاتو نتیجه مثبته وه، او سکتور په ښه شکل وده وکړه. له بده مرغه، د برېښنا په سکتور کې ورته لرلید او تګلاره نه وه. له خصوصي سکتور څخه د پانګې را جلبولو لپاره هڅې ډېرې ناوخته - د ۲۰۱۲ کال څخه وروسته - پیل شوې او لا تراوسه حقوقي او او د تنظیم چارو چوکاټ یې نه دی بشپړ شوی.

### د مخابراتو د سکتور اوسنۍ ننګونې

د افغانستان د مخابراتو سکتور وتوانېده چې په مارکیټ کې سیالي رامنځته کړي، شپږو سترو مخابراتي شرکتونو او په لسګونو د انټرنیټ د خدماتو شرکتونو په سکتور کې د دوو میلیارده ډالرو په اندازه پانګونه وکړه، د حکومت

---

[36] Hamdrad, Javid, 2012. The State of Telecommunications and Internet in Afghanistan – Six Years Later (2006–2012), USAID Assessment Report. Kabul, Afghanistan

[37] Special Inspector General for Afghanistan Reconstruction (SIGAR). Afghanistan's Information and Communications Technology Sector Report. 2016

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

لپاره د کال تقریباً د ۱۴۰ میلیونو ډالرو د عوایدو سرچینه وګرځېده او په لکونو افغانانو ته پکې د کار زمینه برابره شوه، خو د خدماتو کیفیت او د پېردونکو له حقونو څخه ساتنه او د افغانستان کلیو ته نه پاملرنه هغه ننګونې دي چې د مخابراتو سکتور ورسره مخ دی.

په څو مختلفو څېړنو[38] [39] کې دا یادونه شوې چې خلک د مخابراتي شرکتونو له بې کیفیته خدماتو څخه ناراضه دي. هغه درې موارد چې د مخابراتي شرکتونو پیریدونکي ترینه سر ټکوي په لاندې ډول دي:

1. د شبکې محدود پوښښ.
2. د ټیلیفوني او انټرنیټي خدماتو ټیټ کیفیت.
3. د خدماتو د بیو لوړوالی، او په ځینو برخو کې د قیمت په اړه د پېردونکو نا خبره ساتل.

اټرا د پانګې په را جلبولو او د جواز په ورکړه کې بریالۍ وه، خو کله چې شرکتونو پر کار پیل وکړ او د پېرېدونکو شمېر تر ۲۰ میلیونو څخه واوښت، د ټولو مشتریانو له حقونو څخه یې په سمه توګه ساتنه ونه شوه کولای. شاید د دې لامل دا وي چې په اټرا کې د تخنیکي او مدیریتي ظرفیت کچه ټیټه ده. د سترو شرکتونو څارنه او تنظیم چې پېرېدونکي یې له میلیونونو څخه ډېر وي، د مدیریت او تخنیک له امله دروند او پېچلی کار دی. د سکتور له پراختیا سره د اټرا د ادارې او بشري ظرفیت پرمختګ هم اړین وو، چې له بده مرغه په هاغه شکل ترسره نه شو، څومره یې چې تمه وه.

بله ننګونه د مخابراتو په سکتور کې د مخابراتو د وزارت او د اټرا د خپلواکې ادارې ترمنځ په کارونو او د دندو په لایحه کې لاسوهنه او مداخله ده. د اټرا اداره له پېل څخه تر ۲۰۱٦ کال پورې د وزارت تر چتر لاندې فعالیت کاوه او د وزارت رهبرۍ پرې مستقیم اغیز درلود. د تنظیم اداره د کارونو د ښه موثریت لپاره باید خپلواکه وي، په ۲۰۱٦ کال کې د مخابراتو په قانون کې له ځینو تعدیلاتو وروسته، اټرا خپلواکه شوه، خو لا تر اوسه د وزارت تر اغیزو لاندې ده. د دې سربیره، د اټرا په چارو کې د ولسمشر د دفتر، اداره امور، د ملي شورای او د نورو سیاستوالو لاسوهنې د اټرا رول او انځور ته زیان رسوي. دا د خصوصي سکتور لپاره هم د منلو وړ نه ده چې د اټرا په چارو کې لاسوهنه وشي.

---

[38] Omar et al. Service Quality Factors Influencing Customer Satisfaction in Afghanistan's Mobile Telecommunication Industry. 2017

[39] Habibi et al. Measurement and Statistical Analysis of End User Satisfaction with Mobile Network Coverage in Afghanistan. 2017

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د دې لاسوهنو یو مثال د حکومت لخوا څخه د ټیلیکام سکتور په ټیلیفوني پېرېدونکو د کریډیټ کارت لس سلنې مالیې وضع کول او راټولول وو. د قانون له مخې[40]، د اړرا اداره مکلفه ده چې نوموړې مالیه د وزارت مالیې په مرسته راټوله کړي او د ټولې پروسې څارنه وکړي. د اړرا پر ځای د مخابراتو او مالیې وزارتونو دا کار مخې ته یووړ او مستقیماً یې پر شرکتونو دا مالیه وضع کړه او د مالیې راټولول یې په خپل لاس کې واخیستل او د اړرا اداره له پروسې څخه وویستل شوه.

د مخابراتو وزارت اعلان وکړ چې د لس سلنې مالیې راټولول به د «ریل ټایم» د څارنې د سیستم پر بنسټ کوي، لکه څنګه چې د مخابراتو خدمتونو باندې د محصول قانون هم همدا وړاندیزوي چې په شپږو میاشتو کې دننه باید د «ریل ټایم» د څارنې سیستم انلاین شي. د مخابراتو وزارت د اړرا پر ځای په دې پروسې کار کوي او د قانون له تصویب څخه څلور کلونه وروسته هم نوموړي وزارت نه دی بریالی شوی چې د «ریل ټایم» د څارنې سیستم انلاین کړي او ټول مخابراتي شرکتونه ورسره وصل کړي. د قانون له مخې باید د اړرا اداري دا پروسه رهبري کړې وه، خو د اړرا پر ځای د مخابراتو وزارت د قراردادي له پیدا کولو نیولې د قرارداد تر امضاء پورې هر څه پر مخ وړي، چې دا بیا عملاً د قانون ماتول دي.

**پایله او وړاندیزونه**

د ۲۰۰۲ کال څخه وروسته، کله چې په افغانستان کې د مارکیټ او سیالۍ پر اساس اقتصادي موډل غوره شو، د سکتورونو د ریګولیشن په اړه د افغانستان له حکومتونو سره باید واضحه کړنلاره موجوده وه. له بده مرغه، د افغانستان په هر هغه سکتور کې چې ولس ته یکې خدمتونه عرضه کېږي، هلته ریګولیشن له جدي ننګونو سره مخ دی. د خصوصي سکتور هغه کړۍ چې سیاستوالو سره نږدې اړیکې لري، هغه په یو نه یو ډول د خپلو ګټو او پانګونو ساتنه کوي، خو د خصوصي سکتور هغه برخه چې سیاستوالو ته لاسرسی نه لري او یا په اداري فساد کې برخه نه اخلي، د هغوی د پانګونو او ګټو څخه ساتنه نده شوې او له همدې امله په پراخه کچه په افغانستان کې د پانګه اچونې بهیر وده نده کړې.

د ریګولیش موخه دا ده چې د پېرېدونکو حقونه د خصوصي سکتور او شرکتونو له ناسم چلند څخه وساتي او خصوصي سکتور د حکومت د ناسمو پرېکړو او پالیسیو څخه وژغوري چې مالي زیان ونه ګالي. په دې برخه کې باید د خپلواکو تنظیم ادارو ته وده ورکړل شوې وه چې متخصص او مسلکي کدرونه یې رهبري کړي او د وزارتونو،

[40] د مخابراتي خدمتونو د محصول قانون، څلورمه او اوومه ماده

ولسمشرۍ دفترونو او سیاستوالو له اغیزو پرته ریگولیشن وکړي، له بده مرغه تر ننه پورې په دې لړلید باندې کار ونه شو.

د برېښنا په سکتور کې لومړی خو پکار دا وه چې په ۲۰۰۴ کال کې د حکومت لخوا د انرژۍ سکتور لپاره روښانه او عملي لرلید جوړ شوی وای، ورپسې قوانین او پالیسۍ یې په ۲۰۰۵ او ۲۰۰٦ کلونو کې ترتیب او نهایې کړی وای. خصوصي سکتور کولای شول چې په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کلونو کې په پراخه کچه پانگونه کړې وه، بلکل لکه څنگه چې د مخابراتو په سکتور کې ترسره شو، او له نشت څخه ټیلیفون او مخابراتو ته د خلگو لاسرسی تر ۹۰٪ سلنې ورسېد. د برېښنا سکتور مسوولینو د قانون جوړونې او حقوقي چوکاټ په رامنځته کولو کې ډېر ځنډ وکړ چې ارزښتمن چانس پکې ضایع شو. له بده مرغه حکومتي چارواکو، ډونرانو او د هغوی نړیوالو کارپوهانو په دې برخه کې پاملرنه ونه کړه.

د مخابراتو په سکتور کې د قانون او حقوقي چوکاټ په جوړولو کې پرمختگ وشو او پر وخت باندې گامونه پورته شول، خو د کیفیت، پوښښ او د پېرېدونکو له حقونو څخه سمه ساتنه نده شوې. لا تر اوسه د تنظیم اداره پوره استقلالیت نه دی ترلاسه کړی او د وزارتونو او سیاستوالو تر اغیزو لاندې ده. د اتړا اداره مکلفه ده چې د افغانستان ولس ته دا روښانه کړي چې د ټیلیکام په سکتور کې روڼتیا شته او د افغانستان د خلکو او اقتصاد اړوند عادلانه پریکړې پکې اخیستل کېږي. د اتړا اداره باید د افغانستان خلکو ته دا ډاډ ورکړي چې خصوصي سکتور به د هغوی تر څار لاندې ناعادلانه کړنې نه ترسره کوي، او همدارنگه حکومت هم دې ته نه پرېږدي چې د ډېرو سختگیرو له امله خصوصي سکتور دې ته اړ کړي چې خپل دفترونه وتړي او د خدماتو د عرضه کولو لړۍ زیانمنه کړي.

د برېښنا د سکتور لپاره مو وړاندیز دا دی چې ژر تر ژره دې د تنظیم خپلواکه اداره رامنځته شي، د برېښنا قانون دې تعدیل شي چې د تنظیم اداره د انرژۍ وزارت پورې ونه تړي. د ادارې په رهبرۍ کې دې وړ خلک وگماري او حکومت دې د سیاسي او بیروکراتیکیو لاسوهنو مخه ونیسي. بل وړاندیز دا دی چې د اوبو او انرژۍ وزارت اداري جوړښت دې د یوې پالیسي سازه ادارې لپاره جوړ شي، نه دا چې د پروژو تطبیق وکړي او د برېښنا په شبکې کې مداخله وکړي. تر اوسه د انرژۍ وزارت د انتقال د لینونو او سب سټیشنونو پروژې تطبیقوي چې دا د پالیسي جوړونکي وزارت په دندو کې نه راځي. همدارنگه، د افغانستان برېښنا شرکت دې د پالیسۍ او رېگولیشن په برخه کې لاسوهنه نه کوي او تمرکز دې د شبکې پر مدیریت او عملیاتو وکړي.

په اوس وخت کې خصوصي سکتور ته په دوو برخو کې سخته اړتیا ده چې پانګونه وکړي: د برېښنا د تولید په برخه کې او دویم، د برېښنا د توزیع او د پېربدونکو د میټرونو په نصب، میټر لوستل او د بیلونو په ویش کې کار وکړي. د برېښنا د تنظیم اداره دې خصوصي سکتور ته د برېښنا د تولید جوازونه ورکړي چې د هېواد په مختلفو برخو کې برېښنا تولید کړي او په دا ډول پر وارداتو اتکاء را کمه شي. همدارنګه، د پنځو لویو ښارونو، هر یو کابل، کندهار، هرات، ننګرهار او مزار شریف د توزیعي شبکو مدیریت دې خصوصي سکتور ته وسپاري. د حکومت مسوولین او د برېښنا شرکت چارواکي دې په دې غور وکړي چې شبکه په خصوصي سکتور پلوري او که د ۱۵ یا ۲۰ کلونو لپاره یې په اجاره ورکوي، پر دواړو موډلونو دې غور وکړي، خو دا ضروري ده چې شبکې پر زونونو وویشل شي او د خدماتو عرضه خصوصي سکتور ته ورکړل شي. له دې سره به خلکو ته د برېښنا لاسرسی زیات شي، تر کلیو به برېښنا ورسېږي او د برېښنا په کیفیت کې به ښه والی راشي.

د مخابراتو په سکتور کې وړاندیز دا دی چې د اترا ادارې ته دې بشپړ استقلالیت ورکړل شي او نور جهتونه دې پکې لاسوهنه نه کوي. د اترا ادارې په رهبرۍ کې دې وړ او باتجربه خلک وګماري چې دا توانایي ولري چې ستر او مغلق مخابراتي شرکتونه چې پېربدونکي یې له میلیونونو څخه اوړي، تنظیم کړای شي. د اترا ادارې د تخنیکي او مدیریتي ظرفیت د لوړولو بهیر پیل شي، د نړۍ د نورو ټیلیکام د تنظیم ادارو سره دې مجلسونه او راشه درشه پیل کړي چې د هغوی له تجربو څخه زده کړه وکړي. د سیاسي او شخصي موخو لپاره د سکتور رېګولیش کمزوري کول، د تنظیم ادارې بې ارزښته او بې تاثیره کول به لویه تېروتنه وي.

## د افغانستان-ایران اړیکې او د «اوبو سیاست»

**حکمت الله ځلاند[41]**

**لنډیز**

*د افغانستان اوبه په پنځو حوزو وېشل شوې، چې څلور هغه یې فرامرزي یا له نورو هېوادونو سره ګډې حوزې دي. افغانستان تراوسه یوازې د هلمند سیند په حوزه کې له ایران سره د 1973 کال د اوبو د وېش تړون لري، چې له بده مرغه د دغه تړون شتون هم له ایران سره د اوبو د وېش شخړه په بشپړ ډول نه ده هواره کړې او له*

[41] ښاغلی حکمت الله ځلاند د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز پخوانی څېړونکی دی او اوسمهال په کاردان پوهنتون کې په نړېوالو اړیکو کې ماستري کوي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

*کبله یې دغه هېواد وخت ناوخت پر افغانستان بېلابېل ډوله فشارونه واردوي. له همدې کبله له ایران سره د ګډو اوبو اړوند ستونزو د هوارې جدي اړتیا لیدل کېږي.*

*افغانستان د اوبو د کابو ټولو ګډو حوزو په پاسنۍ برخه کې پروت دی، چې له کبله یې د لاندې برخې هېوادونه د دغو اوبو په تړاو خپلې اندېښنې لري؛ دا چې له ایران سره پر ګډو اوبو شته ستونزو څه اغېزې لرلې، د ایران اندېښنې څه دي او دا اندېښنې څومره پر ځای دي، هغه پوښتنې دي چې په دې مقاله کې یې د ځوابولو هڅه شوې ده.*

*د دغو پوښتنو د ځوابولو لپاره له شته اسنادو او باوري څېړنو او دغه راز ځینو مرکو څخه کار اخیستل شوی. په ټولیز ډول، دا څېړنه ښیي چې له ایران سره د اوبو د ستونزو یو مهم لامل شته بې‌باوري، کمزورې همغږي او د ګډو اوبو د کچې په اړه د کره او دقیقو موادو او معلوماتو نشتون دی او له همدې کبله په ځینو مواردو کې د ایران اندېښنې هم تر ډېره پر ځای نه دي؛ خو بیا هم له ایران سره د ګډو اوبو اړوند شخړو شتون د اوبو پر سکتور خورا منفي اغېزې لرلې او په ځانګړې توګه په دې سکتور کې د نړیوالو ډونرانو د پانګونو مخه یې ډب کړې ده.*

**کیلي: د افغانستان اوبه، د هلمند د اوبو تړون، ګډې اوبه، د اوبو سیاست، د اوبو امنیت، افغان-ایران اړیکې پېژندنه**

له نورو هېوادونو سره د شریکو اوبو په برخه کې تر ټولو ډېرې ستونزې، هم په تېر کې او هم اوسمهال، له ایران سره د افغانستان د تر ټولو اوږده او ستر سیند (هلمند) د اوبو په تړاو دي او له همدې کبله د اوبو یوازېنی تړون هم له دغه هېواد سره د هلمند د اوبو د وېش په اړه لاسلیک شوی دی. له بده مرغه د دغه تړون شتون هم دا ستونزې په بشپړ ډول له منځه نه دي وړې. له ایران سره د اوبو د وېش د ستونزې ژورتیا ته په کتلو سره، دا موضوع د نورو حوزو په پرتله یو څه ژورې کتنې او څېړنې ته اړتیا لري، ترڅو د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو په تړاو د شخړو اساسي لاملونه روښانه او حل‌لارې ورته وړاندې شي.

د هلمند د سیند ترڅنګ د هریرود-مرغاب حوزه هم له ایران سره ګډه حوزه ده، چې په اړه یې تراوسه کوم تړون هم نه دی لاسلیک شوی. هریرود سیند د هېواد په لوېدیځ کې ایران ته له داخلېدو مخکې له هغه هېواد سره د افغانستان پوله جوړوي او د افغانستان له خاورې له وتلو وروسته لومړی ایران او بیا ترکمنستان ته بهېږي؛ خو

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

مرغاب سیند بیا نېغ په نېغه له افغانستانه د ترکمنستان قرقوم دښتې ته بهېږي او افغانستان له دغه سیند څخه ډېره لږه استفاده کوي؛ له همدې کبله د ګډو اوبو په تړاو د بحثونو ډېره لږه برخه هم جوړوي.[42]

د 2016 کال په جنوري کې ایران ته د افغانستان د اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله د سفر پر مهال له ایراني چارواکو سره هوکړه وشوه، چې د هریرود سیند د اوبو د وضعیت او وړتیا په تړاو د څېړنو لپاره به ګډه کاري‌ډله جوړوي تر څو د نړیوالو قوانینو له مخې له دغو اوبو عادلانه کار اخیستنې ته لاره هواره شي. همدا راز د هلمند سیند د اوبو په اړه 1973 کال تړون د هر اړخیز پلي کېدو او په دې تړاو د اړوندو مسؤولینو پر منظمو ناستو هوکړه وشوه، خو تراوسه په دې تړاو عملي اقدام نه دی شوی.[43] د هریرود سیند د راتلونکي وضعیت په تړاو مشخصې وړاندوینې نشته؛ خو په هرات ولایت او د ایران په اړخ کې د اوبو تقاضا مخ په زیاتېدو ده، کوم څه چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو پر اړیکو پاموړ اغېزې ښندي.[44] ترڅنګ یې په وروستیو کلونو کې پر دغه سیند د هند له لوري جوړ شوي سلما بند د پروژې بشپړېدو هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډو اوبو موضوع لا ډېره توده کړه.

## د مقالې جوړښت او مېتودولوژي

دغه مقاله په پنځو برخو کې وېشل شوې ده. په لومړۍ برخه کې د افغانستان د اوبو حوزې په تېره بیا د هلمند سیند او د هریرود-مرغاب حوزې او دا چې د اوبو امنیت ولې د افغانستان لپاره مهم دی په لنډیکي توګه بیان شوې. په دویمه برخه کې، له ایران سره د اوبو شخړې مخینه بیان شوې. په درېیمه برخه کې د ایران اندېښنې په نښه شوې، په څلورمه برخه کې بیا پر دوه اړخیزو اړیکو د اوبو سیاست اغېزه ښوول شوې او په پنځمه یعنې وروستۍ برخه کې پایله او د پالیسۍ جوړونې په تړاو یو شمېر سپارښتنې وړکړل شوې دي.

دغه مقاله د یو شمېر شته اسنادو، د تحقیقاتي مراکزو د څېړنو د پایلو او د څېړونکي د مرکو په رڼا کې لیکل شوې، چې حوالې یې په لمن لیکونو کې ښودل شوې دي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[42] Duran Research & Analysis, A Review of Current and Possible Future Relations in Kabul River Basin, Oct 2017, Page 4.

[43] Office of the Chief Executive of Afghanistan, Joint Statement of the Islamic Republic of Iran and the Islamic Republic of Afghanistan, 06 Jan 2016, see online: http://ceo.gov.af/fa/news/58836

[44] Paula Hanasz, FDI (Future Directions International), The Politics of Water Security between Afghanistan and Iran, 1 March 2012, see it online: http://www.futuredirections.org.au/publication/the-politics-of-water-security-between-afghanistan-and-iran/

# لومړۍ برخه؛ د افغانستان د اوبو حوزې

افغانستان د اوبو پنځه ستري حوزې او 36 فرعي حوزې (مرستندوی سیندونه) لري. پینځه ستري حوزې یې آمو سیند، هریرود-مرغاب سیند، هلمند سیند، کابل سیند او د کابل په شمال کې بهېدونکي سیندونه دي، چې د شمال حوزه هم بلل کېږي.[45]

دا چې زموږ د مقالې موضوع یوازې تر ایرانه محدوده ده، نو ځکه به په لنډه توګه دلته د هلمند سیند، د هریرود-مرغاب سیند پېژندنه وړاندې کړو او ورپسې به جوخت دا هم بحث کړو، چې د اوبو امنیت د افغانستان لپاره ولې ارزښتناک دی؟

## د هلمند سیند حوزه

هلمند سیند د افغانستان ستر او اوږد سیند دی، چې اوږدوالی یې 1150 کیلومترو ته رسېږي او د افغانستان په سوېل لوېدیځ کې بهېږي.[46] د افغانستان د اوبو د ټولو حوزو 41 سلنه سیمه په دې حوزه کې راځي، د هېواد 31 سلنه کرنیزه ځمکه او 28 سلنه نفوس تر پوښښ لاندې لري او د افغانستان د اوبو د ټولو سرچینو 10 سلنه برخه جوړوي. د اوبو اخیستلو ټوله ساحه یې 262341 کیلومتره مربع ته رسېږي او په تخمیني ډول هر کال 9.30 ملیارد متر مکعب اوبه پکې بهېږي، چې په پراخه کچه د اوبو لګونې او برېښنا د تولید وړتیا لري.[47]

د هلمند سیند د کابل په لوېدیځ کې د بابا غرونو د سوېلي برخې له شېلو څخه په 4400 متره لوړوالي سرچینه اخلي[48] او له ختیځ څخه د لوېدیځ په لور بهېږي. د میدان وردګو ولایت له لوېدیزې پولې څخه له تېرېدو وروسته د بامیانو او اروزګان سوېلي برخو ته ننوځي. د دغه سیند یوه شېله له اوونۍ درې څخه د هلمند په کجکي ولسوالۍ کې راوتلې ده. د کجکي بند له تېرېدو وروسته نور هم پراخېږي او د برېښنا د تولید لپاره د اوبو د بندونو د جوړېدو مناسبې سیمې لري. په کمال خان سیمه کې د شمال لور ته مسیر بدلوي او افغانستان-ایران

[45] Journal of Water Studies, Afghanistan Transboundary Waters: Perspectives on International Law and Development, Page 127.

[46] Helmand River, Britannica, see: https://www.britannica.com/place/Helmand-River

[47] Afghanistan's Trans-Boundary Waters: An Overview, 2015, Helmand River Basin, Page 9.

[48] Rivers Network, Environmental Challenges in Trans-Boundary Waters, Case Study: Hamoon Hirmand Wetland (Iran and Afghanistan), 9 July 2012, see: http://www.riversnetwork.org/rbo/index.php/river-blogs/near-east/item/1498-environmental-challenges-in-trans-boundary-waters-case-study-hamoon-hirmand-wetland-iran-and-afghanistan

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

پولې ته رسېږي. د پولې په اوږدو کې په دوو برخو وېشل کېږي. د سیستان شاخه یې کیڼ لوري ته ځي او ایران ته ننوځي او د نادعلي شاخه یې ښي لوري ته اوړي او له ایران سره لوېدیزه پوله جوړوي.[49]

ارغنداب سیند یې تر ټولو مهم مرستیال سیند دی. نور مرستیال سیندونه یې هم ترنک، ادرسکن، ارغستان، فراه رود، خاشرود، سیستان-هلمند، سردې او غزني سیندونه دي، چې په ټول سوېل لوېدیځ کې شاوخوا 140 زره کیلومتره سیمې خړوبوي.[50] د هلمند سیند په افغانستان او ایران کې پراخې ځمکې خړوبوي، چې په افغانستان کې یې 97 سلنه اوبه په کرنیز سکتور کې او په ایران کې یې 80 سلنه په کرنیز سکتور کې لګول کېږي.[51]

## د هریرود-مرغاب سیند حوزه

د هریرود-مرغاب حوزې دوه اساسي سیندونه هریرود او مرغاب سیندونه دي. دا سیند د بابا غرونو له لوېدیزو څنډو سرچینه اخلي او له افغانستانه له وتلو وروسته ایران او بیا ترکمنستان ته بهېږي. دا سیند ختیځ لوري ته بهېږي او له هرات وروسته لومړی شمال لوېدیځ او بیا شمال لوري ته تاوېږي؛ له اسلامقلعې څخه تر دهنه ذوالفقار پورې د افغانستان او ایران ترمنځ د پولې شمالي برخه جوړوي او وروسته بیا تر سورخس پورې د ایران او ترکمنستان ترمنځ د پولې سوېل ختیزه برخه جوړوي او په پای کې د ترکمنستان په قرقوم دښته کې پای ته رسېږي. په هرات کې سلما بند او دغه راز د ایران-ترکمنستان د دوستۍ بندونه پر همدغه سیند جوړ شوي دي.[52]

مرغاب سیند که څه هم د تیربند ترکستان غرونو له لوېدیزو څنډو او د سپین غره له شمالي څنډو سرچینه اخلي او تر ډېره شمال لوري ته بهېږي؛ خو له هریرود سیند سره یو ځای دواړه سیندونه د ترکمنستان د قرقوم دښتې قاسس سیمه کې ماري او تېجبن د اوبو لګونې کانالونو ته تویېږي.

[49] Afghanistan's Trans-Boundary Waters: An Overview, 2015, Helmand River Basin, Page 9.

[50] Helmand River Geography, see online: http://www.iranicaonline.org/articles/helmand-river-i

[51] FDI Future Directions International, The Politics of Water Security between Afghanistan and Iran, 1 March 2012, see the link bellow:
http://www.futuredirections.org.au/publication/the-politics-of-water-security-between-afghanistan-and-iran/

[52] Tehran Times, Iran-Afghanistan Agree on Transboundary Waters, June 27 2018, see online:
https://www.tehrantimes.com/news/424839/Iran-Afghanistan-agree-on-transboundary-waters-says-ambassador

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

په هریرود-مرغاب حوزه کې هر کال شاوخوا 3.06 ملیارد متر مکعب اوبه بهېږي او د اوبو اخیستلو ساحه یې 77604 کیلومتر مربع ته رسېږي. دا سیند د افغانستان د اوبو د ټولو حوزو 12 سلنه، د هېواد د ټول نفوس 8 سلنه او د ټولې کرنیزې ځمکې 11 سلنه برخه تر پوښښ لاندې لري.[53]

**تصویر-2: له ایران سره شریکې اوبه**




**ولې د اوبو امنیت مهم دی؟**

د اوبو او ورښتونو د کچې کمښت او د اوبو له کبله په نړیواله کچه راټوکېدونکې ستونزې د روانې پېړۍ له پیله د بحث توده موضوع ده.

په دې تړاو د نړیوال بانک د پخواني مرستیال، د 1995 کال وړاندوینه مشهوره ده، چې وایي: په 20مه پېړۍ کې ډېرې شخړې او جګړې د تېلو په اړه وې، خو د 21مې پېړۍ ډېرې جګړې به پر اوبو وي.[54]

Center for Strategic a

---

[53] Afghanistan's Trans-Boundary Waters: An Overview, 2015, Harirod-Murghab River Basin, Page 11-13.

[54] Global Water Forum, Water wars, maybe, but who is the enemy?, 10 April 2013, see online: http://www.globalwaterforum.org/2013/04/10/water-wars-maybe-but-who-is-the-enemy/

Also: UNESCO, There is no evidence of coming 'water wars': http://www.unesco.org/new/en/natural-sciences/resources/periodical/a-world-of-science/vol-11-n-1/in-focus-water-cooperation/water-wars/

د نړیوال بانک د څېړنو له مخې، اوسمهال د نړۍ 80 هېوادونه د اوبو له کمښت سره مخ دي او 2.8 ملیارده خلک په هغو سیمو کې ژوند کوي، چې په لوړه کچه د اوبو د کمښت له فشار سره مخ دي. داسې تمه کېږي، چې دا کچه به تر 2030 کال پورې 3.9 ملیارده تنو (د نړۍ نژدې نیمایي نفوس) ته ورسېږي.[55]

د ملګرو ملتونو د وړاندوینې له مخې، د 21مې پېړۍ تر نیمایي پورې به د ځمکې د اوبو د ضایع کېدو او ککړېدو له کبله نږدې د ټولې نړۍ 70 سلنه وګړي (شاوخوا 7 ملیارده تنه) د خوړو اوبو له کموالي سره مخ شي. همدا لامل دی، چې ورځ تر بلې د اوبو اړتیا او اهمیت زیاتېږي او افغانستان هم د هغو هېوادونو په کتار کې دی، چې د اوبو له کمښت سره مخ دي. د اوبو کمښت په ځانګړې توګه زموږ پر هېواد په لاندې برخو کې اغېزې ښندلې او په هېواد کې یې د اوبو اړتیا او اهمیت لا ډېر لوړ کړی دی:

**الف: د ګاونډیو هېوادونو لاسوهنې**

په داسې حال کې چې اقلیمي بدلونونو او د ورښتونو د کچې کمښت په نړیواله کچه ګڼ شمېر سیمې ځپلې دي، د ملګرو ملتونو په ګډون ګڼې نړیوالې اداري او پالیسي جوړوونکي په دې اند دي، چې په نړۍ کې به راتلونکې ډېرې شخړې پر اوبو وي او هر څومره چې د اوبو کچه کمېږي، همدومره یې له کبله شخړې او کشمکشونه هم زیاتېږي. افغانستان هم له یوې خوا د وچکالۍ ځپلو هېوادونو په کتار کې راځي او له بلې خوا عملا له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو پر سر اختلافات لري. همدا لامل دی، چې په افغانستان کې د ایران او پاکستان د لاسوهنو یو لامل ګڼل کېږي اوبه بلل کېږي او دغه هېوادونه هڅه کوي، چې افغانستان د دغو اوبو د مدیریت مجال پیدا نه کړي. په دې تړاو ایران تر جدي شکونو او نیوکو لاندې دی، چې د افغانستان په خاوره کې د بندونو د جوړولو پر پروژو مخفیانه بریدونه کوي او د دغو پروژو د ځنډولو هڅې کوي. کمال خان، بخش‌آباد او سلما هغه بندونه دي، چې د پروژو د تخریب او کار درولو په موخه یې پر ایران د لاسوهنو او مخفیانه بریدونو له کبله نیوکې شته دي.[56] دغه راز د 2018 کال په مې میاشت کې د فراه ولایت پر مرکز د دولت د وسله‌والو مخالفینو له برید وروسته د افغانستان د دفاع وزیر دا جګړه د اوبو جګړه وبلله.[57] په همدې توګه پر پاکستان هم

[55] Erik Rasmussen, Prepare for the Next Conflict: Water Wars, 12 Jun 2011, see online: https://www.huffingtonpost.com/erik-rasmussen/water-wars_b_844101.html

[56] Thomas, Vincent and others. Developing transboundary water resources: What perspectives for cooperation between Afghanistan, Iran and Pakistan?. Published by AREU. 2016. P 46.

And: Environment News Service. Iran Accused of Trying to Halt Afghanistan's Salma Dam. 16 Feb 2010, see online: http://www.ens-newswire.com/ens/feb2010/2010-02-16-01.html

[57] Pajhwok, War in Farah is on water management, says Bahrami, 20 May 2018, see the link bellow:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ورته نیوکې او تورونه شته دي او په ځانګړې توګه تر کابل سیند لاندې سیمو کې د جوړېدونکو بندونو (د بېلګې په توګه پر کونړ سیند جوړېدونکی بند) پر پروژو پاکستان پر مخفیانه تخریبي بریدونو او یا په دغسې بریدونو کې پر لاس لرلو تورن دی.[58] اصلا ایران او پاکستان په دې اند دي، چې په افغانستان کې د بندونو له جوړېدو سره د دوی ګټې له ګواښ سره مخ کېږي؛ ځکه په تېرو کلونو کې په افغانستان کې د اوږدو بې‌ثباتیو له کبله د افغانستان اوبه دغو هېوادونو ته په وړیا ډول ورغلې دي.

## ب: کرنیز سکتور او اقتصادي وضعیت

د کرنې سکتور نېغ په نېغه د اوبو له وضعیت سره تړلی دی، چې 95 سلنه اوبه پکې مصرفېږي او اوسمهال دا سکتور د ټول هېواد په کچه د اوبو له کمښت سره مخ دی. په 1970 کال کې په افغانستان کې 3.3 ملیون هکتاره ځمکه خړوبېدله؛ خو دا کچه په 2008 کال کې 1.8 ملیون هکتاره کرنیزې ځمکې ته راټیټه شوې وه. له دې جملې 10 سلنه یې له عصري لارو چارو په ګټې اخیستنې سره خړوبېږي او د ژورو څاه‌ګانو په څېر په دودیزو تګلارو تکیه کېږي، چې د اوبو د کچې په کموالي کې رول لري. له اوبو څخه د اغېزناکې ګټې اخیستنې په موخه د اوبو د مدیریت او پراختیا په سیستمونو او میکانیزمونو کې د پانګونې نشتون یوه له هغو نګونو ده، چې په دې برخه کې د ستونزو د زیاتېدو لامل شوې ده.[59]

د کرنې سکتور د افغانانو د اقتصاد 78 سلنه برخه جوړوي او شاوخوا 84 سلنه اوبه هم د ځمکو د خړوبولو لپاره کارول کېږي، چې په دې برخه کې پر بنسټیزو منابعو، لکه کارېزونو تمرکز، پام‌وړ پایله لرلې ده. د اوبو او انرژۍ وزارت د معلوماتو له مخې، په هېواد کې د اوبو لګونې سرچینې له سیندونو 84.6 سلنه، له ابشارونو 7.9 سلنه او له کاریزونو 7.5 سلنه دي. دا وېشنه د دې ښودنه کوي، چې له بده مرغه په افغانستان کې د کارېزونو سیستم ته ډېره پاملرنه نه ده شوې. په داسې حال کې چې کارېزونه نه یوازې دا چې د اوبو د زېرمه کولو بلکې د نورو اغېزناکو موخو لپاره هم کارول کېږي.[60]

---

https://www.pajhwok.com/en/2018/05/20/war-farah-water-management-says-bahrami

[58] Price, Gareth et al. Attitudes to Water in South Asia. Chatham House. June 2014. P 42.

[59] Duran Research & Analysis. (2015). Afghanistan's Trans-Boundary Waters: An Overview. Water Sector and Water Resource Development, Page 1-3.

[60] Danish, Mir Sayed Shah and others, Journal of Water Studies, Volume 1, Issue 1, 2017, "Water Resources and Hydropower Energy for a Long-Run Sustainability", Page 130-131.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د افغانستان 77 سلنه نفوس په کليو او بانډو کې ژوند کوي، چې کرنه او مالداري يې د ورځني ژوند د لګښتونو او اقتصاد عمده برخه جوړوي. د افغانستان د ټول نفوس 59 سلنه وګړي په دې برخه کې مشغول دي او له همدې کبله د کرنې سکتور ونډه په ناخالصو داخلي توليداتو کې هم 30 سلنه ده. په دې توګه اوبه د دې سيمې لپاره په اقتصادي وده، سياسي ثبات او غذايي امنيت کې خورا مهم رول لري.[61]

د دې ترڅنګ، افغانستان له ګاونډيو هېوادونو څخه د برېښنا واردولو ته اړ دی او شاوخوا 80 سلنه برېښنا له ايران، ترکمنستان، تاجکستان او ازبکستان څخه واردوي او هر کال مليونونه ډالره پرې لګوي. افغانستان دا مهال د 240 مېګاواټه برېښنا د توليد وړتيا لري، چې له اوبو څخه د 23 زره ميګاواټه برېښنا د توليد د وړتيا ايله يو سلنه جوړوي او دا وضعيت د صنعت پر سکتور او اقتصادي وده نېغ په نېغه اغېزه لري.[62] څکه نو د اوبو د تنظيم لپاره د کافي زېربناوو نشتون د هېواد د اقتصادي او بشري ودې پر وړتيا هم ناوړه اغېزې ښندلې دي. په داسې حال کې چې د اسيا د پرمختيايي بانک د شمېرو له مخې نږدې 40 سلنه افغانان عملا د بېوزلۍ تر کچې لاندې ژوند کوي[63] او د نړيوال بانک شمېرې ښيي، چې د بې‌کارۍ کچه هم خورا لوړه ده.[64]

**ج: د څښاک پاکو اوبو ته نه لاسرسی**

دا مهال يوه ستره ننګونه پاکو اوبو ته نه لاسرسی دی. په افغانستان کې تر ځمکې لاندې اوبو سرچينې په لوړه کچه تر فشار لاندې دي او تر نيمايي زياتې اوبه د پمپونو په مرسته را ايستل کېږي، چې له دغو سرچينو تر ټولو ډېره استفاده په کابل ښار کې ده. په وروستيو کلونو کې د کډوالو زياتېدونکی شمېر او د نفوس چټکه پراختيا د ځمکې لاندې اوبو د کموالي او په پراخه کچه د اوبو د څاه‌ګانو د وچېدو لامل شوې ده. د يوې ازموينې له مخې په 40 کلونو (1965-2005) کې د دې سيمې اوبه 6 تر 7 متره پورې ښکته تللې وې. د اوبو د کچې د ټيټوالي ترڅنګ د اوبو د کيفيت په تړاو هم جدي اندېښنې شته دي او په دغه ښار کې تر ځمکې لاندې اوبه په پراخه

---

[61] A Review of Current and Possible Future Relations in Amu River Basin, Published by Duran Research & Analysis, Oct 2017, Page 1.

[62] Ibid Page 21.

[63] Asian Development Bank, Poverty in Afghanistan, 2018, see the link bellow: https://www.adb.org/countries/afghanistan/poverty

[64] The World Bank In Afghanistan: http://www.worldbank.org/en/country/afghanistan/overview

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کچه ککړې شوې دي. تر 86 سلنه زيات خلک يوازې يو ساده د ککړو اوبو څاه لري، چې په معياري ډول نه پاکېږي او له کبله يې يو شمېر مرکبات لکه نايترت، سلفېټ او ځينې باکټرياوې لړ ژورو اوبو ته رسېږي.[65]

د ځينو نړيوالو ادارو د راپورونو له مخې، د پلازمېنې په ګډون د ټول هېواد په کچه د څښاک پاکې اوبه له يوې خوا په پراخه کچه کمې شوې دي او له بلې خوا په معياري توګه نه کارېږي او د څښاک د پاکو اوبو ستونزې د روغتيا پر سکتور هم خورا منفي سيورى غوړولى دى.[66] ځينې څېړني ښيي، چې که د پلازمېنې اوبو ته پام ونه شي، يوه لسيزه وروسته به په کابل کې د څښاک پاکې اوبه نه موندل کېږي.

## د: اوبو کچه او وروستۍ وچکالۍ

په افغانستان کې د ورښتونو کلنۍ کچه متفاوته ده، چې تر ټولو ډېره يې په شمال ختيزو سيمو کې او کمه يې په سوېلي سيمو کې، په وچو او دښتو لرونکو برخو کې ده. په سوېل کې د ورښت کچه هر کال له 100 تر 300 ملي‌مترو پورې رسېږي او په لوېديزو سيمو کې له 200 تر 400 ملي‌مترو پورې تخمينېږي. اوسط کلنۍ کچه يې 77 ميلي‌متره په زرنج کې او 1170 ملي‌متره په سالنګ کې تخمين شوې ده او د ټول افغانستان په کچه بيا هر کال د ورښت کچه 285 ملي‌متره اټکل شوې ده.[67] په اوسط ډول هر کال په افغانستان کې د 165000 مليون متر مکعب ورښت په پايله کې 57000 مليون متر مکعب د ځمکې پر مخ بهېدونکې اوبه توليدېږي، چې في نفر کچه يې په کال کې 2280 تر 2775 متر مکعب پورې تخمين شوې ده.[68]

په نورمالو کلونو کې د افغانستان ټولې کلنۍ اوبه 75 ميليارد متر مکعبه اټکل شوې دي، چې 57 مليارد متر مکعب يې د ځمکې د سطحې او 18 مليارده متر مکعب يې د ځمکې لاندې سرچينو اوبه دي. داسې تخمينونه شته دي، چې د افغانستان له ګډو اوبو څخه 40 مليارد متر مکعب يې ګاونډيو هېوادونو ته ځي او افغانستان په ټوليز ډول له خپلو ټولو سطحي او تر ځمکې لاندې اوبو څخه يوازې شاوخوا 25 سلنه (20 مليارد متر مکعب) يې خپله مصرفوي او پاتې 75 سلنه يې ګاونډيو هېوادونو ته بهېږي (جدول-2).[69] که څه هم، د اوبو او انرژۍ وزارت

[65] A Review of Current and Possible Future Relations in Kabul River Basin, Published by Duran Research & Analysis, Oct 2017, Page 16-17.

[66] UNHCR, Afghan Returnees and the Safe Drinking Water Problem, see: http://www.unhcr.org/430b06782.pdf

[67] Journal of Afghanistan Water Studies, Volume 1, Issue 1, 2017, Water Resources and Hydropower Energy for a Long-Run Sustainability, Page 124.

[68] Afghanistan's Trans-Boundary Waters: An Overview, 2015, Page 1.

[69] Karim Popal. Water resources management in Afghanistan. Payam-aftab. 30 Nov 2011, see online: http://bit.ly/WrminAF

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

چاړواکو د معلوماتو له مخې، افغانستان له خپلو ټولو 75 ملیارد متر مکعب اوبو څخه یوازې 30 سلنه یې خپله کاروي او پاتې 70 سلنه ګاونډیو هېوادونو ته ځي.[70]

د وروستیو کلونو وچکالیو د افغانستان د اوبو کچه هم پام وړ کمه کړې ده. د افغان چارواکو په وینا، د افغانستان د پنځو حوزو اوبه په ټولیز ډول 14 سلنه کمې شوې دي او د ټولو 57 ملیارد متر مکعب سطحي اوبو کچه، اوس 49 ملیارد متر مکعب ته رانښکته شوې ده.[71] د وروستیو کلونو د وچکالیو له کبله، په ډېرو سیمو کې د ورښتونو کچه شاوخوا 60 سلنه راکمه شوې ده او له کبله یې زیات شمېر خلک کډوالیو ته هم اړ شوي دي.[72] په افغانستان کې د اوبو کمښت بېلابېل لاملونه لري. د نفوس زیاتوالی، د اوبو د سرچینو ناسم او بې‌ځایه مصرف او کمزوري مدیریت، تر څمکې لاندې اوبو کمېدل او ککړوالی او اقلیمي بدلونونه یې مهم لاملونه دي. دا فشار تر ټولو ډېر د کابل سیند په حوزه کې احساسېږي، چې کابل ښار ته اوبه ورکوي او په ټولیز ډول د افغانستان 35 سلنه یا 8 ملیونه نفوس د دې حوزې اوبه کاروي. د دغې کچې 4.5 ملیونه یې یوازې په کابل ښار کې ژوند کوي او داسې اټکلونه شته دي، چې دا شمېر به تر 2050 کال پورې 8 ملیونه ته ورسېږي. په دې توګه کابل ښار د نفوس له پلوه د نړۍ پنځم پراخېدونکی ښار او د اوبو له پلوه تر ټولو ډېر فشار لرونکی ښار دی.[73]

د ځینو څېړنو له مخې، یوازې د پلازمېنې اوبه په تېرو لسو کالو کې 15 متره ښکته تللې دي، چې په ځینو سیمو کې یې بیا دا کچه ان تر 40 مترونو پورې هم رسېږي. د کابل ښار په لوېدیځ کې په یوه مشخص مورد کې، یو 30 متره ژور څاه، کابو اته کاله وړاندې اوبه لرلې او وروسته وچ شوی؛ خو اوس په 2018 کال کې بیا په همغه ځای کې 70 متره ژور څاه یو ځل بیا وچ شوی، چې له اته کاله وړاندې سره 40 متره توپیر لري.[74]

---

[70] Ministry of Energy and Power, quoted in Afghanistan's Water Resources in Need of sound Management, Nabila Horakhsh, Daily 8AM, 20 Aug 2014, see online: https://8am.af/x8am/1393/05/29/environment-afghanistan-water/

[71] The water of five river basins of Afghanistan has dropped 14% in Dari, 25 March 2018, see the link bellow: http://www.1tvnews.af/fa/news/afghanistan/33841-2018-03-25-11-11-05

[72] Tehran Times, Iran-Afghanistan Agree on Transboundary Waters, June 27 2018, see online: https://www.tehrantimes.com/news/424839/Iran-Afghanistan-agree-on-transboundary-waters-says-ambassador

[73] Reliefweb, Blue Gold: The quest for household water in Kabul city, 30 Aug 2018, see online: https://reliefweb.int/report/afghanistan/blue-gold-quest-household-water-kabul-city

[74] د کابل له یوه ښاري سره د لیکوال مرکه. د سپټمبر لومړۍ 2018.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د اوبو د کچې ټیټوالی او ترې راټوکېدونکې ستونزې داسې مهال دي، چې د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان د معلوماتو (2014) له مخې، په بهرونیو سرچینو پورې د افغانستان د اوبو د تړاو نسبت 28.7 سلنه دی، چې دا نسبت د بېلګې په توګه په پاکستان کې 77.7 سلنه دی او افغانستان له هغو هېوادونو دی، چې په پراخه کچه د اوبو سرچینې لري.[75] د دې ترڅنګ، افغانستان د سطحي اوبو د زېرمه کولو ښه پوتنشیل لري؛ خو له بده مرغه د اوږدو جګړو او بې‌ثباتیو له کبله دا مهال د اوبو د ذخیره کولو ډېره کمه وړتیا لري او په دې برخه کې د اوبو د زېرمه کولو لومړنۍ تګلارې بیارغونې ته اړتیا لري او ترڅنګ یې له پرمختللې ټکنالوژۍ په ګټې اخیستنې سره د سترو زېرمو د رامنځته کولو او سترو او پرمختللو ذخیروي بندونو د پراختیا جدي اړتیا لیدل کېږي. له نورو هېوادونو سره د افغانستان د اوبو د زېرمه کولو د وړتیا پرتلنه په لاندې جدول کې وګورئ.

**جدول-1: د اوبو د زېرمه کولو د وړتیا پرتلنه**

| هېواد/سیمه | د اوبو د زېرمه کولو وړتیا (متر مکعب) في نفر |
| --- | --- |
| د امریکا متحده ایالات | 6000 |
| چین | 2200 |
| نړۍ | 963 |
| ایران | 379 |
| اسیا | 353 |
| پاکستان | 150 |
| افغانستان | 140 |

*ماخذ: UNDP (2011)*

**جدول-2: د افغانستان د ټولو اوبو تخمیني انډول (ملیارد متر مکعب)**

| د اوبو سرچینه | د اوبو د سرچینې وړتیا | د افغانستان لهخوا یې کارونه | د اوبو ناکارول شوې سرچینې |
| --- | --- | --- | --- |
| د ځمکې د سطحې اوبه | 57 | 17 | 40 |
| تر ځمکې لاندې اوبه | 18 | 3 | 15 |
| ټولې | 75 | 20 | 55 |

[75] Duran Research & Analysis. (2015) Afghanistan's Trans-Boundary Waters: An Overview, Page 1.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

*ماخذ: د افغانستان د اوبو اطلس (2004)*

## دویمه برخه؛ له ایران سره د اوبو د شخړې مخینه

له ایران سره د هلمند د ګډو اوبو په تړاو ستونزې په نولسمه پېړۍ کې د لویې لوبې مهال ته رسېږي او تر هغه وروسته څو ځله د دغو اوبو په تړاو هوکړې هم وشوې. لومړی ځل په 1871 کال کې د برېتانوي افسر جنرال فرېدریک ګولډزمېډ د افغانستان او ایران ترمنځ د هلمند دلتا په اوږدو کې ګډه پوله وټاکله؛ خو د اوبو د وېش په تړاو یې څه پرېکړه ونه کړه. په 1905 کال کې یو ځل بیا بریتانیا په دې قضیه کې مداخله وکړه او د برېتانیا استازي هنري مکمهن د دواړو هېوادونو ترمنځ هماغه د 1871 کال تازه کړه؛ خو دا ځل یې د اوبو وېش هم وکړ. نوموړي د هلمند سیند له دریو څخه دوې برخې اوبه یې افغانستان ته ورکړې او یوه برخه یې ایران ته ورکړه. تر 1930 کال پورې همدا تړون عملي شو؛ خو کله چې وچکالي زیاته شوه دا قضیه یو ځل بیا د ایران او افغانستان ترمنځ جنجالي شوه. په 1939 کال کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر او په کابل کې د ایران د سفیر ترمنځ بیا تړون لاسلیک شو، چې له مخې یې دواړو لورو ته مساوي اوبه ورکړل شوې.[76] په دواړو اړخونو کې د بې‌باوریو او کانالونو او بندونو جوړولو له کبله د دغه تړون نه عملي کېدل د دې لامل شول، چې په 1970 کلونو کې بیا د اوبو قضیه د دواړخیزو اړیکو توده موضوع وګرځي، چې بالاخره د محمد ظاهر شاه د واکمنۍ په دوره کې، د افغانستان له لوري لومړي وزیر محمد موسی شفیق او د ایران له لوري لومړي وزیر امیر عباس هویدا د اوبو د نړیوالو قوانینو پر بنسټ، د 1973 د مارچ په 13مه د هلمند د اوبو دواړخیز تړون لاسلیک کړ، چې د همدغه کال د مې په 30مه د افغانستان په پارلمان کې تصویب هم شو او نور ټول قانوني مراحل یې بشپړ شول.[77]

### د 1973 کال تړون او ایران ته د ورتلونکو اوبو کچه

د 1973 کال تړون له یوې خوا د دواړو هېوادونو د لومړیو وزیرانو له لوري لاسلیک شوی او قانوني پړاوونه یې بشپړ شوي او له بلې خوا د دغه تړون د لسمې مادې له مخې، دواړو لورو د یوه دایمي تړون په توګه هم منلی او د هر ډول وضعیت لپاره وړاندوینې لري؛ له همدې کبله دا یو معتبر تړون بلل کېږي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[76] Afghanistan's Trans-Boundary Waters: An Overview, 2015, Helmand River Basin, Pages 27-28.

[77] International Water Law, The Afghan-Iranian Helmand-River Water Treaty, see online: https://www.internationalwaterlaw.org/documents/regionaldocs/1973_Helmand_River_Water_Treaty-Afghanistan-Iran.pdf

For Dari: http://afghanwaters.net/wp-content/uploads/2017/10/1973-Helmand-River-Afgh-Iran-Persian.pdf

دا تړون یوه مقدمه او 12 مادې لري. د تړون د دویمې مادې له مخې، افغانستان په اوسط ډول په یوه ثانیه کې 22 متره مکعب اوبه ایران ته ورکوي؛ خو په تړون کې افغانستان د ښه ګاونډیتوب په نیت 26 متره مکعب اوبه دغه هېواد ته منلې دي، چې په کلني ډول 820 ملیون متر مکعب اوبه کېږي او ان که افغانستان وغواړي 4 متر مکعب اوبه بېرته ګرځولی هم شي. د تړون د پینځمې مادې له مخې، افغانستان به ایران د هلمند سیند له اوبو څخه په بشپړ ډول نه محروموي؛ خو په ورته وخت کې تړون دا هم وایي چې ایران له ټاکل شوو اوبو د زیاتو اوبو په تړاو د هېڅ ډول ادعا حق نه لري او افغانستان چې څه ډول غواړي زیاتې اوبه هغسې کارولی شي.[78]

د افغانستان او ایران ترمنځ شوي تړون د څلورمې مادې له مخې، په کومو کلونو کې چې د وچکالیو له کبله تر عادي کلونو د سیند اوبه کمې وي، د ایران سهم به هم کمېږي.[79] افغان چارواکي وایي، چې په عادي کلونو کې د ایران ونډه یو پر اته ده؛ خو په وچو او غیر نورمالو کلونو کې یو پر دیارلس ته راټیټېږي.[80] خو دا چې ایا ایران ته له دغه تړون سره سمې اوبه رسېږي او کنه؟ هغه پوښتنه ده چې د دقیق ځواب نشتون یې له ایران سره د ګډو اوبو مسئله پېچلې کړې ده. د دغې پوښتنې د ځواب لپاره مو شته څېړنیز او رسنیز مواد او راپورونه څېړلي او د افغان چارواکو څرګندونو او مرکو ته مو مراجعه کړې ده. له دغې مطالعې مو لاندې دوې پایلې ترلاسه کړې دي:

**لومړی:** په رسنیزه او سیاسي کچه، ایران ادعا لري چې افغانستان دغه هېواد ته د 1973 کال په تړون کې له مشخص شوي حق سره سم، اوبه نهورپرېږدي؛[81] او له همدې کبله وخت ناوخت پر افغانستان فشارونه واردوي. ایراني چارواکي وایي، په افغانستان کې د ډېرو بندونو جوړول او د اوبو مسیر بدلول د دې لامل شوي، چې سیستان ته اوبه ونه رسېږي، کوم څه چې د هامون د وچېدو لامل شوي او په دغه هېواد کې یې اقتصادي او چاپېریالي ستونزې راټوکولې دي؛ خو افغان لوری بیا دا ادعا نه مني او وایي، ایران ته د هلمند سیند د اوبو په ورتګ هېڅ خنډ نشته او افغانستان د اوږدو جګړو له کبله نه دی توانېدلی د دغه سیند له اوبو سمه ګټه واخلي. د افغان چارواکو په وینا، افغانستان د دغه تړون له لاسلیک کولو وروسته تراوسه هېڅ داسې بند نه دی جوړ

[78] Ibid.

[79] Ibid.

[80] Fars News Agency, Iran-Afghan Dispute over Water, 22 Oct 2017, see online: http://af.farsnews.com/economy/news/13960730000588

[81] Water Diplomacy & Hydro-Politic Relation between Iran and Afghanistan (Persian), 13 January 2018, see online::
http://www.ana.ir/news/334436

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کړی، چې ایران ته د هلمند د اوبو په ورتګ کې کموالی راولي.[82] افغان لوری وايي، د اوبو کچه له کجکي بند سره نژدې د دهراوود اوبو پېژندنې د دستګاه په وسیله معلومېږي او نورمال او غیرنورمال کلونه تشخیصېږي او ایران هر کال په ټرون کې مشخصې شوې اوبه ترلاسه کوي.[83] افغان چارواکي د اوبو د دقیقې کچې له وړاندې کولو پرته ادعا لري، چې ایران په تېرو څلور نیمو لسیزو کې په افغانستان کې د ګډوډیو او د اوبو د نه مدیریت له کبله، په ټرون کې تر مشخصې شوې کچې څو چنده زیاتې اوبه ترلاسه کړې دي.[84] په دې تړاو د ځینو راپورونو له مخې، ایران ته په کلني ډول لږترلږه 1800 ملیون متره مکعب اوبه ورکړل شوې دي. حتی رویټرز د 2018 کال په جولای کې د یوه اړوند افغان چارواکي له خولې لیکلي، چې په افغانستان کې له وچکالۍ سره سره، په تېر یوه کال کې ایران د هلمند له اوبو درې ملیارد متر مکعب اوبه ترلاسه کړې دي.[85]

**دویم:** په بل اړخ کې څېړنې بیا ښیي، چې ایران ته د ورتلونکو اوبو کچه نه اندازه کېږي او د هغو اوبو د کچې معلوملو لپاره، چې له هلمند سیند څخه ایران ته بهېږي، دا مهال کوم سیستم او د موادو راټولو بهیر نشته دی؛ ځکه په 1970 کلونو کې د امریکا د حکومت له لوري جوړ شوی سیستم د پخواني شوروي د اشغال پر مهال ویجاړ شو.[86]

د څېړنیزو موادو له مخې، د هلمند سیند د اوبو اندازه کولو سیستم د 1940مې لسیزې په منځ کلونو کې جوړ شو او د 1970 لسیزې تر وروستیو پورې د اوبو اندازه کولو د سایټونو شمېر هم په زیاتېدو و. تر 1978 کال پورې کابو 160 ځایه د اوبو د اندازه کولو شبکه موجوده وه؛ خو په 1979 کال کې پر افغانستان د شوروي اتحاد له یرغل وروسته

[82] Baztab News, Severe drought and Iran's criticism of Afghanistan due to Helmand's water, 1 Sep 2018, see online: https://baztab.news/article/733588

[83]The revival of the Iran-Afghanistan agreement is the best option for ending the water crisis (Persian). Fars News Agency. 22 Oct 2017, see the link bellow:
http://af.farsnews.com/economy/news/13960730000588

[84] Aman, Fatemeh. Water Dispute Escalating between Iran and Afghanistan. Atlantic Council – South Asia Center. Aug 2016. P 4.
http://www.elections.pajhwok.com/dr/node/500017
And: Afghan Water Portal, Afghan Waters; Why is Ruhani Worried?: http://bit.ly/AFIReW

[85] Jain, Rupam. In parched Afghanistan, drought sharpens water dispute with Iran. July 17, 2018. See online: https://www.reuters.com/article/us-afghanistan-iran-water/in-parched-afghanistan-drought-sharpens-water-dispute-with-iran-idUSKBN1K702H

[86] Fatemeh Aman, LobeLog, Worsening Relations between Iran and Afghanistan?, 11 Aug 2017, see the link bellow:
https://lobelog.com/worsening-relations-between-iran-and-afghanistan/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د دغو اوبو د اندازه کولو بهیر ودرېد او د 1980 کال له سپټمبر راوروسته يې په اړه مواد او معلومات نه دي راټول شوي. یو ځل په 2005 کال کې دري مخکېني سټېشنونه ورغول شول او وروسته هم تر یوه بریده کار پرې وشو؛ خو بیا هم د اوبو د جریان او کچې په اړه دقیق معلومات نه دي راټول شوي او د تېرو نژدې څلورو لسیزو مواد نشته دي.[87] که څه هم تر 2014 کال پورې د اوبو اندازه کولو څو نورې دستګاوې هم ورغول شوې، خو د ناامنيو له کبله د موادو راټولولو تر کچې ونه رسېدې. په ځانګړې توګه له ایران سره پر پوله دوه سټېشنونه فعال شول؛ خو دا بیا له ایران سره همغږي شوي نه دي او له لارې يې د راټولو شوو موادو په اړه هم معلومات نشته دي.[88]

له 1980 کال وړاندې مواد ښيي، چې ایران په ټرون کې له مشخصې شوې کچې زیاتې اوبه ترلاسه کړې او له همدې کبله ویل کېږي، چې په 1984 کال افغان حکومت یو څېړنیز راپور ایراني لوري ته سپارلی، چې له مخې يې له ټرون څخه د ایران سرغړونې په نښه شوې او ښيي، چې ایران ته هر کال په اوسط ډول په هره ثانیه کې 63 متر مکعب اوبه ورکړل شوې دي؛ خو له دغې نېټې وروسته کره مواد نشته او دواړه لوري د دغو اوبو د کچې په اړه داسې شمېرې وړاندې کوي، چې له یو بل سره خورا زیات توپیر لري.

په بل اړخ کې د ایراني څېړونکو ځینې څېړنې ښيي، چې له 1940 کال څخه تر 2012 کال پورې د وچکالیو له کبله د هلمند سیند په کلني جریان کې جدي بدلون نه دی راغلی. د بېلګې په توګه په 1983 تر 2012 موده کې چې وچکالي هم پکې زیاته وه، د دغه سیند د اوبو اوسط کلنی جریان 5858 ملیون مترمکعب و، حال دا چې نورمال کال په ټرون کې 5661 ملیون متر مکعب ښودل شوی دی.[89] په دې توګه افغانستان د وچکالۍ له کبله د اوبو د کمښت ادعا نه شي کولی.

په ټولیز ډول دواړه لوري خپلې ادعاوې لري؛ خو موږ داسې کره معلومات ترلاسه نه شو کړای، چې وښيي له 1980 کال وروسته موده کې په کلني ډول ایران ته څومره اوبه ورکړل شوې دي او دا هغه ستونزه ده، چې له ایران سره د ګډو اوبو قضیه يې لا ډېره پېچلې کړې او جنجالي کړې ده.

[87] Tara Williams-Sether. Streamflow Characteristics of Streams in the Helmand Basin, Afghanistan. U.S. Agency for International Development - U.S. Geological Survey. See online: https://pubs.usgs.gov/ds/333/pdf/ds333_v1.1.pdf

[88] See online: https://www.un.org.ir/images/Documents/The_Helmand_River_Basin.pdf

[89] Hajihosseini, Hamidreza. Hydrological Assessment of the 1973 Treaty. ResearchGate. 9 May 2016. See online: https://www.researchgate.net/publication/306527439_Hydrological_Assessment_of_the_1973_Treaty_on_the_Transboundary_Helmand_River_Using_the_SWAT_Model_and_a_Global_Climate_Database#pfb

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## درېیمه برخه؛ د ایران اندېښنې

### الف: په ایران کې د اوبو کمښت او د هامون وچېدل

په ټوله کې ایران هم د وچکالۍ ځپلو هېوادونو په کتار کې دی او اوسنۍ وچکالي یې په تېرو 50 کلونو کې مخینه نه لري. له افغانستان سره د اوبو په مسئله کې د ایران تر ټولو ستره اندېښنه د هامون د وچېدو له کبله په دغه هېواد کې راټوکېدونکې ستونزې دي. د هامون ستر ډنډ د ایران په سیستان او بلوچستان ولایت کې پروت دی او له دریو کوچنیو ډنډونو یا تالابونو جوړ دی (پوزک، سابوري او هلمند هامونونه). د هلمند سیند اوبه لومړی پوزک هامون ته تویېږي، چې د افغانستان او ایران ترمنځ ګډ دی او بیا په ترتیب سره د ایران-افغانستان پر پوله پراته سابوري او ورپسې د ایران په خاوره کې پراته هلمند هامون ته ځي. د اوبو د زیاتوالي پر مهال درې واړه سره یو ځای کېږي او د افغانستان او ایران ترمنځ د هامون ګډ تالاب جوړوي. د ډکېدو پر مهال 5660 کیلومتره مربع مساحت لري، چې 3820 یې د ایران اړوند او پاتې د افغانستان اړوند دی.[90] په دې توګه افغانستان او ایران د هلمند او هریرود-مرغاب سیندونو ترڅنګ، په سیستان حوزه (هامونونو) کې هم شریک دي.

هامون ته ډېره برخه اوبه له هلمند سیند څخه ورځي، چې له کبله یې د وچکالۍ په کلونو کې تل د افغانستان او ایران د ګډو اوبو پر سر شخړې موجودې وې او اوس هم چې هامون د اوبو له کمښت سره مخ دی، ایران پر افغانستان د فشارونو واردولو هڅې کوي. هامون له 1990 کال راوروسته د اوبو د کمښت له بحران سره مخ شو، ان تر دې چې په 2004 کال کې یې سطحي اوبه تر ډېره ختمې شوې او دغه بحران نور هم جدي شو. په ټولیز ډول اوس‌مهال هم هامون ته د هلمند سیند اوبه ورځي او په ځینو برخو کې یې اوبه شته دي؛ خو ایرانی لوری یې په دغو اوبو کې له خپل حق څخه کمې ښیي.[91]

د ایران د سیستان او بلوچستان ولایت د چاپېریال ساتنې ادارې د چارواکو په وینا، اوسمهال هلمند سیند په ایران کې د کال په اوږدو کې وچ وي او یوازې له فبروري تر اپرېل پورې یوه اندازه اوبه پکې بهېږي. د ساینس مجلې د یوې څېړنې له مخې، د 2017 کال په اکتوبر کې کله چې د مجلې څېړونکي له جریکه[92] بند څخه لیدنه کوله، په سیند کې یو ځاڅکی اوبه هم نه وې؛ د سیند په منځ کې ژېړ رېګونه او په غاړو یې د ونو وچې تنې

[90]

[91] Khabaronline, The latest status of Hamoon International Wetland (Persian), 17 April 2017, see: https://www.khabaronline.ir/detail/652895/society/environment

[92] هغه ځای چې هلمند سیند ایران ته ننوځي او دا ځای په 1960 لسیزه کې د پسرلنیو سېلابونو د مهارولو لپاره جوړ شو.

ولاړې وې.[93] د سیستان او بلوچستان ولایت د چارواکو په وینا، د دغه ولایت په دوو ښارونو زابل او زهک کې د څښاک پاکې اوبه له فرامرزي اوبو څخه ترلاسه کېږي او د هامون د وچېدو له کبله اوسمهال په دغو ښارونو کې د څښاک د پاکو اوبو ستونزه هم خورا جدي ده.[94]

د سیستان او بلوچستان د چاپېریال ساتنې یوه چارواکې نیره پورمولایي وایي، که "نیمه څاه‌ګان" هم وچ شي، ټول خلک به ګډوالی ته اړ شي. څېړنې ښیي، چې د هامون د وچېدو له کبله د 400 زره سیستانیانو د معاش سرچینه بنده شوې او په دې سیمه کې بې‌کاري، بې‌وزلي، قاچاق او ناامني او د ایران شمال ته د زرګونو سیستانیانو پراخه کډوالي یې له ځان سره لرلې ده. د ایراني چاروکو په وینا د هامون وضعیت د 130 زره سیستانیانو د کډوالۍ لامل شوی او دا د ایران ملي امنیت ته ګواښ دی.[95] داسې اټکل کېږي، چې ایران به تر 2025 کال پورې د اوبو د ناسم مدیریت، د نفوس زیاتوالی او وچکالۍ له کبله د اوبو له جدي کمښت سره مخ شي.

ایراني لوری د هامون وچېدل په هغه څه پورې تړي، چې د دغه سیند په لوړه برخه (افغانستان) کې ترسره کېږي. د بېلګې په توګه، لامل یې په 1950مو کلونو کې د کجکي بند جوړېدل او په 1990 کلونو کې د اوبو لګونې د کانالونو ایستل بولي او ترخنګ یې ادعا لري، چې اوسمهال د هامون د وچېدو یو بنسټیز لامل د کوکنارو د کروندو لپاره د هلمند سیند د اوبو ګرځول دي؛ کوم څه چې افغان لوری ردوي او ټینګار کوي، چې عملاً له تېرو 40 کلونو راهیسې په سرحدي سیمو کې هېڅ ډول پراختیایي کار نه دی شوی.[96]

د افغان لوري نظر بیا دا دی، چې که څه هم د 1990 لسیزې په وروستیو کلونو کې د ورښتونو له کمېدو او وچکالۍ سره هامون ته د هلمند سیند ورتلونکې اوبه کمې شوې؛ خو بیا هم ایران ته له ټرون سره سمې اوبه ورکړل شوې او د هامون د ډېرو برخو د وچېدو اساسي لاملونه د ایران له‌خوا د اوبو ناسم مدیریت، په سوېلي خراسان او رضوي خراسان ولایتونو کې د بېلابېلو بندونو جوړول، د لولې له لارې د سیستان او بلوچستان ولایت

---

[93] Richard Stone, Can Iran and Afghanistan cooperate to bring an oasis back from the dead?, 21 Feb 2018, see: http://www.sciencemag.org/news/2018/02/can-iran-and-afghanistan-cooperate-bring-oasis-back-dead

[94] Aman, Fatemeh. More Bad News For Iran As Afghan Water Dispute Heats Up. Aug 16, 2018. See online: https://lobelog.com/more-bad-news-for-iran-as-afghan-water-dispute-heats-up/

[95] Fatemeh Aman, Iran-Afghan Differences over Helmand River Threaten Both Countries, 17 March 2016, see: http://www.atlanticcouncil.org/blogs//iransource/iran-afghan-differences-over-helmand-river-threaten-both-countries

[96] Ibid.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

مرکز زاهدان ښار او نورو ښارونو ته د اوبو لېږد[97]، د زابل په څاه‌گانو (سترو ډنډونو) کې د اوبو زېرمه کول او په زابل کې د کرنیزو موخو لپاره د هامون د اوبو کارول دي.[98]

دا چې افغان لوری ردوي، چې ایران ته د اوبو د حق نه ورکولو له کبله هامون وچ شوی او لامل یې د ورښتونو د کچې بې‌مخینې کمېدل، د تودوخې زیاتوالی، اقلیمي بدلونونه، د اوبو زیاته کارونه او د ایران له‌خوا د اوبو ناسم مدیریت بولي؛ او په بل اړخ کې ایرانی اړخ بیا پړه پر افغانستان اچوي او پرله‌پسې ټینگار لري، چې افغانستان د هلمند سیند د اوبو حق نه ورکوي؛ ځکه نو د هامون د وچېدو لاملونه هم د څېړنو پر ځای د تورونو په کچه کې دي. که څه هم ایران او افغانستان د دغو لاملونو د بشپړ څېړلو هوډ هم کړی، چې د هریرود سیند قضیه به هم پکې شامله وي، مگر تراوسه عملا دا کار نه دی شوی او دواړه لوري پر تورونو، گواښونو او سیاسي فشارونو تکیه کوي.[99]

د هامون د وچېدو ستونزې د هواري لپاره ځینې نړیوالې اداري هم خپلې حل‌لارې وړاندې کوي. د ملگرو ملتونو د پراختیایي اداري (UNDP) د «واپس کولو» د طرحې له مخې، د دواړو هېوادونو له‌خوا هامون ته د اوبو ورکولو لپاره، که د هلمند له اوبو د کرنیزو موخو لپاره لږ اوبه ولېږدول شي او له بلې خوا د کال په وچو میاشتو کې د (نیمه څاه‌گانو) له زېرمو څخه هامون ته یو څه اوبه ولېږدول شي او ترڅنگ یې دواړه هېوادونه له قطره‌اي اوبو لگونې کار واخلي او د هغو محصولاتو کرلو ته خلک وهڅوي، چې کمې اوبه غواړي، ښایي د هامون د وچېدو ستونزه هواره شي. افغان لوری په دې تړاو وایي، چې شوي تړون سره سم له ایران سره گډ کار ته چمتو دی؛ خو په دې اړه تراوسه عملي گامونه نه دي اوچت شوي.[100]

---

[97] دا اوبه تر ډېره څلورو خوندي سیمو (نیمه څاه‌گانو) ته په 1990-2000 کلونو کې د څښلو د پاکو اوبو د زېرمه کولو لپاره لېږدول کېدې.

[98] Richard Stone, Can Iran and Afghanistan cooperate to bring an oasis back from the dead?, 21 Feb 2018, see: http://www.sciencemag.org/news/2018/02/can-iran-and-afghanistan-cooperate-bring-oasis-back-dead

[99] Tehran Times, Iran-Afghanistan Agree on Transboundary Waters, June 27 2018, see online: https://www.tehrantimes.com/news/424839/Iran-Afghanistan-agree-on-transboundary-waters-says-ambassador

[100] Richard Stone, Can Iran and Afghanistan cooperate to bring an oasis back from the dead?, 21 Feb 2018, see: http://www.sciencemag.org/news/2018/02/can-iran-and-afghanistan-cooperate-bring-oasis-back-dead

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**تصویر-3: په ایران کې د هامون وچه شوې برخه**



**ب: چاپېريالي او اقتصادي ستونزې**

په ټوليز ډول ایران له افغانستانه د ورتلونکو اوبو کمېدل او په ځانګړې توګه د هامونونو وچېدل په دې سيمه کې د اقتصادي پراختيا او پرمختيا لپاره جدي ګواښ بولي او دغه هېواد يې اندېښمن کړی دی؛ خو د اقتصادي اغېزو ترڅنګ، په دې سيمه کې د هامون د وچېدو له کبله د پراخو بيابانونو رامنځته کېدو چاپېريالي ستونزې هم راپېکولې دي. د هامون وچېدو، چې 400 زره تنه يې شاوخوا ژوند کوي، په دې سيمه کې د تودوخې درجه هم په بې‌مخينې ډول لوړه کړې ده؛ څکه تر دې مخکې به پر اوبو لګېدونکو بادونو، په تېره بيا په دې سيمه کې 120 ورځې موسمي بادونو د تودوخې کچه راټيټوله. خو اوس دا بادونه د ایران په سوېل ختريزه برخه کې د ګرد او ريګونو د طوفانونو لامل شوي دي.[101]

له مې تر سپټمبر مياشتې په دغو سيمو کې سخت بادونه لګېږي او زهرجن ګرد له ځان سره لېږدوي. د روغتيا د نړيوال سازمان د معلوماتو له مخې، په 2016 کال کې د ایران زابل ښار د هر بل ښار په پرتله زيات ګرد او غبار لرلی دی. د زابل په لوېديځ کې، د يوه مخکېني سيند په غاړه يو پرېښودل شوی (متروک) کلی يې ښه مثال دی، چې کورونه يې اوسمهال تر نيمايي پورې په ريګونو کې پټ دي.[102]

---

[101] Corinne Segal, Life after water on the Iran-Afghanistan border, 13 Jan 2016, see: https://www.pbs.org/newshour/arts/iran-water-crisis-photography

[102] Richard Stone, Can Iran and Afghanistan cooperate to bring an oasis back from the dead?, 21 Feb 2018, see: http://www.sciencemag.org/news/2018/02/can-iran-and-afghanistan-cooperate-bring-oasis-back-dead

Center for Strategic and Regional S

**ج: په افغانستان کې د اوبو مدیریت او بندونه**

په تېرو څلور نیمو لسیزو کې په افغانستان کې د سیاسي او امنیتي ګډوډیو له کبله ایران ته له افغانستانه د ورغلو اوبو دقیقه کلنۍ کچه معلومه نه ده؛ خو بیا هم د افغان چارواکو څرګندونو او ځینو څېړنو ته په کتلو سره، چې مخکې یې یادونه وشوه، ایران په دې موده کې له افغانستان سره له ګډو اوبو تر خپل سهم زیاتې اوبه ترلاسه کړې دي او اوس یې هم د تېر په څېر تمه لري؛ خو دا چې له یوې خوا وچکالۍ ټوله سیمه ځپلې او له بلې خوا په افغانستان کې د ملي یووالي حکومت له راتګ سره د تېرو دورو په پرتله د اوبو د مدیریت په برخه کې ځینې ګامونه پورته شول، د ایران اندېښنې یې له ځان سره لرلې او ایران وېره لري، چې د هلمند سیند اوبه به د وچکالیو او دغسې پروژو د تطبیق له کبله نورې هم کمې شي. د اوبو او انرژۍ وزارت د معلوماتو له مخې، افغانستان اوسمهال د ټول هېواد په کچه د 40 بندونو په اړه د څېړنو او جوړولو عملي کار تر لاس لاندې لري، چې یوازې څلور هغه یې له ایران سره پر ګډو اوبو جوړېږي. دا په داسې حال کې ده، چې د اوبو او انرژۍ د پخواني وزیر په وینا، ایران له افغانستان سره پر ګډو اوبو بیا 600 بندونه جوړ کړي دي.[103]

د ملي یووالي حکومت د بېلابېلو لاملونو له کبله، چې یوه یې هم د اوبو قضیه ده، د کرزي د دورې په پرتله له ایران سره تنې اړیکې لري. د ولسمشر کرزي په دوره کې له ایران سره پر ګډو اوبو د بندونو جوړولو یا ترمیم چارو ډېر پرمختګ نه درلود او له همدې کبله داسې تورونه هم شته چې د کرزي په دواړو دورو کې د ایران د خوشحالولو لپاره دا کار وشو، ان تر دې چې له ایران څخه د تورو پیسو د راتګ خبره افشا شوه. ځینې راپورونه دا هم وایي، چې په هلمند، هرات او ورځېرمه ولایتونو کې د ایران لهخوا په پټه ځینو چارواکو ته مالي امتیازونه ورکول کېدل.

په تېره څه باندې یوه‌نیمه لسیزه کې سلما بند یوازینۍ بېلګه ده، چې پروژه یې بشپړه شوې ده. دا بند د 640 ملیون متره مکعب اوبو زېرمه لري او په 640 کلیو کې نژدې 80 زره هکتاره ځمکه خړوبولی شي او ترځنګ یې د 42 میګاواټه برېښنا، چې 250 زره کورونه روښانه کولی شي، د تولید وړتیا هم لري.[104] خو دا پروژه هم له سختو ننګونو سره مخ وه. د دغه بند طرحه لومړی ځل په 1976 کال کې وړاندې شوه او په 1988 کال کې یې عملي بنه واخیسته،[105] خو په افغانستان کې د اوږدو جګړو له کبله پاتې وه او د حامد کرزي په دوره کې هم د حکومت د محافظه کارۍ له کبله بشپړه نه شوه او بالاخره د ملي یووالي حکومت پر مهال بشپړه شوه.

---

[103] BBC Persian, Ali Ahmad Osmani's remarks in Wolesi Jirga, 17 July 2017, see: http://www.bbc.com/persian/afghanistan-40629533

[104] Debnath Shaw, Why the Salma Dam in Afghanistan matters to India, 6 Jun 2016, see: https://www.dailyo.in/politics/salma-dam-afghanistan-narendra-modi-ashraf-ghani-taliban-terrorism/story/1/11035.html

[105] Ibid.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ایران د سلما بند ترځنګ، د کمال خان بند د جوړېدو مخالفت کوي. د دغه بند پروژه په 1996 کال کې پیل شوه؛ خو تر 2011 کال پورې د امنیتي ستونزو له کبله کار پرې ونه شو. له همدې کبله افغانستان په 2012 کال کې ایران تورن کړ، چې د سیمه‌ییزو وسله‌والو په ملاتړ کولو سره د دغې پروژې د سبوتاژ کولو هڅه کوي. کمال خان بند د هلمند سیند پر اوبو د نیمروز په چهاربرجک ولسوالۍ کې جوړېږي او افغان چارواکي وايي، دغه بند داسې طراحي شوی، چې د هلمند سیند د اوبو د ضایع کېدو لامل نه کېږي. افغان چارواکي دا هم وايي، چې د دغه بند اوبه به د ایران د پولې په 100 کیلومترۍ کې اندازه‌ګیري هم کړي او ایران ته به پوره اوبه رسېږي.[106]

د کجکي بند، چې ایران یې تل د هلمند سیند د اوبو د کمښت یو مهم لامل بولي، که څه هم په 1950 کلونو کې جوړ شوی، خو د ملي یووالي حکومت پر مهال د دغه بند د دویم فاز جوړېدو د قرارداد لاسلیک کېدو هم ایران اندېښمن کړ.

دغه راز د فراه د پخواني والي اصف ننګ په وینا، ایران د فراه ولایت د بخش‌آباد بند د جوړولو په چارو کې تخنیکي لاسوهنې کوي، چې له کبله یې په تېرو څو کلونو کې د دغه بند چارې نه دي بشپړې شوې.[107] بخش اباد بند، چې د هلمند د حوزې په فراه‌رود شاخه د فراه ولایت په بالا بلوک ولسوالۍ کې جوړېږي، د 27 مګاواټه برېښنا د تولید او 26 زره هکتاره ځمکې د خړوبولو وړتیا لري. همدا لامل هم و، چې د افغانستان دفاع وزیر هم د فراه جګړه د اوبو جګړه وبلله.[108]

## څلورمه برخه؛ پر کابل-تهران اړیکو د اوبو د مسئلې اغېزې

ایران او افغانستان، د افغانستان-پاکستان-هند په څېر د سیمو پر سر شخړې نه لري؛ خو د اوبو موضوع یې دواړخیزې اړیکې ګواښي او اوسمهال د اوبه مسئله په دغو اړیکو کې یو مهم فکتور بلل کېږي.[109] کوم څه چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف هم په خپله وروستۍ مرکه کې اشاره ورته وکړه.

---

[106]

[107] Afghan Water Portal, see: http://bit.ly/2RB2JQ3

[108] TOLOnews, Farah's War Is Over Water: Defense Minister, 19 May 2018, see: https://www.tolonews.com/afghanistan/farah%E2%80%99s-war-over-water-defense-minister

[109] Fatemeh Aman, Atlantic Council, Water Dispute Escalating between Iran and Afghanistan, 7 Sep 2016, see: http://www.atlanticcouncil.org/publications/issue-briefs/water-dispute-escalating-between-iran-and-afghanistan

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

له بده مرغه د ایران او افغانستان ترمنځ د اوبو پر مسئله اختلافات یوه نوي پړاو ته د ننوتلو په حال کې دي او د ګډو اوبو قضیه په دواړو هېوادونو کې خورا زیاته سیاسي شوې ده. په ایران کې د چاپېریال ساتنې په اړه نړیوال کنفرانس (جولای 3مه 2017) کې د ایران د ولسمشر حسن روحاني وینا او په افغانستان کې د بندونو پر جوړولو نیوکو، په افغانستان کې پراخ غبرګونونه راوپارول. د موضوع حساسیت ته په کتلو سره که څه هم اړتیا وه چې روحاني په خپلو خبرو کې[110] د کلمو انتخاب په ځیرکۍ سره وکړي او تر یوه بریده یې خبرې ناسمې هم تعبیر شوې[111]؛ خو په ټولیز ډول نوموړي د افغانستان د بندونو موضوع په صراحت سره مطرح کړه، چې د افغان چارواکو، د ملي شورا یو شمېر غړو او په ټولنیزو رسنیو کې د عامو افغانانو له پراخ غبرګون سره مخ شوه، ان په ځینو ښارونو کې د ایران پر ضد لاریونونه هم وشول.[112]

په ټولیز ډول ایران او افغانستان په خپلو دوه‌اړخیزو اړیکو کې له ځینو لوړو-ژورو سره سره، نږدې اړیکې لرلې دي. خو په وروستیو کلونو کې د بېلابېلو راپورونو له مخې په لوېدیزو او سوېل لوېدیزو ولایتونو کې ایران د افغان حکومت د مخالفینو په ملاتړ او مرستو تورن شوی، کوم څه چې پر دغو دوه‌اړخیزو اړیکو یې سیوری غوړولی او یو لامل یې هم د اوبو قضیه بلل کېږي.[113]

## له ایران سره د اوبو د شخړې هواری

که څه هم افغان لوری له ایران سره د اوبو مسئله حل شوې بولي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوبو د تړون پر پلي کېدو ټینګار لري او له همدې کبله افغان حکومت په دې تړاو ډېر کم ګامونه هم اوچت کړي؛ خو دا چې له یوې خوا دواړو لورو د دغه تړون د پلي کېدو او په ځانګړې توګه ایران ته د بهېدونکو اوبو د دقیقې کچې معلوملو او معلوماتو تبادله کولو په برخه کې اغېزناک ګامونه نه دي اخیستي او دواړو لورو په تورونو او ادعاوو اکتفا کړې او له بلې خوا ایران د اوبو د مسئلې له کبله له بېلابېلو لارو په افغانستان فشارونه هم راوړي، له همدې کبله دا مسئله د خبرو اترو او عملي ګامونو له لارې هوارولو ته اړتیا لري. دواړه هېوادونه د تېر په څېر اوسنی اختلافات

---

[110] Official Website of the President of Iran, President Hassan Rouhani's Speech (Persian), 3 July, 2017, see online: http://www.president.ir/fa/99653

[111] Afghan Irca, Iranian Ambassador's Interview (Persian), 8 July 2017, see: http://afghanirca.com/newsIn.php?id=59556

[112] Fatemeh Aman, LobeLog, Worsening Relations between Iran and Afghanistan?, 11 Aug 2017, see the link bellow: https://lobelog.com/worsening-relations-between-iran-and-afghanistan/

[113] Ibid.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

هم د خبرو اترو له لارې هوارولی شي؛ خو د دواړو هېوادونو دښمني بيا نه يوازې دواړو هېوادونو ته، بلکې د سيمې په کچه گواښ بلل کېږي. د 1973 کال په تړون کې د اختلاف پر مهال د ستونزو د هوارې لارې چارې هم ښودل شوې دي او بايد اړوند اختلافات له تړون سره سم، له سولهييزو او دوستانه لارو حل شي.[114] دا چې د ايران-افغانستان د اوبو تړون يو معتبر سند دی، له همدې کبله د تړون د پلي کېدو لپاره د هلو ځلو پر ځای سياسي فشارونه د اوبو د نړيوالو قوانينو خلاف بلل کېږي.

په 1994 کال کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال او د سختې وچکالۍ له کبله د کجکي بند له بشپړ تړلو سره د لنډ وخت لپاره په ايران اوبه وتړل شوې.[115] خو اوس افغان لوری ټينگار کوي، چې نه يوازې دا چې د اوبو له تړونه يې سرغړونه نه ده کړې، بلکې په تېرو کلونو کې ايران ته له خپل حق زياتې اوبه ورکړل شوې دي. افغان لورې چمتووالی ښودلی، چې د متخصصينو يو کميسيون په دې اړه څېړنه وکړي؛ خو عملي گامونه يې نه دي پورته شوي.[116] په ايراني اړخ کې بيا د بېلگې په توگه له ترکمنستان سره په 2005 کال کې د افغانستان له مشورې پرته گډ بند جوړول او گڼ شمېر نورې پرژې له دغه تړونه او د 1992 کال کنوانسيون له موادو سرغړونه بلل کېږي. له بلې خوا د تړون د روښانتيا په اړه د اوبو او انرژۍ وزارت نظر دا دی، چې ايران بايد د هلمند سيند له دريو نقطو څخه اوبه واخلي؛ خو ايران اوس د دغه سيند له 13 ځايونو اوبه اخلي او سيند يې ټوټې کړی دی. د دغو ټولو نهرونو ظرفيت 150 متر مکعب په هره ثانيه کې تخمينېږي.

له ايران سره د اوبو د مسئلې يو شمېر افغان څېړونکي بيا د ايران دا هڅې د زياتو اوبو ترلاسه کولو لپاره بولي. دکتور فاروق اعظم په دې اند دی، چې ايران په پخوانې تړون کې افغانستان ته ويلي وو، چې چمتو دی اضافي اوبه له افغانستان څخه په بيه واخلي، کومې چې د مديريت د نشتون له کبله اوس وړيا ورځي. د ده په نظر، ايران ځکه هڅه کوي، چې په دغه تړون بيا کتنه وشي، ترڅو په افغانستان کې له خپل اغېز څخه په گټې

[114] International Water Law, The Afghan-Iranian Helmand-River Water Treaty, see online: https://www.internationalwaterlaw.org/documents/regionaldocs/1973_Helmand_River_Water_Treaty-Afghanistan-Iran.pdf
For Dari: http://afghanwaters.net/wp-content/uploads/2017/10/1973-Helmand-River-Afgh-Iran-Persian.pdf
[115] Afghan Water Portal, Afghan Waters; Why is Ruhani Worried?: http://bit.ly/AFIReW
[116] Fatemeh Aman, Iran-Afghan Differences over Helmand River Threaten Both Countries, 17 March 2016, see: http://www.atlanticcouncil.org/blogs//iransource/iran-afghan-differences-over-helmand-river-threaten-both-countries

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

اخیستنې سره په نوي ترون کې له 26 متر مکعب څخه زیاتې اوبه خپلې کړي، په داسې حال کې چې د اوبو کچه اوسمهال کمه شوې هم ده او وچکالۍ کال په کال مخ په زیاتېدو دي.[117]

له همدې کبله افغان لوری په ایران پرېـ اچوي، چې ایران د ستونزې د هواري لپاره د ترون د پلي کېدو په اړه خبرو اترو پر ځای گواښونو او د پردې تر شا فعالیتونو ته لومړیتوب ورکوي او هڅه کوي، چې له دې لارې افغانستان تر فشار لاندې ونیسي او د تېر په څېر له خپل حق زیاتې اوبه ترلاسه کړي. ایران د ناامنیو، دوه تر درې ملیونه افغان کډوالو او ترانزیټي او اقتصادي قضایاوو له لارې پر افغانستان فشار راوړي؛ کوم څه چې د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف په خپله وروستۍ مرکه کې اعتراف هم پرې وکړ.[118] په دې توگه که څه هم ایران ظاهرا د ترون پر پلي کېدو ټینگار لري او افغان لوری هم همدا غواړي او په تېره ولسمشر غني څو ځله ټینگار کړی، چې له ایران سره د اوبو د ستونزې هواری د ترون عملي کېدل دي؛ خو په دې تړاو د دواړو لورو له‌خوا عملي گامونه نه دي اوچت شوي.[119]

که دواړه هېوادونه د هلمند اوبو د اوسنیو اختلافاتو هواری وغواړي، دا به ډېر ساده او اسانه وي؛ ځکه له دغه هېواد سره د اوبو د وېش هراړخیز ترون موجود دی او د هر ډول وضعیت لپاره وړاندوینې لري. د هلمند سیند د اوبو د وېش ترون بله مهمه گټه دا هم ده، چې د هریرود-مرغاب حوزې د اوبو په تړاو د دواړو هېوادونو توافق هم خورا اسانولی شي.

## پنځمه برخه؛ پایله

د دې څېړنیزې مقالې موخه په ټولیز ډول له ایران سره د افغانستان د شریکو اوبو په اړه د شته ستونزو او اندېښنو څېړنه ده. دا چې په وروستیو دوو کلونو کې په ځانگړې توگه له ایران سره د گډو اوبو قضیه یو ځل بیا جنجالي شوې، دلته مو هڅه کړې چې د ایران اندېښنې وڅېړو او دا چې د دوی اندېښنې څومره پر ځای دي او دغه راز پر دوه‌اړخیزو اړیکو یې څومره اغېزې کړې دي.

که څه هم په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه هم د اوبو زیاتېدونکی اهمیت پام‌وړ موضوع ده؛ خو له ایران سره د افغانستان د گډو اوبو د قضیې له کبله د گاونډیو هېوادونو اندېښنې او لاسوهنې، د هېواد په اقتصادي وضعیت

---

[117] Afghan Water Portal, Afghan Waters; Why is Ruhani Worried?: http://bit.ly/AFIReW

[118] BBC Persian, Report of Zarif's Interview with 3TV of Iran, 27 Aug 2018, see: http://www.bbc.com/persian/iran-45322752

[119]

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

او په تېره بیا په صنعت او کرنیز سکتور کې د اوبو ارزښتناک رول، د اوبو د کچې د ټیټوالی او له کبله یې د څښلو پاکو اوبو ته نه لاسرسی او داسې نور هغه موضوعات دي، چې په هېواد کې دننه یې د اوبو اهمیت او مدیریت ته پام اړولی دی. خو له ایران سره د ګډو اوبو په برخه کې شته ستونزو د اوبو په سکتور کې د پراختیایي کارونو او نړیوالو پانګونو مخه ډب کړې ده.

افغانستان که څه هم په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې د اوبو د مدیریت په برخه کې ځینې لاسته راوړنې لرلې دي؛ خو لا هم په دې برخه جدي ستونزې او کمی شته دي. په دغو لاسته راوړنو کې د افغانستان د اوبو قانون نهایي کول (1388 لمریز کال)، د فرامرزي یا له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو د کمیسیون جوړول (2016 زېږدي کال)، د فرامرزي اوبو د پالیسی مسوده وروستیو پړاوونو ته رسېدل، چې د افغان حکومت د سیاسي ارادې ښودنه کوي، له تاجکستان سره د اوبو د سرچینو د مدیریت او پراختیا په اړه د 2010 او 2014 کلونو هوکړه‌لیکونه، له پاکستان سره د کونړ سیند د پراختیا لپاره د لارو چارو لټولو په اړه د 2013 کال هوکړه‌لیک او د سلما بند افتتاح یې مهم موارد دي.

د افغانستان د اوبو له پنځو حوزو څخه، څلور یې له نورو هېوادونو سره ګډې حوزې دي، چې اوسمهال تر ټولو ډېرې ستونزې له ایران او بیا پاکستان سره د هلمند او کابل سیندونو په حوزو کې دي. له یوې خوا ایران د وروستیو وچکالیو له کبله د اوبو له کمښت سره مخ دی او له بلې خوا په افغانستان کې د اوبو د مدیریت او په ځانګړې توګه په هلمند او هریرود-مرغاب حوزو کې د اوبو د بندونو د جوړولو له قضیې په وېره کې دی او له کبله یې له بېلابېلو لارو پر افغانستان فشارونه واردوي. که څه هم د هلمند سیند د اوبو په تړاو له ایران سره تړون هم شته دی؛ خو د دغه سیند د اوبو د کچې او په تېره بیا ایران ته د بهېدونکو اوبو په اړه د کره او دقیقو معلوماتو نشتون د دې لامل شوی، چې ایران خپل بېلابېل فشارونه جاري وساتي.

له ایران سره په 1973 کال کې شوي تړون کې، دغه هېواد ته د هلمند سیند له اوبو څخه په نورمالو کلونو کې په هره ثانیه کې 26 متر مکعب اوبه (22 متر مکعب د ایران سهم او 4 متر مکعب د ښه ګاونډیتوب) منل شوې دي؛ خو په هېواد کې د اوږدو جګړو له کبله په تېرو کابو څلورو لسیزو کې د دغو اوبو د دقیقې کچې په اړه کره مواد نشته دي او په دې موده کې د اوبو اندازه کولو سیستمونه فعال نه وو. د هلمند د اوبو د اوسني وضعیت او له دغو اوبو څخه د دواړو هېوادونو د اوسني سهم په اړه د کره موادو او معلوماتو نشتون له ایران سره د ګډو اوبو مسئله ورځ تر بلې پېچلې کړې او جنجالي کړې ده. د کره موادو نشتون له کبله پر دغو اوبو د وچکالی د اغېزو په اړه هم دقیق معلومات نشته دي او په دې تړاو یې خبرې اترې له ماتې سره مخ کړې او دواړه لوري یې د تورونو لګولو په لوبه کې ښکېل کړي دي. دغه وضعیت پر دوه‌اړخیزو اړیکو خورا منفي اغېزې هم کړې دي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

له یوې خوا ایران، په سیستان او بلوچستان ولایت کې د هامون د وچېدو له کبله له اقتصادي او چاپېریالي ستونزو، لکه بې‌کاري، بې‌وزلي، کډوالي، قاچاق، ناامني، گرد او غبار او داسې نورو سره مخ دی. ان دغه سیمه د څښاک د پاکو اوبو له کمښت سره هم مخ ده. له بلې خوا ایران اندېښنه لري چې د هلمند سیند د اوبو کچه به نوره هم کمه شي او له همدې امله په افغانستان کې د بندونو د پروژو له کبله په وېره کې دی. خو د موضوع څېړنه ښيي چې د ایران اندېښنې ډېرې پر ځای نه دي. له یوې خوا د هامون د وچېدو لاملونه یوازې د هلمند سیند د اوبو کموالی هم نه دی، بلکې د وچکالیو ترڅنگ د ایران له خوا د اوبو افراطي کارېدنه او د اوبو ناسم مدیریت یې هم مهم لامل دی. له بلې خوا ایران له افغانستان سره د اوبو تړون لري او دا چې اوسمهال د تړون تطبیق لپاره د معلوماتو د تبادلې او صادقانه گامونو اوچتولو پر ځای سیاسي فشارونو ته مخه کوي؛ افغان څېړونکي په دې اند دي، چې ایران له تړون څخه د زیاتو اوبو ترلاسه کولو په هڅه کې دی او وچکالۍ او اقلیمي بدلونونه هم په پام کې نه نیسي.

دا اندېښنې داسې مهال دي، چې په افغانستان کې د اوبو د کمښت گواښ، د اوبو ناسم مدیریت او په تېرو څلورو لسیزو کې د اوبو لپاره د بنسټیز کار نشتون د دې لامل شوي، چې دا گواښ نور هم جدي کړي. که څه هم څېړنې ښيي، چې که د اوبو د سرچینو پراختیا او مدیریت ته سمه پاملرنه وشي، د افغانستان في کس اوبو سرچینې بسنه کولی شي؛ خو اوسمهال د اوبو د مدیریت په برخه کې روان کارونه د شته اړتیاوو او ستونزو په پرتله ډېر کم دي. د اوبو او انرژۍ وزارت چارواکي وايي، چې افغانستان د اوبو د مدیریت پنځه کلن پلان یې جوړ کړی او د ولسمشر له‌خوا تایید شوی هم دی؛ خو بیا هم په دې برخه کې کارونه خورا په سستۍ سره روان دي او په دې تړاو لا ډېرې فعالې ډیپلوماسۍ او جدي عملي کارونو ته اړتیا ده.

## وړاندیزونه

- له گاونډیو هېوادونو سره د گډو اوبو د ستونزو شتون د هېواد په داخل کې د اوبو پر مدیریت او په دغه سکتور کې پر پانگونې خورا منفي اغېزې کړې دي. په ځانگړې توگه نړیوال ډونران له گاونډیو هېوادونو سره د شخړو په شتون کې، په دغه سکتور کې پانگونه نه کوي. له همدې کبله اړتیا ده، چې د گډو اوبو په حوزو کې له گاونډیانو سره د اوبو د ستونزو پر هواري جدي خبرې اترې وشي او په دې برخه کې جدي گامونه واخیستل شي.
- له گاونډیو هېوادونو سره د اوبو د قضیې له زیات سیاسي کېدو د مخنیوي لپاره د اړوندو ارگانونو یوه گډه کمېټه جوړه او چارې یې همغږې شي. د اوبو اړوندو ارگانونو ترمنځ کمزورې همغږي هغه لامل دی، چې د اوبو د مدیریت او په تېره بیا له گاونډیو هېوادونو سره د اوبو د ستونزو هواری یې له ځنډ او خنډ سره مخ کړی دی.

په دې تړاو اړتیا ده، چې د فرامرزي اوبو کمیسیون، د څمکو عالي شورا، د اوبو او انرژۍ وزارت، د بهرنیو چارو وزارت، د کرنې او اوبو لګولو وزارت او نورو اړوندو ادارو ګډه کارډله جوړه او د اوبو او انرژۍ وزارت یې رهبري په غاړه واخلي.

- له ایران سره د ګډو اوبو په اړه د 1973 کال تړون، که څه هم یو معتبر او منصفانه تړون بلل کېږي، خو بیا یې هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډو اوبو د وېش ستونزه نه ده هواره کړې او د پلي کېدو په برخه کې یې د دواړو لورو ترمنځ همغږي په خورا ټیټه کچه کې ده، چې یو اساسي لامل یې د دغو اوبو د کچې او اندازه کولو په اړه د کره او همغږو موادو او معلوماتو نشتون دی. همدا راز له نورو هېوادونو په ځانګړې توګه پاکستان سره هم د اوبو د تړون هڅې د شته وضعیت په اړه د معلوماتو د نشتون له کبله له ناکامۍ سره مخ دي. له همدې کبله جدي اړتیا ده، چې په ټولیز ډول د ټولو ګډو حوزو پر سیندونو د اوبو د اندازه کولو پرمختللي وسایل نصب او له ګاونډیو هېوادونو سره همغږي شي.
- د ایران-افغانستان د اوبو تړون د پلي کېدو او ایران ته د بهېدونکو اوبو په اړه د هلمند سیند د ګډو کمیشنرانو په ګډون د تخنیکي او دقیقو څېړنو لپاره یوه ګډه کارډله جوړه شي او د سیاسي فشارونو پر ځای له تخنیکي لارې د هلمند سیند د اوبو قضیه هواره شي. په دې تړاو لومړی ګام دا دی، چې د هلمند سیند د اوبو د کچې په اړه د کره او باوري موادو او معلوماتو د راټولولو لپاره ګامونه پورته شي. دغه راز د هریرود-مرغاب سیند حوزې په تړاو دقیقو څېړنو ته لاره هواره شي، ترڅو له ایران سره د دغه سیند د اوبو په تړاو هم تړون لاسلیک شي.
- د کره موادو د نشتون ترڅنګ بشري وړتیا او د قوي متخصصینو نشتون او په اړوندو افغان ارګانونو کې کمه وړتیا هم له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو په تړاو خبرو اترو پر مسئله منفي اغېزې کړې دي او له کبله یې له ګاونډیو هېوادونو سره د ګډو اوبو د وېش په برخه کې پرمختګ له خنډونو سره مخ دی. دغې ستونزې د فرامرزي اوبو ترڅنګ په هېواد کې دننه هم د اوبو سکتور پر وضعیت منفي سیوری غوړولی دی. له همدې کبله باید د شته متخصصینو د وړتیا لوړولو او هم د تازه متخصصینو د روزلو لپاره کار وشي او د ګډو اوبو په برخه کې تخنیکي پوهه زیاته شي.
- د اوبو په برخه کې او په تېره بیا له ګاونډیو هېوادونو سره د ګډو اوبو په برخه کې څېړنې په خورا ټیټه کچه کې دي. ان د اړوندو ادارو ځینې معلومات او شمېرې له یو بل سره تضاد لري او یا هم خورا زیات توپیر لري. اړتیا ده، چې په اړوندو ادارو کې شته ستونزې وڅېړل شي او د معلوماتو او څېړنو د کمښت ستونزې ته د پای ټکی کېښودل شي.

- د اوبو او په تېره بیا له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو په تړاو د عامه پوهې کچه هم خورا ټیټه ده، چې پایله یې هغسې فشارونه دي چې د اوبو د مدیریت او اوبو د وېش د ستونزې له هواري سره مرسته نه کوي، بلکې په ځینو مواردو کې زیان رسوي. د عامه پوهې د کچې لوړولو ته باید په پلانونو کې پوره ځای ورکړل شي او د څېړنو، د رسنیو او مدني ټولنو، کنفرانسونو او داسې نورو لارو، عملا په دې برخه کې کار وشي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# موافقت نامه امنیتی افغانستان - آمریکا ۲۰۱۴م ارزیابی

زینب فخری[120]

افغانستان از موقعیت ژئواستراتیژیک و ژئوپلیتیک برخوردار است که در طول سالیان متمادی تحت سیطره قدرت های بزرگ قرار گرفته است. از جانب دیگر افغانستان معبری برای دست یابی به آب های گرم و پیوند دهنده شرق به غرب میباشد. از همین رو کشورهای ابرقدرت جهان در صدد تسلط به این کشور بودند تا استقرار یافتن آن به این کشور همه منطقه را تحت نظارت خود داشته و بر همه ادعای سلطه نماید.

آمریکا تنها کشوری پیروز بعد از جنگ سرد و بدنبال آن واقع شدن حادثه یازدهم سپتامبر سبب گردید تا آمریکا بالای افغانستان هجوم آورده و محلی برای استقرار دایمی نیروهای خود پیدا نماید. به این بهانه افغانستان به پایگاه دایمی آمریکا مبدل گردید. حالا که مذاکرات امریکا- طالبان به نتیجه رسیده وشاید عنقریب معاهده ای نیز میان شان به امضاء برسد، پیمان امنیتی میان واشنگتن وکابل نیزبه طور طبیعی زیرسوال رفته است. درین مقاله کوشش شده تا روی ابعاد داخلی و منطقوی پیمان امنیتی با امریکا و پیامد های منطقوی آن مورد مطالعه قرارگیرد.

## معاهدات امنیتی برای چه؟

معاهدات بین المللی برای تنظیم روابط میان کشورها و سازمان های بین الملل، یک امر معمول و رایج است. یکی از معاهداتی که امروزه در روابط میان کشورها بیشتر مورد استفاده قرار می گیرد، معاهدات و پیمان های راهبردی است.

بعد از سقوط شوروی، آمریکا با اطمینان خاطر منطقه را ترک گفت و این را بزرگترین اشتباه تاریخی خود می داند. در این فاصله کشورهای منطقه از جمله پاکستان و سعودی هزاران طالب را در مدرسه ها تربیت افراطی نموده و انتحاری تولید نموده اند. چین منحیث ابر اقتصاد جهان ظهور نموده ایران یک قدرت منطقه یی شد و روسیه دوباره تجدید قوا کرد و این چنین دنیا از تک قطبی به چندین قطبی مبدل شد. در این زمان بود که

---

120 - محقق مرکز مطالعات و محصل مرحلهء ماستری درفاکولتهء حقوق وعلوم سیاسی پوهنتون دعوت

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

آمریکا متوجه اشتباه خود شد و با نام مبارزه علیه تروریسم جای پای خود را در این افغانستان پیدا نموده و مستحکم نمود تا کنترل و نظارتی بر این کشورها داشته باشد.

آمریکا، هدف از حضور دایمی خودش در افغانستان را مبارزه دوامدار با طالبان تعبیر میکند. پس به این معنی که طالبان در صحنه جنگ افغانستان پایدار خواهد ماند تا توجیهی باشد برای حضور دوامدار آمریکا در افغانستان.

مفهوم معاهده استراتیژیک افغانستان و آمریکا به معنی تعهد افغانستان بر استراتیژی آمریکاست. نه به مفهوم تعهد آمریکا بر آن چه که در پیشگاه جامعه جهانی و افغانستان متعهد شده بود.

بررسی این پیمان نشان میدهد که دولت آمریکا، از حضور نظامی و نفوذ سیاسی خود در افغانستان، برای تنظیم این پیمان، حداکثر استفاده را برده است. تعهدات طرفین در این پیمان ها نامتوازن، خلاف قانون اساسی، استقلال و حاکمیت دولت افغانستان تنظیم شده است. این پیمان باعث ایجاد ناامنی و مشکلات حقوقی و سیاسی در روابط افغانستان با کشورهای همسایه آن خواهند شد.

**پیمان های امنیتی آمریکا با جهان و اهداف پشت پرده آن**

آمریکاشناسان و تحلیلگران مسایل آمریکا می گویند که جنگ، ماده حیاتی قدرت آمریکایی است. آمریکا با جنگ و در جنگ زندگی میکند.. این جنگ است که ماشین قدرت آمریکا را به حرکت وا می دارد. سلاح های انبار شده آمریکا با وقوع جنگ های بزرگ و دامن زدن به رقابت های سنگین سیاسی و نظامی در جهان، خریداران بیشتری پیدا می کند و این یکی از مهم ترین منابع درآمد اقتصادی، قدرت سیاسی و توانمندی و سلطه نظامی آمریکا در برابر دیگر کشورهای جهان است.

به عنوان نمونه منطقه استراتیژیک خاورمیانه از دیرباز به این سو به یکی از کانون های سنتی قدرت منطقه ای آمریکا بوده است. آمریکایی ها در اکثرکشورهای عربی در خاورمیانه پایگاه های بزرگ نظامی دارند. این بدان معناست که سایه سلطه آمریکا براین کشورها نیز بدون شک تابع قدرت و سلطه نظامی آن کشور در این منطقه بر دولت ها و رژیم های مسلط بر سرنوشت اعراب، اعمال و اجرا می شود.

آمریکا با همه کشورهای عربی به استثنای سوریه و لبنان روابط دوستانه راهبردی و استراتیژیک دارد. این در حالی است که این کشور در عین حال، جدی ترین و بزرگترین حامی رژیم اسراییل هم محسوب می شود؛ رژیمی که ماهیتاً خود را در برابر اعراب تعریف می کند و با غصب سرزمین های عربی و جعل یک دولت برساخته در پی استیلای تمامیت خواهانه بر سرنوشت مردم این منطقه است.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

آمریکا در عین حالی متعهد به حمایت بی چون و چرا و همه جانبه از اسراییل است با اعراب نیز پیمان های دراز مدت امنیتی دارد، به آنها سلاح می فروشد، نیزوی نظامی اش را در آن کشورها مستقر کرده و پایگاه های بزرگ نظامی زمینی، هوایی و دریایی ایجاد کرده است؛ اما د راین تعامل دوگانه یک اصل را همواره مد نظر دارد و آن اینکه سعی میکند موازنه قدرت را همچنان و همیشه به مفع اسراییل حفظ کند و برتری و فاصله پرناشدنی اسراییل و اعراب را همچنان رعایت می کند.

آمریکا از این بازی دوگانه در پی شکار منافع بزرگ سیاسی، اقتصادی و امنیتی است. آن کش.ر می خواهد سلاح هایش را بفروشد، نفت سرشار اعراب را به تاراج ببرد و این همه را با دامن زدن به رقابت های امنیتی در خاورمیانه، به دست میاورد.

بنابراین یکی از انگیزه های اصلی عقد پیمان های امنیتی با اعراب همین است. با کشورهای اروپایی، جاپان، کوریای جنوبی، و دیگر کشورها بیز بسته به میزان منافع آمریکا پیمان های جداگانه ای دارد که به انگیزه های متفاوت برخی از این پیمان های امنیتی را به طور مختصر می پردازیم.

### ۱.کوریای جنوبی:

آمریکا و کوریای جنوبی از زمان پایان جنگ کوریا در سال ۱۹۵۳ متحدان نظامی یکدیگر محسوب میشوند. این کشور میزبان ۲۸ هزار نظامی آمریکایی است.

در اوایل ماه میزان سال ۱۳۹۲ خورشیدی، وزرای دفاع دو کشور برای مقابله با تهدیدات هسته ای کوریای شمالی یک پیمان امنیتی استراتیژیک امضا کردند.

آمریکا برای تعمیم هژمونی نظامی خود و به تبع آن، سودجویی سیاسی، اقتصادی و فرهنگی از کشورهای دیگر و همچنین تامین حضور درازمدت امنیتی و نظامی خود در آن کشورها، اقدام به دامن زدن به یک مسابقعه تسلیحاتی میکند. و برای زیرنظر داشتن رقبای بزرک خود در عرصه بین المللی به ویژه چین و روسیه، حضور نظامی آن کشور در شبه جزیره کوریا ضروری و حیاتی است.

از جانب دیگر، استمرار سلطه نظامی امریکا بر کشور کوریای جنوبی، نیاز به ایجاد یک تهدید واقعی یا غیر واقعی خارجی در شبه جزیره کوریا دارد. آمریکایی ها بارها با اعمال سیاست های برانگیزنده و تحریک کننده سعی کرده اند، دو کوریا را تا مرز جنگی تمام عیار در برابر هم قرار دهند.

ناظران معتقدند که این چنین اقدامات سبب میشود تا همواره کوریای جنوبی، از بیم تهدیدهای کوریای شمالی، خود را مدیون و نیازمند به امریکا احساس کند و به این ترتیب، حضور نظامی و هژمونی و سلطه ایالات

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

متحده در شبه جزیره کوریا توجیه پذیر جلوه پیدا کند. به این ترتیب، واشنگتن قادر است، طی چندین سال دیگر، همچنان بر کوریای جنوبی مسلط باشد و از این رهگذر، به منافع راهبردی و بزرگی در منطقه و جهان دست پیدا کند.

این در حالی است که این کشور نه با کوریای جنوبی به مثابه متحد استراتیژیک خود، تا آنجا همکاری می کند که این کشور از هرگونه کمک خارجی برای مقابله با تهدیدهای کوریای شمالی بی نیاز شود و دیگر ضرورتی به حضور نظامی آمریکا در آن کشور نیز نباشد و نه اجازه میدهد، دو کوریا به یک توافق جامع و مطمئن صلح دست پیدا کنند؛ تا به این ترتیب، سایه هرگونه تهدید و زورگویی و رقابت تسلیحاتی از شبه جزیره برچیده شود؛ زیرا در این صورت، هم بازار فروش تسلیحات امریکایی، سقوط میکند و هم دیگر بهانه ای برای سلطه امریکا بر این منطقه باقی نمی ماند.

**۲. جاپان:**

جاپان یکی دیگر از کشورهایی است که با امریکا پیمان امنیتی و استراتیژیک دارد؛اما روابط جاپان و امریکا فراتر از یک پیمان امنیتی ساده مانند سایر پیمان هایی است که این کشور با دیگر کشورهای جهان دارد. جاپان کشوری تحت الحمایه امریکا و وابسته نظامی آن کشوراست.

جاپان پس از جنگ جهانی دوم که با بمباران اتمی دو شهر ناکازاکی از سوی نیروی هوایی امریکا و فجایع بعدی آن همراه بود، عملا بر اشغال امریکا درآمد و دولت ملی آن کش.ر، در بسیاری از زمینه ها، وابسته و تحت سلطه آمریکا قرار گرفت.

اکنون تعداد نظامیان آمریکایی مستقر در جاپان به حدود ۳۶هزار نفر میرسد که حدود پنج هزار غیر نظامی وابسته به وزارت دفاع امریکا را نیز میتوان به آن اضافه کرد.

حضور نظامی امریکا در جاپان حاصل "پیمان همکاری و امنیت متقابل"بین دو کشور است که طبق آن، امریکا تعهداتی را درقبال دفاع از امنیت جاپان به عهده گرفته است. این پیمان در سال ۱۹۶۰ به امضا رسید و جایگزین "پیمان امنیتی" دوجانبه شد که در سال ۱۹۵۱ و هنگام امضای قرارداد صلح و پایان رسمی "اشغال نظامی جاپان" توسط امریکا و اعاده کامل حاکمیت به دولت آن کشور منعقد شده بود. پیمان سال ۱۹۵۱ اختیارات دولت جاپان در ایجاد توانایی نظامی را محدود کرده و برنامه های دفاعی این کشور را تحت سلطه و نظارت امریکا و این کشور را مسؤول دفاع از جاپان قرار می داد. آمریکا در این پیمان ملزم شده مکه در صورت لزوم، در همکاری نزدیک با نیروهای دفاعی جاپان، از این کشور در برابر حملات دریایی، موشکی و هوایی

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

حمایت کرده و همچنین، امکانات مناسب را برای کنترل رفت و آمد هوایی، امنیت ارتباطات و امدادرسانی در حوادث غیر مترقبه در اختیار طرف جاپانی قرار دهد. به عبارتی جاپان با دادن پایگاه و تعهد شدن هزینه استقرار این نیروها، خود را تحت امنیت چتر حفاظتی آمریکا قرار داد. به این منظور، دولت جاپان پایگاه های امریکایی قرار داده که مهم ترین آنها در جزیره اوکیناوا قرار دارد.

تا سال ۱۹۷۲ اداره امور این منطقه در اختیار نظامیان امریکایی بود و این منطقه عملا بخشی از خاک امریکا به حساب می آمد حضور نظامیان امریکایی در اینن منطقه بارها خشم و اعتراض مردم جاپان را برانگیخته است؛زیرا امریکاییان با استفاده سلطه نظامی و مصونیت قضایی خود در جاپان دست به جنایت های جدی هولناکی در این کشور می زنند. که سبب اعتراضات گسترده گردید تا این نظامیان را خارج سازند.

از زمان خاتمه جنگ دوم جهانی، محدویت های عمده ای را در زمینه وسعت و فعالیت ارتش وضعکرده و این امر، سلطه گسترده نظامی امریکا بر این کشور را اجتناب ناپذیر می سازد.

جلوگیری از حل مسایل دوکشور چین و جاپان در مورد جزتایر مورد اختلاف دیائو یکی از اقدامات تحریک آمیز آمریکا برای استمرار سلطه نظامی و سیاسی بر جاپان است؛ این درحالی است که حضور این کشور همواره با اعتراض های گسترده و خشمگینانه ضهروندان جاپانی در برابر سوء رفتارهای اخلاقی و نقض اصل حاکمیت ملی جاپان توسط نظامیان امریکایی همراه بوده است؛ اما صدای مردم معمولاً در این نوع روابط کمتر شنیده میشود.

**موافقت نامه امنیتی افغانستان – آمریکا**

در حقوق بین الملل پیمان های امنیتی می توانند ماهیت تدافعی – تهاجمی داشته، یا صرفاً یک قرارداد وضعیت نیرو باشند. پیمان های دفاعی، پیمان هایی است که بر اساس آن طرفین متعهد می شود که در صورت حمله بر هر یک از اعضای آن، دفاع از طرف مورد تجاوز را می پذیرند. اکثر پیمان های که در قالب سازمان های دفاعی شکل گرفته مانند سنتو، سیتو و ورشو از نوع پیمان های تدافعی اند.

در پیمان امنیتی افغانستان – آمریکا، این کشور متعهد به دفاع از افغانستان در مقابل تجاوز خارجی نشده است. بلکه صرفاً متعهد گردیده که در صورت وقوع چنین تجاوزی یا تهدید به وقوع ان نگرانی شدید خود را ابراز و به منظور اقدامات بالقوه سیاسی، دیپلماتیک، نظامی و اقتصادی برای تشخیص پاسخ مناسب با هم مشورت نموده و به گونه فوری روی اتخاذ تصمیم مناسب مطابق با قوانین اساسی دو کشور اقدام خواهد کرد. ماده ششم پیمان امنیتی در قالب ٦ بند مسئله تجاوز بر افغانستان و تعهدات آمریکا در این حالت را بیان داشته است.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

در حالی که این کشور در پیمان مشابه با کره جنوبی در سال ۱۹۵۳ تجاوز بر این کشور را تجاوز بر منافع امریکا می داند که واکنش نظامی این کشور را در پی دارد. در معاهده امنیتی میان کوریای جنوبی و آمریکا، ایالات متحده امریکا تعهد مینماید تا ازاین کشور در مقابل هرگونه تجاوز خارجی اقدام نظامی نماید و هرنوع تجاوز بر این کشور به منزله تجاوز بر منافع امریکا قلمداد نماید.

بنابر این پیمان امنیتی افغانستان – امریکا که فاقد چنین قید بوده، بیانگر آن است که از نظر ماهوی یک معاده وضعیت نیرو است، نه یک پیمان دفاعی – امنیتی با ماهیت تهاجمی یا تدافعی. چنان چه جیمز کنینگهام سفیر آمریکا در کابل، طی جلسه ای در ارگ ریاست جمهوری، اعلان نمود که امضای پیمان امنیتی، به خاطر همکاری در خصوص آموزش، مشورت و پشتیبانی از نیروهای امنیتی افغانستان خواهد بود.از آن به عنوان ابزار مداخله در مسائل مرزی افغاسنتان استفاده نخواهد شد. این گفته آقای کنینگهام بیان گر آن است که این پیمان از نظر حقوق بین الملل یک پیمان دفاعی یا تهاجمی دانسته نشده، بلکه ماهیت قرارداد وضعیت نیرو را دارد.

چگونگی امضا موافقت نامه امنیتی میان کابل و واشنگتن یکی از جنجالی ترین موضوع در حکومت حامد کرزی رییس جمهور پیشین افغانستان بود و آمریکا چندین بار برای افغانستان ضرب الاجل تعیین کرد اگر این موافقت نامه امنیتی امضا نشود نیروهایش از افغانستان بیرون خواهد شد.

موافقت نامه امنیتی کابل با واشنگتن بعد از ظهر ۳۰ سپتامبر ۲۰۱۴ میلادی میان مقام های افغانستان، آمریکا در کاخ ریاست جمهوری افغانستان (ارگ) امضا شد. این سند تاریخی، میان "حنیف اتمر"، مشاور امنیت ملی افغانستان و "جیمز کانینگهام"، سفیر آمریکا در کابل امضا شد.[121]

این دو پیمان امنیتی با حضور اشرف غنی احمدزی رییس جمهور افغانستان، عبدالله عبدالله، رییس اجرائی حکومت وحدت ملی و سایر مقام های بلند رتبه افغان و شماری از مقام های امریکایی و ناتو امضا گردید.

متن کامل توافقنامه امنیتی بین دولت های افغانستان و امریکا که یک روز پس از سوگند احمدزی رییس جمهور و عبدالله، رییس اجرائی افغانستان به امضا رسید، طولانی و از حوصله این نوشتار خارج است اما بندهایی از این توافقنامه به قدری تأمل برانگیز است که نه می توان از تاثیرآن بر آینده و چشم انداز افغانستان چشم پوشید.

پیمان راهبردی در هشت بخش و ۳۴ ماده، تنظیم کننده روابط دو کشور، بعد از سال ۲۰۱۴ تا پایان ۲۰۲۴ میلادی، در بخش های اقتصادی، اجتماعی، سیاسی و نظامی است. بخش سوم این پیمان راهبردی، تنظیم

